Afghan Salar Library

پل سوخته

د دنیا پای

د اووه کلن تدریجي مرګ کیسه

نستوه نادري

ژباړن: محمدعمر ستانکزی

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب خانګړنې:

د کتاب نوم: **پل سوخته د دنیا پای**

لیکوال: **نستوه نادري**

ژباړن: **محمدعمر ستانکزی**

خپرندوی: **سروش کتابپلورنځی**

پښتی: **حسیب الرحمن ساحل**

د خپرونو لړ: **۹۲**

شمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

چاپ وار: **لومړی**

چاپ کال: **۲۰۲۲**

ISBN 978-9936-647-66-4

د دې کتاب د چاپ، پر ویبپاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي

ادرس: سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ، د دریېمې ناحیې کوڅې ته نږدې، میرویس میدان «کوټه سنګي» کابل - افغانستان.

Soroch Bookstore ۰۷۸۵۲۰۰۲۱۲

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د لیکوال یادښت

دغه کتاب چې ستاسو په لاس کې دی، لغات او کلمې یې په یوه ویجاړ او له غمونو ډک ښار په څنډو کې د ژوند د هغو دردوونکو او وژونکو تیارو د لیکلو په پار لاس په لاس شوي څو یو متن شي او هغه کړاوونه او دردونه انځور کړي کوم چې تراوسه موږ نه یو ورسره مخ شوي. باید ووایم چې د دغه کتاب له لیکلو څخه زما یواځینی هدف د روږدیتوب په لومه کې د انسانانو د ژوند د پټو اړخونو او د دې ټولنې په مینځ کې زما د اووه کلن تدریجي مرګ د کیسې وړاندې کول دي.

د دې یادابښتونو یوه برخه د پل سوخته په تیارو او ځینې برخې یې هم د روږدیتوب د پرېښودو او درملنې روغتونونو کې له افغانستان څخه ترهنده لیکل شوي دي او وروستی کرښې یې د بشپړې روغتیا او له روږدیتوب څخه د بنه والي پر وخت لیکل شوې دي، هڅه مې کړې ده څو له عامیانه ادبیاتو څخه تر لوړو کوم چې د روږدو، مافیا او مواد پلورونکو په مینځ کې تبادله کېدل کار واخلم، په همدې پار له تاسو قدرمن لوستونکي څخه هیله کوم چې املایي، لیکلې ستونزې یې په ما پورې ونه تړئ.

په خورا درنښت

نستوه نادري

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پیلیزه

«بد مرغي»

کابل سیند د تېپي تمساح په څېر د کابل له زړه څخه ورو ورو د ښار مرکز خواته په حرکت و. کله چې پُل سوخته ته نږدې رسېده، د پله دواړو خواووته هغه راټول شوي او ژوبل شوي اشخاص یې په خپله لمن کې ښوودل چې له ځان سره یې ډېر ژور دردونه او ترخې کیسې پټې ساتلې وې.

پُل سوخته له هغه ښامار سره ورته والی درلود چې سینه یې د سیند په ناولو اوبو پورې نښتې وي او فکر دې کاوه چې پرسینه باندې یې د ناولو اوبو له تېرېدو څخه خوند اخیسته، خوله یې د سیاه چالې (تور سوري) په څېر چې تل یې معلوم نه دی وهم ناکه او ډاروونکې خلاصه وه، که چېرې یې خولې ته د ننه کېدلې هرڅه له منځه تلل ژوند، انسانیت، وخت، ځای، خیال، هیله او نور هرڅه پای ته رسېدل...

هرڅه خپل وروستي گامونه اخیستل او پای ته رسېدل، خو یو څه پیل کېدل: هغه ترخه او وینه بهوونکې کیسه ده چې وروسته په سرطان بدلېده او ټول انساني وجود یې نیوه، د انسان تېر ته یې ورو ورو رېښه ځغلوله چې راتلونکی او برخلیک یې تیاره او تریخ دی؛ پُل سوخته د مقناطیس په څېر داسې قوي و، کله به یې چې تاسو په خپله غېږ کې ونیولی، د هغې غوښې په څېر چې هډوکی یې پوښلی وي په بدن پورې مو نیښته، بل هېڅ ځواک نه شوی کولای چې له منگولو څخه یې تاسو وژغوري، د هغه تیاره سوري په څېر و چې د ژغورلو له پاره مو که هر څومره لاس او پښې وهلی لا ژور تللی او په هغه تاریکۍ کې خښېدلی او درد مو لا قوت مونده.

زه نستوه نادري، د کابل په پل سوخته کې د دردمن ژوندي له بېلگو او د ژوند د تریخ حقیقت له عیني شاهدانو څخه یم، اوس مې وغوښتل هغه څه چې نږدې یوه لسیزه زما د سترگو پرروړاندې واقع شوي دي او وروسته مې په ذهن کې د ژوند د یوې تیارې پدیدې په څېر د روږدیتوب د فولادي قلم او اوسپنیز څټک په واسطه حک شوي دي بیان کړم.

څو وکولای شم چې د مافیایي کابل یو بل تیاره، پټ او نا څرگند اړخ تاسو ته وښیم او تاسو چې تر اوسه پورې د دغه وحشي طوفان منگولو کې نه یې اسیر شوي او تاسو چې تر اوسه پورې د یوه روږدي د دې ټولو بدبختیو مصیبت په اړه نه پوهېږي او لېواله یاست چې پوه شي.

هغه کرښې چې په دې برخه کې لیکم ډېرې دردونکې دي، د دې هرې کرښې د لیکلو له پاره مې ډېر کړاوونه او ستونزې گاللې دي څو و کولای شم چې خپل غم په لیکلې بڼه وړاندې کړلای شم او د هغه خوږو شېبو جبران وکولای شم چې له بده مرغه په ناوړه حالت کې راباندې تېرې شوې دي او یا هغه نړۍ چې زما د سترگو پر وړاندې ترسیم کېږي او غمونه مې یې څوروي چې گیر پکې راغلی وم، زه هڅه کوم چې له ځانه یې لرې کړم او خلکو ته یې ورسوم؛ حیران پاتې یم نه پوهېږم چې د روږدیتوب د تیاره کوهي له کوم ځای څخه پیل وکړم؟! له هرې برخې چې پیل کوم، په پای کې له یوې لویې تراژیدۍ او ذهني کشمکش سره مخ کېږم، هغه داسې ځای و، چې انسانان په کې دردېدل او داسې به پراته وو لکه روح یې چې کډې ترې کړې وي، زه د هغه دردونو ستونزو وړاندوینه نه شم کولای، ځکه ډېرې اوږدې او پلنې ستونزې هلته موجودې وې.

د ټولو سختیو، دردونو او غمونو سره سره چې د دې ټولگې د لیکلو په لړ کې ما ته مخې ته راغلل، بیا هم خوښ یم چې د «پرند» خپرندویه ټولنې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

او مېرمن زحل سیرت په سمون سره مې وکولای شول، چې د چاپ په گاڼه يې سمبال کړم.

دا زما له پاره چې یوه لسیزه مې د بدبختیتو، هېرولو او وېرې کې تېره کړې ده ډېر ستر او ارزښتمن کار دی؛ تاسې درانه دوستان چې دغه لیکنه لولی او هغه نوي تنکي ماشومانو ته مو چې تراوسه د ژوند د ښو او بدو په اړه په څه نه پوهېږي یوه لویه بېلگه او عبرت شي؛ څو د روږدیتوب له منگولو څخه د خپل ځان او کورنۍ د ساتلو په فکر کې شي.

هغه ورځ چې سهار یې سوړ، تریخ او ساه نیونکی و، پر پُل سوخته باندې د طوفان د خاموشۍ چوپتیا خپره وه، کله کله به د قمار وهونکو ښکنځلو دا له مینځه وړونکې چوپتیا ماتوله، وروسته به بیا ځلې د ټولو په رگونو او بدن چوپتیا حاکمه کېده. هر روږدی په یوه څنډه کې سر ښکته ناست او د خپل ځان په اړه سوچ وړی و، په خپلو یادونو کې ډوب و، هغه یو کس چې ماته ډېر نږدې و ترې ومې پوښتل: څه خبره ده؟

وویل: راټولونه راځي، ټاکل شوې وه چې په مخدره توکو روږدو (Finex) د درملنې د زر بستریز او پینځه سوه بستریز روغتونو کار کوونکي راشي، زه هم له ځایه پورته شوم، د ښیښې پیپ مې په لاس کې و، د نیم ساعت له پاره مې پیپ ته ونه کتل، د هغه ورځو په یاد کې لاړم چې هغه وخت زه په نشه يي توکو نه وم روږدی، وروسته مې سترگې له اوښکو ډکې شوې، دردوونکې اوښکې د هغه دردونو څخه چې نه شم کولی ټول دلته بیان کړم.

خپلې شاوخوا ته مې وکتل، چې د تېر په څېر د مخدره توکو پیپ او نی چې خپلې خواته گوري، ژاړي د قمار وهونکو غږونه مو اورېدل، د لویو او گاونډیو ودانیو د سپټیک پایپونو یو ډول ناوړه لوی غږ ټول ځای نیولی و او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بس؛ يو ځلې چوپتيا ماته شوه د نشه يي توکو د يو شمېر کارکوونکو او عسکرو وحشي او نازک غږ ټول پُل ونيوه: " پورته شئ مرده گاوانو، بې ناموسانو، حراميانو، مورگانې، خوينديې او ښځې مو..." .

ټول له خپل ځايه پورته شول او په تېښته بريالي شول، مامورينو په خپل وحشتناک او لوړ غږ ښکنځلې کولې، د پسرلي - زرغون فصل لومړی ورځې وې، د کابل سيند اوبو په بې ساري توگه د مستی څپې وهلې، ډېرو کسانو په اوبو کې ځانونه واچول، اوبو له ځانه سره يوړل او يو شمېر هم د پُل لوېديځ خواته په تېښته کې وو، عسکرو خپلې تمانچې له کمربندونو را وايستلې او ټولو په بېړه ډزې پيل کړې.

زه له خپل ځای څخه پورته شوم غوښتل مې وتښتم؛ چې په ناڅاپي توگه د يوې مېرمنې نرم او لطيف غږ چې له درد او غم څخه ډک و زما پام يې خپل ځان ته واړوه، "نستوه جانه، نستوه جانه، زما لاس ونيسه"، کله چې ځير شوم گورم چې خاله فاطمه وه، د لوړې ونې او ښه هيکل درلودونکې مېرمن چې له بده مرغه حامله هم وه، لاس مې يې ونيوه، څنگ ته يې درې کڅوړې هم ايښې وې.

خپلې کڅوړې يې ماته راکړې او جوړه د پله وروستی خواته هغې خيمې ته چې د پل سوخته د تر ټولو خونړي روږدي د کاکا په زوی يادېده روان شوو، غوښتل مې گړندی لاړ شم چې خاله فاطمې وويل: په کرار...

په ډېر تکليف مو ځان د خېمې داخل ته ورساوه، خاله فاطمې ته مې وويل: دلته کښېنه! که چېرې مامورين راغلل ورته ووايه چې حامله يم او روغتون ته نه شم تللی؛ زه له تا څخه لرې هغه تياره ځای کې پټېږم څو تاته څوک زيان ونه رسوي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

څو دقیقې وروسته د نشه یي توکو کارکوونکي خېمې ته نږدې شول. د خاله فاطمې په لیدو سره په خېمه کې وګرځېدل او زه ناچاره د خېمې له شاه څخه پورته شوم، معروف خان او دری تنه نور کار کوونکي ماته په داسې حال کې رانږدې شول، چې لرګي یې په لاسو کې وو. د دوی له ډلې یوه غوښتل چې ما په لرګي ووهي، خو معروف خان اجازه ور نه کړه. وویل: ورځه د خېمې داخل ته لاړشه، د خاله فاطمې څنګ ته، که هر چا څه وویل ورته ووایه چې ماته معروف خان اجازه راکړې ده. بیا را وګرځېدل او پرلپسې یې څو دزې وکړې.

په نشه یي موادو د روږدو ټول شته یې وسوځول، کله چې د ګاز بالونونو اور واخیست په پرلپسې توګه یې چاودنې کولې، داسې تصور کېده چې پُل سوخته په راکټونو ویشتل کېږي، مامورینو له موږ څخه واټن اخیسته او د روږدو مظلومانه غږونه او چیغې تر لرې پرتو سیمو پورې اورېدل کېدې، خاله فاطمې زما خوا ته وکتل او وویل:

"مننه نستوه جانه، که ته نه وی شاید زما ژوند پای ته رسېدلی وی".

ومې ویل: نه خاله فاطمې ما هېڅ کار نه دی کړی، لوی رب له تاسره مرسته وکړه، زه هسې یوه وسیله او بهانه شوم.

خاله فاطمې تل ډېر تېز عطر کارول، ټوله خېمه د خاله فاطمې د تېزو عطرو بوی په سر نیولې وه، ومې ویل: خاله فاطمې، مور مې چې کوم وخت د انی کیسه راته کوي، وایي: یوه لوړه، سپینه، ښکلې او لوی هیکل لرونکې ښځه وه؛ هر وخت چې تا وینم فکر او احساس کوم چې ته زما هماغه انی یې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خاله فاطمې په ټوکه کې وویل: زه ډېره زړه شوې یم؟ ومې ویل: نه خاله فاطمې ته ډېره ځوانه یې؛ زما لید لوری او احساس ستا پر وړاندې همدا دی.

وروسته مې وغوښتل چې د دې خبرو لوری بدل شي، پوښتنه مې ترې وکړه: ته ولې او څنګه په دې توکو روږدې شوې؟

خاله فاطمې وویل: "د خپل لومړني خاوند له امله، ناځوانه او بې غیرته نور څه ونه شوی کولای پرته له دې چې زه یې روږدې کړم، څو د هغه تابع شم، دا خبرې یې په داسې حالت کې کولې چې له سترګو یې اوښکې بهېدلې".

ویې ویل: زه یوازې یوه نجلۍ نه وم، په خان آباد کې د شاوخوا ګاونډیان او خلک زما مینوال وو، خو یوه سړي چې دوه مېرمنې یې هم درلودې او زموږ په سیمه کې قوماندان و، څو ځلې یې زه په کوڅه کې لیدلې وم او بالاخره یې جرګه راولېږله، ما دې نه ځواب ورکړ، څو چې یوه شپه یې زما پلار په کوڅه کې د ټوپک په قنداغ وواهه" او ویې ویل: که چېرې دې لور ماته را نه کړې، بل ځل دې په مرمۍ په سر ولم، د شپې مې پلار په وینو ککړ کورته راغی او د پېښې په اړه یې کیسه راته وکړه، مجبوره شوم هغه مې د خاوند په توګه ومانه.

وروسته یې چې هر څو کوښښ وکړ چې زه له زړه ورته چمتو او له هغه سره نږدې شم؛ ما یې خبره نه منله او په حقیقت کې مې په هېڅ ډول زړه نه منله چې زه له ده سره نږدې واوسم، څو چې ناروغه شوم او یوه شپه یې هېرویین راته را وړل چې ستا له پاره فلاني «ملا» ته تللی وم او دا دودي (شوېست) یې راکړ چې دود یې کړه، په دې خاطر چې پېریان دې له بدن څخه بهر شي نو دا باید د سیګرېټ په ډول وڅکوې، کله مې چې یو دوه

https://m.facebook.com/groups/182281287129769‌8 https://t.me/Afghansalarlibrary

دوده کش کړل (وخکول) حال مې یې بدل کړ، داسې احساس مې کاوه چې اسمان ته پورته شوم.

ده په چیغو پیل وکړ، هلئ مرسته وکړئ چې مړه کېږي... زه یې هیښ کړم خاله فاطمې خپلې کیسې ته دوام ورکاوه، په همدې وخت کې مې د سختو چیغو غږ تر غوږو شو، له خپل ځای څخه اوچت شوم. له خېمې څخه بهر ته ووتلم، گورم چې دری روږدي کسان د اوبو پرمخ د ساه ورکولو په حالت کې و، اوبو په ډېرې تېزۍ سره هغوی وړل او نورو روږدو چیغې وهلې چې ونیسئ خو هېڅا مرسته نه شوی کولای، ځکه چې اوبه ډېرې او تېزې وې. د خاله فاطمې کیسه پاتې وه... بېرته خېمې ته راغلم، خاله ته مې وویل: وبښئ، چې ته خپه شوې نه وې، نوره کیسه دې راته وکړه، بیا څه وشول؟

ویې ویل: "هغه ناځوانه زه په بشپړ ډول روږدې کړم... موده وروسته یې طلاق راکړ او وروسته مې په پُل سوخته کې له بل چا سره واده وکړ، چې له هغه څخه د اووه میاشتو ماشوم په گېډه کې لرم، خاوند مې یې اوس د جنگلک د روږدو انسانانو روغتون ته بېولی دی.

دا وخت د خاله فاطمې له سترگو اوښکې بهېدلې، ورته ومې ویل: ته اتله یې خاله فاطمې، زما نن له خپل ځان څخه کرکه وشوه، دا موږ نارینه څومره پست او ناوړه کېدلای شوو؟... داسې ظلم خو څوک نه کوي...

څو کسانو غږ وکړ: راټولونه پای ته ورسېده، کله موږ چې پوښتنه وکړه، ټولوونکو سل کسان له ځان سره وړي وو، شل تنه په اوبو کې ډوب او ورک شوي وو او دری تنه یې په ډزو وژلي وو. د دې ترخنگ زرگونه تنه نور ژوږ ډوب شوي وو خو بېرته راختلي وو، ډېر کسان د پل سوخته او روغتون ترمنځ چې کوم واټن دی، په دې ساحه کې وژل شوي او یا هم په ډېر بد

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

حالت کې پراته وو. دا له غم او درد څخه ډکې کیسې په تیاره، سکوت، بې ژبې او ناتوانه ژوند کې پای ته رسېږي او د روږدیتوب (اعتیاد) دغه وحشي ویروس څلور مېلیونه کسان په خپله خیرنه لمن کې رانیولي وو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لومړی کیسه: «زه څه ډول روږدی شوم؟»

په حقیقت کې د خپلو ځواکمنو تلویزیوني خپرونو په لوړه سطحه کې واقع وم، زما پروګرامونه د نورین د څېړنیز او پرمختیایي ژورنالیزم د تېم لخوا چې د هغه په راس کې هم خپله واقع وم، هره اونۍ یې جالبې پېښې رامنځته کولې او زما د پروګرامونو له لارې د نورین تلویزیون رییس هم ستر باور او نوم خپل کړی و، په ورته وخت کې زما برنامو یا پروګرامونو له لارې نورین تلویزیون ته ډېر اعلانونه راتولېدل خو له بده مرغه بیا هم د نورین تلویزیون رئیس زما معاش پر ټاکلي وخت نه را کاوه، په دریو میاشتو کې یې ما او نورو کار کوونکو ته د یوې میاشت معاش را کاوه، د پیسو پرستۍ حس یې ورځ تر بلې زیاتېده او ما په یو ډول سره د نورین تلویزیون د رئیس د ناځوانیو پر وړاندې ځان غلی نیولی و، شهرت هم یو عجیب څیز و، چې زه یې هڅولم څو په خطرناکو پروګرامونو کې ځان څرګند کړم.

یوه خبره وه! که څه هم چې معاش یې په خپل وخت نه راکاوه، خو زه ورځ تر بلې مطرح کېدم او شخصیت مې لا ځواکمن کېده.

محمود رهګذر، د هېواد د سینما ګرانو له جملې څخه و، زه له هغه سره د یوه فلم په پرانیسته کې اشنا شوم، وروسته هغه څو ځلې زه مېلمه کړم، په هغه وخت کې نوموړي په بادام باغ کې یوه کوټه نیولې وه، زه نه پوهېږم چې ده دا کوټه په څه خاطر او څه ډول نیولې وه... زه به یې هر وخت هلته وربللم او په ګډه به مو په نوموړې کوټه کې شراب څښل.

د نورین تلویزیون رئیس په داسې حال کې چې زما د ښو پروګرامونو له برکته یې ډېرې پیسې ترلاسه کولې، هغه به یې په خپلو ساعت تېریو

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مصرفولې، وخت ناوخت به یې تاجکستان ته سفر کاوه او هلته به په مېلو او چړچو ورک و! دی چې کله له یوه سفر څخه کابل ته راغی ماته یې یوه ډالۍ راوړې وه، یوه شپه مې د بابه جانیانو«صوفیانو» په اړه یوه څېړنیزه خپرونه پرلاره اچولې وه، دی هم له تاجکستان څخه افغانستان ته راغلی و، دا وخت زما خپرونې په ژوندۍ بڼه خپرېدې، د خپرونې د لومړۍ برخې له پای ته رسېدو وروسته، د دفتر اجیر (خدمه) ماته سټډیو ته راغی او ویې ویل: رئیس صیب وایي چې کله دې خپرونه پای ته ورسوله بیا زما خواته راشه.

د دفتر په څلورم وروستي منزل کې یې د مهمانۍ ښکلې کوټه درلوده، کله چې د خپرونې لومړۍ برخه پای ته ورسېده، زه هم ورجګ شوم، کله مې چې د کوټې دروازه پرانیسته، ګورم چې له خپلو دوه نورو ملګرو سره ناست دی او په ګرمه هوا کې څلور لینه برېښنایي بخارۍ روښانه ده، دا زما له پاره ډېره جالبه وه، ومې ویل: رئیس صیب څه شوي دي؟ فکر کوم په تبروتنې سره مو د پکې پرځای بخارۍ روښانه کړې ده؟!

مسکی شو، د خپلو ملګرو خواته یې وکتل او ویې ویل: او لېونیه هغه خوند چې په بخارۍ کې دی په باد پکه کې نه شته، وروسته دری واړو وخندل، مایې سترګو ته وکتل چې سترګې یې تنګې یا کوچنۍ شوې وې، لاندې غاښونه یې له پاسنیو غاښونو سره نیښتي وو او په ډېر قوت یې غاښونه پر یو او بل مښل، ترڅو چې د غاښونو د کړپهار غږ یې اورېدل کېده.

رئیس له خپل جېب څخه یوه کوچنۍ کڅوړه راوایسته او وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ښاغلی نستوه! پوهېږې دا هرڅه سل ډالره قیمت لري، بسنه کوي چې له دې څخه یو نوشیجان کړې او په ژوند جنت ته لاړ شې. ومې ویل: قدرمن رئیس صیب دا څه دي؟! ویې ویل: دا تابلېټ «k» نومېږي، فضایي راکټ دی، سړی مستقیم جنت ته بیایي، یو دانه مې ترې واخیست، ګورم چې خړ (خاکستري) رنګ یې درلود بېرته مې ورکړ، ورته ومې ویل: مهرباني وکړئ.

په مسکا سره یې راته وویل چې ستا مال دی، وایې خله نوشیجان یې کړه، ومې ویل: رئیس صیب! زه په تا باور لرم مګر خپله پوهېږې چې زما له نشه یې توکو څخه کرکه کېږي.

په جدیت سره یې راته وویل:

ښاغلی نستوه!

دا مخدر توکي نه دي، ته چې څه وینې دا د رئیسی نشه ده، سل ډالره یې قیمت دی او بیا زه خو کوم خراب شی تا ته نه درکوم.

نه پوهېږم هغه مهال مې ولې په رئیس لیونی باور درلود، ومې ویل: سمه ده رئیس صیب، زه په تاسو باور لرم خو دا کار شاید موږ ټول روږدي کړي، مسکی شو ویې ویل:

ته واخله ووهه د وهلو سر پورته دی... وروسته یې وویل که روږدی شوې مسؤلیت او جرم یې زما په غاړه. ملګرو یې هم وهڅولم او ګولی مې په خوله کې واچوله، دومره ترخه وه، فکر مې کاوه چې د ټولې نړۍ تریخوالی په همدې ګولی کې دی، ګولی مې په خوله کې وه، دوی بیا بیا سپارښتنه راته کوله چې شین چای وڅښه.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

موده وروسته یو ښه احساس راته پیدا شو، د هر گیلاس چای په څښلو سره مې داسې احساس کاوه چې د الله او جنت لوړو ته پرواز کوم. ټوله دنیا په یوځل سره راته لذت ببښونکې او له مهربانۍ ډکه شوه، یو ځل مې احساس وکړ، چې غاښونه مې سره نیښتي دي، ژامو مې درد پیل کړ، سترگې مې تنگې شوې وې په پرلپسې توگه مو چای څښه او له گرمۍ څخه مو خوند اخیسته.

خپل لاسي ساعت ته مې اصلاً ور فکر نه وه، زه د شپې اته بجې له دوی سره یو ځای شوم، هېڅ مې خپل ساعت ته نه کتلي، د شپې اته بجې له دوی سره ملگری شوم، دری نورې شپې مې له هغوی سره تېرې کړې وې، خو زه نه وم ورباندې پوه شوی. د شپې وروستي وختونه و او شپه په ډېره چټکۍ سره تېره شوې وه، داسې فکر مې کاوه چې یوه دقیقه تېره شوې ده، خوب اصلاً نه و، ډېرې بې خوبۍ په ټولو خپلې وزرې غوړولې وې، د سهار تر اووه بجو پورې یو ځای پاتې شوو، اشتها له منځه تللې وه، ما له دوی څخه اجازه واخیسته څو کورته لاړشم، رئیس هم غوښتل چې خپل کورته لاړ شي، وضعیت بلکل بدل شوی و، نشې بې هوښه کړي وو، ډېرې ځان دردی او خستگۍ ټول راگیر کړي وو.

کله چې د نورین تلویزیون انگړ ته ورسېدم، د قدم وهلو نوره شیمه په ما کې نه وه پاتې، ډېره سخته راته تمامېده، زه هغه وخت د نورین تلویزیون د خبرنیز ټیم مسؤل وم، ټولو په نورین کې زه لیدلم او د مدیر صیب په نوم یې غږ را باندې کاوه، زما له همکارانو یو تن نږدې راغی ویې ویل: څه شوي مدیر صیب؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ځواب مې ورکړ: ځان مې درد کوي، زما موټر چلوونکي نثار ته غږ وکړه، نثار راغی ویې ویل: ټوله شپه په دفتر کې پاتې شوی، شمېره مو غلې وه او زه هم خپل کورته لاړم... مور دې څو ځلې اړیکه ونیوله او ستا پوښتنه یې وکړه؛ ما ورته وویل چې نستوه نن شپه په دفتر کې پاتې دی، ما ورته وویل: لاس مې ونیسه خو ده بیا پوښتنې کولې چې ولې څه شوي دي؟ ما ورته وویل: وجود مې ډېر سخت درد کوي، په تعجب سره یې وویل: پرون سهار خو ته رک روغ او نورمال وې، اوس ولې داسې ضعیف شوی یې؟

ما ورته وویل: چې نه پوهېږم لاس مې ونیسه، په موټر کې مې کښېنوه او کورته مې ورسوه؛ موټر له دفتر څخه د کور پر لور په ډېره ګړندۍ توګه په حرکت کې و، خو ما داسې فکر کاوه چې موټر چلوونکی مې اوس هم ډېر ورو روان دی، ورته په غوسه شوم، په لوړ غږ مې ورته وویل: موټر ولې سم نه ځغلوې؟ ده وویل: ښاغلی مدیر صیب له دې څخه زیات تېز تګ (سرعت) یا زما ژوند اخلي او یا هم ستا، د ډېر ژور درد له امله نږدې و چې چیغې ووهم، فکر مې کاوه چې یو ځنځیر لرونکی لوی ټانک زما په وجو له پاسه تېر شوی دی په پښو کې مې ډېر سخت او ژور درد احساسوه.

کورته ورسېدم، دروازه مې وټکوله... چې مورجانې مې دروازه را خلاصه کړه او راته ویې ویل: خیریت و نستوه جانه؟ د شپې ولې کورته رانغلې؟ یوازې همدومره مې ورته وویل: مورجانې ناروغ وم.

خپلې خونې ته لاړم، د ډېرې ژورې ځان دردۍ له امله ویده شوم، د مازیګر شاوخوا شپږ بجې مورجانې له خوبه ویښ کړم، خو بیا مې هم حالت ډېر خراب و او دې ستړیا احساس مې کاوه. هغه مهال د شپې له اووه بجو تر اتو بجو پورې د سلام سرزمین من خپرونه په ژوندۍ بڼه خپرېدله،

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مورجانې مې په خواږه غږ راته غږ وکړ موټروان دې درپسې راغلی دی خپرونې ته نه ځې؟ ورته ومې ويل ځم.

ډېر ستومانه وم، دومره ستومانه چې د کښېناستلو توان مې هم نه درلوده، هوډ مې وکړ چې دفتر ته لاړ شم او رئيس ته ووايم، زه نه شم کولای چې نن شپه خپرونه مخته يوسم، کله چې دفتر ته ورسېدم ومې پوښتل، رئيس چېرته دی؟ ويې ويل: په څلورم پوړ څرخي خونه کې دی، همدغه اتمه شمېره خونه د رئيس وه، په ډېر خراب وضعيت او بې حالۍ سره د رئيس کوټې ته د ننه شوم، ګورم چې رئيس له خپلو هماغه دوه ملګرو سره خوښ ناست دی، برقي بخارۍ ورته روښانه ده او په پرلپسې توګه شين چای څښي. ورته ومې ويل: رئيس صيب! زه نه شم کولای چې نن شپه خپرونه مخته يوسم، په غوسه شو، ويې ويل ولې ښاغلی نستوه؟

ټول خلک په ډېره لېوالتيا سره ستا د خپرونې وړاندې کولو په پار چې د (بابه جانيانو) په اړه ده د انتظار شېبې شمېري، ځواب مې ورکړ: زه ډېر ستومانه او کم انرژي يم، نو په همدې خاطر ما وبښه!

دی مسکی شو، ويې ويل: ووايه چې تېل نه لرم ښاغلی نستوه.

د دوه ملګرو له جملې څخه يې يوه په مسکا سره له خپل جېب څخه بل تابلېټ k راوايست او د پېغور په ډول يې وويل چې دا دي واخله اتيا لېټره تېل، دا ځل پرته له دې چې ووايم نه! نه يې اخلم وا مې خيسته او خولې ته مې واچوله، دومره ترخه وه، چې پوښتنه مه کوئ، څو ګيلاسه چای مې ورپسې وڅښه او وروسته داسې حس راته پيدا شو چې هېڅ خبره نه شته او فکر مې کاوه چې مخکينی ستوماني له دروغو پرته بل څه نه و.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د هغه ماشين په څېر شوم چې کلونه وروسته دويم ځلي روښانه شوی وي، خپل ټول قوت او پرځان اتکا مې بېرته ترلاسه کړه، په ځواکمنه توګه مې د ساعت خواته وکتل چې د شپې دوه کم اووه بجې دي.

رئيس ته مې وويل: زه ځم ستېډيو ته، ويې ويل ورځه لاړ شه، کله چې لاړم ګورم چې د خپروني څو تنه مېلمانه هم راغلي وو، خپرونه مې په ډېره ښه او ځواکمنه توګه پای ته ورسوله، تردې حده قوي خپرونه وه چې د بابه جانیانو ټيم يې ډېر قهرجن کړی و... کله چې له ستېډيو څخه څرخي خونې ته د رئيس څنګ ته راغلم ګورم چې د خپرونې په شمېره باندې د رئيس دفتر ته پرلپسې زنګونه راغلي وو، چې څنګه دې ننه شوم، رئيس په مسکا راته وويل:

اتله! بيا دې انقلاب رامنځته کړی دی، له خپروني دوه ساعته وروسته دفتر ته تلفون ته پرلپسې زنګو راتلل، په څرخي خونه او د حرارت په لوړه درجه کې د تابلېټ k نشه يو ځل بيا ډېره او ځواکمنه شوه، خپل موټروان ته مې زنګ وکړ او ورته ومې ويل چې مور ته مې زنګ ووهه او ورته ووايه چې نن شپه بيا هم نستوه کورته نه راځي کار لري، ته هم خپل کورته لاړ شه، زه نن شپه هم په دفتر کې پاتې کېږم، موټروان مې ډېره جالبه خبره وکړه ويې ويل: مدير صيب! پرون دې هم مور پوښتنې کولې، چې نه پوهېږم په نستوه څه شوي دي؟ ولې دا ډول دی؟ پرون يې حالت ډېر خراب و او تر ډېره ويده و، څه ورباندې شوي دي؟

غوره ده چې کورته لاړ شې مديرصيب، زه ورته په غوسه شوم، ورته ومې ويل زما په کار کې ستا کار نه شته، تلفون مې غلی کړ او بيا هم د تېرې شپې په شان تر سهاره په ډېر خوند تېره شوه. شين چای او «تابلېټ k»

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نشې خپل تاثيرات او خوند درلود، د سهار خواته نشې بيا زور واخيست او پر ټول بدن باندې مې د ژور درد څپه بيا خوره شوه.

وروسته بيا له خپل موټروان سره د کور پر لور روان شوم، موټر ته له پوره کېدو سره سم د درانه خوب څپه راباندې راغله، د کور دروازې ته له نږدې کېدو سره سم موټروان ويښ کړم، په ډېرې ستړيا سره کورته د ننه شوم او مور مې وپوښتل: په دې دوه ورځو کې دې بيخي بدلون کړی دی، په تا څه شوي!؟ ځواب مې ورکړ موريې! ډېرې پوښتنې مه کوه، په دفتر کې مې کار ډېر و، ستړی او ستومانه يم ويده کېږم، وروسته ويده شوم بيا هم د تېر په څېر د مازيگر پينځه بجې وې چې مور مې ويښ کړم، اوس مې مور ډېره جدي وه، په پوره جديت سره يې پوښتنه وکړه: نستوه په تا باندې څه شوي دي؟ نه خبرې کوې، نه ډوډۍ خورې او تر ډېره ويده وې، علت يې څه دی؟ ماته د خبرو هېڅ حوصله نه وه را پاتې، ورته ومې ويل: کارونه او بوختياوې مې ډېرې شوي دي، مور مې وويل: زويه! ته خو په نورو وختونو کې هم بوخت وې، مگر په دې ورځو کې بيخي بل ډول بوخت يې؟!

د مور پوښتنو به داسې بده اغېزه راباندې کوله لکه په سر مې چې څوک په مرمۍ ولي، په غوسه مې ځواب ورکړ: مورې! ته څومره ډېرې پوښتنې کوې، پرې مې ږده، آخر څه خبره ده، په څه پوهېدل غواړې؟ ايا په ما څه شک لرې؟ مور مې په خورا مانا لرونکې توگه وويل:

ستا په اړه هېڅ ډول شک نه لرم، خو د سترگو له څنډې يې په تجسس (کنجکاوانه) توگه راته کتل، له کوره ووتم موټر چلوونکی مې بهر راته انتظار و، کله چې موټر کې کېښناستم زما د موټر چلوونکي کتلو او حرکاتو بشپړ

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بدلون کړی و، بل ډول یې راته کتل، احساس مې کاوه چې د نومورې کتل هم زما د مور د کتلو په څېر مینه ناک او له زړه سوي ډک دي.

په خپل موټر کې د نورین تلویزین خواته روان وم، فکر مې کاوه چې هډوکي مې چا په ماشین کې زبېښلي او د گنیو لرگي په څېر یې انرژي ترې ټوله کړې ده، ځان مې یو متحرک مړی احساسوه، د حرکت له پاره مې په وجود کې انرژي نه وه موجوده او دا تیاره هغه مهال خوره شوه چې زما خپرونه د خپل شهرت په وروستیو څپو کې وه او ورځ تر بلې یې د لیدونکو شمېر زیاتېده.

هغه کسانو چې تېره شپه د نن شپې خپرونې ته د راتگ او گډون په پار اړیکې نیولې وې، ټول مو رابللي وو د انگړ مینځ د خپرونې له لیدونکو څخه ډک و، وروسته د خپلې شعبې دروازې ته په داسې حالت کې نږدې شوم چې اصلا د حرکت له پاره هېڅ ډول انرژي زما په بدن کې نه وه پاتې، ومې غوښتل چې څرخي خونې ته د رئیس خواته لاړ شم، گورم چې د خونې دروازه تړلې او رئیس نه شته، حیران پاتې وم چې څه وکړم، په همدې وخت کې د قندآغا بای په نوم یو شخص چې د رئیس ملگری و د څرخي اتاق څنگ ته راغی، هغه راته وویل رئیس خو نه شته، ماویل وضعیت مې ښه نه دی، امکان نه لري چې زه دې خپرونه وچلولی شم.

ده پوښتنه وکړه: څه درباندې شوي؟

ومې ویل: بای صاحب ټوټې ټوټې یم، حیران پاتې یم چې څه وکړم، رئیس گورم چې یوه ټوټه « تابلېت k» راکړي، خو له بده مرغه هغه نه شته او زه مجبور یم چې خپرونې ته لاړ شم، قندآغا بای مسک شو او راته وویل:

هغه څه یاد کړه چې پیدا نه شي، له ماسره چې وې، هېڅکله نه خوارېږي، گورم چې له خپل جبب څخه یې راوایسته، ویل یې دا ده له وروز سره دې شته، یوه دانه گولۍ یې راکړه له کوم ځنډ پرته مې سم لاسي خولې ته واچوله، په ډېره بیړه یې راته وویل:

او لېونیه!

ټوله ونه خورې، دا خبره یې هغه وخت راته وکړه، چې ما گولۍ ترستوني ښکته کړه او معدې ته تیټه شوه، لس دقیقې لا نه وې پوره شوې، ما داسې حس وکړ لکه تازه چې زېږېدلی او دې نړۍ ته راغلی وم، د یوه مست آس په شان یوې او بلې خواته گرځېدم فکر مې کاوه چې د نړۍ تر ټولو قوي او توریالی انسان همدا زه یم.

له ځان سره مې ویل: اوس مهال زه کولای شم چې له «لسو» کسانو سره وجنگېږم، په بېړه د سټېډیو خواته لاړم، گڼ شمېر خلک په خپرونه کې د گډون په موخه راټول شوي وو. د بابه جانیانو (صوفیانو) ټولو مخالفینو او ملاتړو شتون درلود، کله چې سټېډیو ته ورسېدم او خپرونه پیل شوه، جم جوش او هیجان د خوښۍ وزرې غوړولې وې.

بحث هر اړخیز، جالب او د لیدونکو د علاقې وړ و، د بابه جاني ملاتړو ویل چې خپرونه ودروئ، خو موږ له کوم بندیز پرته د خپرونې نشراتو ته دوام ورکاوه او خپرونه په ښه زور کې پرمخ روانه وه، ترڈې چې د بابه جانیانو مخالفین او ملاتړي یو له بل سره نیښتې ته نیږدې وو، خو موږ اجازه نه ورکوله.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د خپرونې د تلفون شمېره چې تل به له رئیس سره وه او د هغه له لارې به مو له خلکو غوښتل چې په راتلونکو شپو کې په خپرونه کې برخه واخلي. د نن له پاره خپرونه پای ته ورسېده، خوله مې ډېره وچه وه، شین چای او تودې هوا ته مې سخت زړه کېده، له ستېډیو څخه مې په بېړه د رئیس د کوټې په لوري حرکت وکړ، کله چې خونې ته ورسېدم هوا یې ډېره ګرمه او په زړه پورې وه.

رئیس د اړیکو په ځوابولو چې په پرلسپې توګه د خپرونې شمېرې ته راتلې بوخت و، قند آغا بای چې زه کله ولیدم وویل: (خدای دې مه کموه زمري یې، «راشه چې د نن شپې خپرونې په خاطر یوه ډالۍ درکړم» ګورم چې یوه بله تابلېت k یې راکړه، ما د هماغه تابلېت k په نښې سره په اسمانونو کې چکر وهه، ناڅاپي رئیس تلفن غلی کړ، مسکی شو او ویې ویل: ښاغلی نستوه! ستا د خپرونې د مراجعینو له لاسه په خدای بیخي لېونی شوی یم، دومره زیات زنګونه راځي چې اړ شوم تلفون غلی کړم. څه دې کړي ښاغلی نستوه؟ ومې ویل هېڅ هم نه دي شوي رئیس صیب، یوازې نن ډېر ستومانه او بې حاله وم، قند آغا بای ته دې خدای خیر ورکړي خپرونې ته د راتګ پرمهال یې یو تابلېت راکړ، د همدې تابلېت له برکته خپرونه هم ښه منظمه او په ډېره چټکۍ مخته لاړه.

رئیس وویل: ښاغلی نستوه، سبا شپه دې په خپرونه کې استاد ظاهر داعي مېلمه دی، هڅه وکړه چې سبا شپه دې هم بحث مخته یوسې، امکان لري خپرونه یو څه جنجالي وي، خو بیا هم ته ملا ورته وتړه، ماویل سمه ده، خو رئیس صیب اوس کورته ځم، ځکه څو شپې کېږي چې کورته نه یم تللی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له ټولو سره مې مخه ښه وکړه او ډېر خوښ وم چې په جیب کې مې یو بل تابلېت هم پاتې دی، له څرخي خونې څخه بهر شوم د دفتر انګړته راغلم، موټر چلوونکی مې د دفتر د انګړ مینځ کې انتظار و، راته ویې ویل: مدیرصیب کورته ځې؟ هو، ځم.

له نورین څخه مو حرکت وکړ، موټر چلوونکي ته مې وویل چې د حیدر سلیم هماغه سندره پرېږده، د موټر ښیښې پورته کړه او بخاری هم روښانه کړه ویې ویل: مدیر صیب څه وایې؟ په دې ګرمۍ کې د موټر بخاری روښانه کړم؟

ورته ومې ویل: هو!

ویې ویل: زه خو له ډېرې ګرمۍ څخه مرم او ته... ما ورته وویل: ورځه د خپل کور څنګ کې کوز شه او کورته دې لاړ شه، موټر ماته راکړه ،نن شپه خپله ځم، کور یې قلعه وزیر کې و، دی مې د کور څنګ ته ښکته کړ او موټر ته زه خپله کښېناستم، د موټر ښیښې مې بندې کړې، بخاری مې روښانه کړه، هوا ډېره ګرمه شوه، د حیدر سلیم سندره مې ښه په لوړ غږ پرېښوده او په چټکۍ سره مې حرکت وکړ؛ زړه مې ونه شو چې کورته لاړ شم، ځکه خو بېرته د شهرنو په خوا راتاو شوم، وروسته قلعه فتح الله، کلوله پشتې، تایمني، خیرخانې ته هم ولاړم بالاخره د کور پر لوري روان شوم؛ په داسې حال کې چې د بدن له «خولو» څخه مې د موټر څوکۍ لنده شوې وه، د شپې دولس بجې کورته ورسېدم، مورمې دروازه راته خلاصه کړه خوبوړې وه، کله چې له موټر څخه ښکته کېدم ویې لیدم او ویې ویل: په تا څه شوي؟ په ټول بدن دې خولې راروانې دي، موټر دې هم دومره ګرم دی، چې حرارت یې ترما پورې رارسېږي؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ومې ویل: هېڅ شی نه دي شوي مورې، ومې غوښتل چې مورته مې مالومات ورکړم، ورته ومې ویل: څه چې له حویلۍ څخه خونې ته لاړ شوو، هلته هرڅه درته وایم... کوټې (خونې)ته چې ورسېدو ورته ومې ویل: مورې وزن مې ډېر شوی دی، څو ورځې کېږي چې یو ډول نوي تابلېټ راغلي، چې کله یې سړی وخوري وزن هم کموي او له خوړلو وروسته یې سړی ښې خبرې کولای شي، د دې ترڅنګ انسان ډېر غښتلی کوي، دا تابلېټ اویا ډالره قیمت لري، له رئیسانو، لوړ پوړو چارواکو او پیسه داره خلکو پرته یې بل څوک نه شي خوړلی، مور مې په مهربانۍ سره وویل: زویه هغوی قاچاقبران دي، پیسې او ملکیت لري ته یې ولې خورې او خپل ځان خرابوې؟ بیا یې راته وویل: (زویه دا د نشه یي توکو تابلېټ ښکاري!)

ځواب مې ورکړ: مورې دا مخدره توکي نه دي او روږدیتوب هم نه لري، ډېر دلایل مې ورسره وویل خو مور مې بیا هم قناعت نه کاوه، ومې غوښتل لاړ شم او ویده شم، په داسې حال کې چې خوب نه راتله ځکه دې مستۍ او نشې په وروستي حد کې وم، د یوه کتاب له پاره مې سل ډالره درلودل، هماغه مې را واخیستل او په تمثیلي توګه مې تلفون غوږ ته ونیوه، له ځان سره مې ویل هو، هو! د ستېډیو کلۍ زما سره ده، که ډېره اړتیا نه وي سبا به یې دروړم؟ اوس مهال اړ یم چې له کوره څخه بیا بهر شم او لاړ شم، « مور ته مې وویل: مورجانې! د ستېډیو کلۍ له ماسره پاتې شوې ده همدا اوس باید لاړ شم ځکه ډېره ضرور په کار ده، مور مې په شک کې ولوېده، ځکه بهانه مې د مور له پاره د منلو وړ نه وه...

په هر صورت موټر مې چالان کړ او د چایو ترموز مې راسره راواخیست؛ د موټر بخارۍ مې روښانه کړه او د حیدر سلیم سندره مې هم تر وروستۍ

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

درجې پورې لوړه کړه؛ ورو ورو مې حرکت وکړ کارت پروان ته له رسېدو سره سم مې د موټر ټانکی له تېلو ډکه کړه له جیب څخه مې د ډالرو سلګون راوایست، خپلې پیسې یې ترې واخیستې، نورې یې بېرته راکړې. داسې فکر مې کاوه چې اسمان ته الوځم، موخه او هدف مې نه و معلوم خو بیا هم په ټول ښار کې وګرځېدم، د ملا له آذان وروسته د شپې تاریکی خپل تور ټادر ورو ورو ټولوه، د رڼا څرک ولګېده، په دهبوریو کې یوه حمام ته لاړم، حمام مې وکړ؛ د سهار اووه بجې شوې د لوږې احساس مې کاوه، نصیب رستورانت ته لاړم، پاچه مې وخوړه، له خپل موټر چلوونکي سره مې اړیکه ونیوله، ورته ومې ویل: له کور څخه دې را ووځه تر هغه زه هم در رسېږم...

کله یې چې کورته نږدې شوم، د موټر چلولو اجازه مې هغه ته ورکړه، موټر چلوونکی مې کښېناست او ویې ویل: «چېرته وې مدیر صیب؟»

ورته ومې ویل: نن شپه مې وغوښتل چې چکر ووهم، موټر چلوونکي مې وویل: مدیرصیب! پوره یوه ورځ موټر درسره و، د موټر حالت دې بېخي وربدل کړی، سم نه ځغلي، او کرېهار پکې ډېر شوی دی؛ ایا ته له خپل مال سره هم همداسې بې احتیاطي کوې؟: ځواب مې ورکړ: په کیسه کې یې مه اوسه، لالا هڅه وکړه ګړندی لاړ شه چې ژر کورته ورسېږم.

له قلعه وزیر څخه د ملا عزت تر ښار ګوتي پورې خوب راباندې راغی، ویده شوی وم، د کور له دروازې سره مې موټر چلوونکي راویښ کړم، کله چې له موټر څخه ښکته شوم، ګورم چې د موټر د مخې خوا یو څراغ او اشاره مات شوي دي؛ زما د خوا دروازه هم چیته شوې وه، همداسې نور زخمونه د موټر په ځینو برخو کې ښکارېدل، موټر چلوونکي مې راته وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

(د موټر غم باید وخوړل شي، په یوه شپه کې دې توټې توټې کړي دی.)
ورته ومې ویل: په کیسه کې یې مه اوسه، جېب ته مې لاس کړ، زر افغانۍ راسره پاتې وې، هغه مې ورکړې، ورته ومې ویل: واخله لاړ شه خپل کورته دې، که دې څه په کار و درته وایې خله، بیا پینځه بجې په ما پسې راشه.

ډېر بې حاله او ستومانه وم؛ دروازه مې وټکوله، مور مې دروازه را خلاصه کړه، سلام یې واچوه، نور یې څه ونه ویل... زما له پاره یې هم ارزښت نه درلود چې خواب را کړي یا یې را نه کړي، اوس ما ته یوازې دا مهمه وه چې ویده شم، لاړم په خپل ځای کې اوږد وغځېدم، پینځه بجې مې مور ویښ کړم، له پاځېدو سره سم هغه تابلېټ k چې قندآغا بای راکړې وه، خولې ته مې واچوله او ورپسې مې دوه درې گیلاسه چای هم وڅښه، لږ رابیدار شوم، جامې مې واغوستې، د چاینو ترموز مې هم واخیست غوښتل مې له کوره ووځم نا څاپي مې مور مخې ته ودرېده او ویې ویل: زویه! په دې حالت کې چې زه تا وینم ډېره وېرېږم، الله دې نه کړي داسې نه شي چې کومه ورځ روږدی شې، مور ته مې وویل: دادِه او ارامه اوسه په ما هېڅ هم نه کېږي.

دفتر ته راغلم، گورم چې د تېرې شپې په پرتله گډونوال زښت زیات راغلي وو، له رئیس سره مې اړیکه ونیوه، ورته ومې ویل: رئیس صیب! د نن شپې خپرونې ته شاوخوا دوه سوه کسان راغلي دي، څه وکړو؟ ویې ویل: «هېڅ ستونزه نه شته ټول لویې سټېډیو ته بوځه چې لس یا پینځلس کسان یې بحث وکړي، په همدې مهال مې چې مراجعین لویې سټېډیو ته بدرگه کول ډېر نشه وم، خپرونه په ژوندۍ بڼه پیل شوه، د کابل پوهنتون دروند ښوونکی او تکړه عالم «استاد عبدالظاهر داعي» هم راغلی و او د بابه

جانیانو په اړه یې ټولیز مالومات وړاندې کړل؛ ویې ویل: «دوی یوه مشرکه، مرتده او فاسده ډله ده» له دې خبرې سره یو ځای د نارې تکبیر غږ پورته شو، ګورم چې «دوه سوه تنه بابه جانیان» چې د خپرونې د مراجعینو د هیئت په ډله کې راغلي وو، په ما او استاد داعي باندې یې حمله وکړه ژوندۍ خپرونه قطع شوه، هغوی په جېبونو کې کاڼي راوړي وو، خپلو دستمالونو ته یې هم اور واچاوه...

کله یې چې پرما او استاد داعي باندې حجوم را وړ نو په ډېره سختۍ سره مې ځان او استاد داعي له ستېډیو وایسته، ګورم چې د تلویزیون ګاردان یې هم ډبولي او انګړ له بابه جانیانو ډک دی؛ د کنټرول روم ستېډیو یې هم په خپله ولکه کې راوستې وه، پرلپسې یې ښکنځلې کولې، چې د تلویزیون د رئیس ښځه... د نستوه ښځه ... د داعي ښځه... دوی کافران دي.

پر تلویزیون یې دومره تیرې وویشتلې چې روحیه مو په بشپړ ډول له لاسه ورکړې وه، زه، رئیس او استا داعي په درېیم پوړ کې و، په دویم پوړ کې مو زموږ خواته د دوی د راتګ د مخنیوي په پار یوه وسلواله دفاعي کرښه جوړه کړه، رئیس له «جنرال فهیم قایم» سره چې هغه وخت د ځټک غبرګون قوماندان و په اړیکه کې شو، شېبې وروسته جنرال فهیم قایم ډېر ژر د پېښې ځای ته راورسېده، د پولیسو رنجرو له لیدو سره سم د بابه جانیانو پلویان په تېښه بریالي شول، خو د تلویزیون د ودانۍ او ستېډیو ټولې شیښې ماتې شوې وې، استاد عبدالظاهر داعي ډېر ډار شوی و، په دې چورت کې و چې څه ډول خپل کورته لاړ شي؟ موږ ډاډ ورکړ چې ان شاءلله هېڅ ستونزه نه شته. خوندي به خپل کورته رسېږي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

حالت تر کنټرول لاندې راغی، جنرال فهیم قایم د تلویزیون انګړ ته راغلی و، له موږ څخه یې وپوښتل « څه خبره ده؟ چاته خو زیان نه دی رسېدلی؟»

ورته ومو ویل چې زموږ څو تنه ساتونکي یې د چاقو په واسطه ټپیان کړي دي، په همدې وخت کې ایوب سالنګی چې د کابل امنیه قوماندان و، له جنرال ظاهر ظاهر سره یو ځای تلویزیون ته را ورسېده. ایوب سالنګی ډېر په غوسه و، ځکه دوه اونۍ وړاندې مو څو انتقادي خپرونې د ده په اړه درلودې، د تلویزیون دهلېز ته چې ورسېده په لوړ غږ یې وویل: څه خبره ده؟ تاسو بیخي له پایښې راایستلی دی، له نورین پرته بل تلویزیون په افغانستان کې نه شته؟ ستاسو له لاسه هېڅ په کرار نه یوو.

رئیس د سالنګي خواته راغی، له لاسه یې ونیوه او خپل دفتر ته یې له ځان سره بوتله، جنرال قایم، د کابل د ملي امنیت رئیس او جنرال ظاهر ظاهر چې د کابل د جنایي جرمونو د څېړنې رئیس و ټول د رئیس دفتر ته لاړل. وروسته له دوه دقیقو څخه یې زه هم ور وغوښتم، ورغلم کښېناستم ګورم چې زما مخامخ څوکۍ کې ایوب سالنګی ناست دی، ناڅاپي په غوسه شو ویې ویل: « اې لچکه، لنډغره!! ته چا په دې تلویزیون کې د ویاند په صفت نیولی یې؟ وېښتان دې د لچکانو په څېر دي، له هېچا شرم نه لرې، له یوې خوا خلک ښکنځې، بې پته کوې یې او له بلې خوا د مجاهدینو خبرې کوې، څو مرمۍ دې په کونه خوړلې دي، چې د جهاد خبرې کوې؟ ما ورته وویل: جنرال صیب! سړی باید په کونه مرمۍ وخوري بیا دې جهاد په اړه خبرې وکړي؟ د سالنګي غوسه دوه برابره شوه.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ويې ويل: «لعنت دې وي پردې ډيموکراسی چې هر لوچک وياند شوی دی، چې ته خو په خبريال او وياند نه وی مشهور او د رسنيو د سانسور خبره نه مطرح کېدلای، قوماندانی ته مې بېولې، داسې سزا مې درکوله او داسې مې ډبولې، چې پوه شوی وای چې د خلکو بې پته کول او ښکنځل يانې څه.»

د خپل رئيس خواته مې وکتل، هغه هم له سالنگي څخه ډېر ډار شوی و، زما تمه وه چې ننگه او دفاع به مې وکړي، خو ډېر غلی او وېرېدلی ولاړ و، يوه خبره يې هم ونه کړه؛ مگر جنرال ظاهر ظاهر سالنگي ته وويل: «قوماندان صيب! نستوه جنايي مجرم نه دی، که يې جرم هم کړی وي موږ بايد له هغه سره د سياسي مجرم په چوکاټ کې چلند وکړو.»

ويې ويل: «نه؛ دې څه شي سياسي مجرم؟ دوه دری سوه کسان يې ټلوېزيون ته را ټول کړي، که کوم څوک وژل شوي وای او ياهم تلويزيون ته اور ورته شوی وای، ايا بيا له رسنيو څخه خوندي پاتې کېدو؟»

غږ يې نور هم پورته شو، ويې ويل: اې اوږدو زلفو واله! د دې څو جنرالانو په مخکې درته وايم: که مې د يوې اونۍ په موده کې بندي نه کړې، زه خپل نوم گرځوم، تا د هرچا په اړه خپرونې جوړې کړې دي، زما په اړه دې هم خپرونه نيولې وه، ته ما نه پېژنې؟! زه ايوب سالنگی يم.

ورته ومې ويل: سمه ده قوماندان صيب، زه د ويلو له پاره څه نه لرم په همدې شببه کې جنرال «ظاهرظاهر» خپل لاس زما پر اوږه کېښود او ويې ويل: «گران نادري! هڅه وکړه چې خپرونې دې لږ ټولنيزې کړې، ډېر تېز

او تند پروګرامونه هم تاسو خرابوي او هم پولیسو ته ستونزې رامنځته کوي.»

د همدې جملې په ویلو سره هغوی لاړل او وضعیت خپل لومړني حالت ته راوګرځېده؛ ټیپي ساتونکي او کارکوونکي یې روغتون ته بېولي و، دری څلورو تنو کار کوونکو استاد داعي خپل کورته بېولی و، رئیس بشېړ غلی و، له خپل دفتر څخه و ووت او ماته یې وویل: د دې خپرونې شاه نور پرېږده، دا خلک ډېر ګواښوونکي دي.

ومې ویل: سمه ده دا خبرې یې چې ماته وکړې، د خپلې ځانګړې خونې په لور روان شو، دی به په دې کوټه کې کله یوازې و او کله به یې هم ملګرې/ ملګري ورسره وو. تلفون مې له جېب څخه راوایست، چې ګورم شل زنګونه راغلي دي، په دې کې ډېر زنګونه د سینما د ملګري محمود رهګذر وو، زنګ مې ورته وواهه، له سلام مخکې یې په لوړ غږ وویل:

نازم ان مشتی که فرق زور مندان بشکند

بشکند دستی که بازوی ضعیفان بشکند

چېرې یې شاه نستوه؟ خپرونه مې دې کتله، یو په یو قطع شوه، تشویش راته پیدا شو، چې کومه پېښه نه وي شوې.

ورته ومې ویل: نه، خیریت دی، هېڅ ستونزه نه شته.

ویې ویل: اې هلکه نستوه، ته خو اوس له یوه ویاند څخه ډېر لوړ په یو رهبر بدل شوی یې، پوهېږې؟... «یو نفر در باندې مئین شوی دی، هغه دې تاجکستان اوسېدونکی دی.»

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ویې ویل: دا دي واخله خبرې ورسره وکړه، ما پوښتنه ترې وکړه، څوک دی؟ ناڅاپي د يوې نجلۍ غږ راغی، چې په بشپړه تاجکي لهجه يې خبرې کولې، ويې پوښتل: چېرې يې قوماندان صيب؟ تا خو زه له تاجکستان نه په خپل ځان مئينه کړم، اوس دې مجبوره کړې يم چې افغانستان ته درشم، نه غواړې چې يوځل دې دا مئينه له نږدې ووينې؟ حيران پاتې وم چې څه ووايم، محمود رهگذر تلفون واخيست راته ويې ويل: نادري صيب خپروني هم ستومانه کړې يې، راځه نن شپه يو محفل ونيسو، په يوه بهانه به خپله مئينه هم ووينې، ما پوښتنه ترې وکړه: ښاغلی رهگذر چېرته درشم؟

پته يې راته دويم پروان، زينت فرنيچر راکړه، ما هم وعده ورسره وکړه چې درځم.

کله چې په موټر کې کښېناستم د تابلېټ k ټوله «نشه» را څخه لرې شوې وه، خپل موټر چلوونکي ته مې وويل: ځه چې دويم پروان زينت فرنيچر ته لاړ شوو، ځواب يې راکړ: مدير صيب! مور دې اړيکه نيولې وه، ورته ومې ويل چې خلکو پر نورين تلويزيون حمله کړې او استاد «ستا پلار جان» هم ډېر اندېښمن دی.

خپل تلفون مې راواخيسته مور ته مې زنگ وواهه، ورته ومې ويل چې بابه جانيانو پر تلويزيون حمله کړې وه، لږ پاتې و چې ما او رئيس ووژني؛ خو وژغورل شوو، د هغوی تر تعقيب لاندې يم نن شپه کورته نه شم درتلی، ځم له يوه ملگري سره د هغوی کورته، مور مې راته وويل: سمه ده « په خپل ځان دې ډېر پام کوه»

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له مور سره مې د اړیکې تر پرې کېدو وروسته د ملګرو له جملې څخه یوه تن چې د کابل امینه قوماندانۍ کې و، نوم یې زما له یاده وتلی، هغه زنګ راته وواهه او ویې ویل: اې هلکه نستوه په خپل ځان پام کوه، ایوب سالنګي د حوزو ټولو آمرینو ته ویلي دي چې که نستوه لږ سرغړونه وکړي، نو ګیر یې کړئ او دوسیه یې رسمي کړئ! زه پوه شوم چې دا سړی هسې بهانه راته جوړوي او نیسي مې. ورته ومې ویل سمه ده، وروسته مې د ملګري اړیکه پرې کړه، ګورم چې رهګذر بیا اړیکه ونیوه، خو دا ځل دی خپله نه و بلکې هماغه تاجکي نجلۍ وه، هغې راته وویل: کوم ځای ته را رسېدلی یې زما مینې راتګ دې زما له پاره لکه د یوه کال په اندازه دومره ځنډنی شو، بېخي ډېره دې په انتظار پاتې شوم، وېرېږم چې تر راتګ پورې دې بوډۍ نه شم.

ما ورته وویل: اوس در رسېږم، تشویش مه کوه، اړیکه مې پرې کړه زینت فرنیچرته چې نږدې شوم محمود رهګذر ته مې زنګ وواهه ورته ومې ویل: ښاغلی رهګذر! زه له زینت فرنیچر سره ولاړ یم، دلته را رسېدلی یم، خو یوه ستونزه موجوده ده چې ایوب سالنګي ما ځاري، که لږ تېروتنه وکړم بندي کوي مې، مسکی شو ویې ویل: راځه د کورنیو چارو - وزیر زور هم په تا نه رسېږي، هغه خو یو عادي قوماندان دی. بیا یې وپوښتل: چېرته یې؟

ورته ومې ویل: د زینت فرنیچر مخې ته ولاړ یم، ده وویل خی ستا له پاره چې ته وایې وضعیت ښه نه دی موږ در ښکته کېږو او څو زما د یوه ملګري کورته، ورته ومې ویل: سمه ده زه درته انتظار یم، پینځه دقیقې وروسته محمود رهګذر له دوه نجونو سره له زینت فرنیچر څخه را ښکته شو، زه او موټر چلوونکی هم له موټر څخه راښکته شولو، ګورم چې تاجکي نجلۍ

ډېره لوړه ونه لري، سپینه، چاغه او له ما ښخه ډېره قوي وه. په ما يې چې سترګې ولګېدې، کلکه غېږ يې راځينې چاپېره کړه، ټينګ يې ونيولم او ښه زور يې راکړ، راته ويې ويل: زما مينې! ته څنګه يې؟ په ليدو دې ډېره خوښه شوم...

رښتيا به ووايم: زه يې سخت ترتاثير لاندې راوستلم، ډېر زړه راښکونکي عطر يې وهلي وو، زه يې په غېږ کې داسې کلک کړم، فکر مې کاوه چې په لاسو کې يې اوبه شوم، وروسته يې په مخ ښکل کړم، موټر چلوونکی مې هم په څنګ کې ولاړ و، هغه وپوښتل « دا څوک دی قوماندان صيب؟» ما ورته وويل: زما موټر چلوونکی دی، زه يې پرېښوم، په هغه يې ورمنډه کړه، هغه يې هم په مخ ښکل کړ، رهګذر چې له بلې نجلۍ سره ولاړ و، زموږ ننداره يې کوله، را نږدې شو او ويې ويل: « دا نجلۍ په تاجکستان کې زما له دوستانو ښخه ده، تل به يې ستا نوم په خوله و، ما ته به يې تل ويل: کاش دا ځوان مې يوځل له نږدې ليدلی وای، بالاخره مجبوره شوه، ستا د ليد په خاطر کابل ته راغله، دا بله مېرمن هم د دوستانو له ډلې ده، موږ خپل موټر کې سپرېږو او ته موږ څاره.»

موټر يې حرکت وکړ، تاجکې نجلۍ هم د رهګذر په موټر کې سپره شوه، کله چې لارې ته ووتلو، موټر چلوونکي مې وويل: «مدير صيب! دا دې ظالم لور څومره ښکلې ده، ما په کابل کې تراوسه داسې ښکلې نجلۍ نه ده ليدلې» بيا يې وويل: دا دې مدير صيب! «موږ خبر نه يو او په تا څومره نجونې مئينې دي.»

موږ په همدې خبرو مصروف وو، چې د رهګذر موټر د نوآباد دهکيپک په يوه کوڅه کې د ننه شو او لږ وړاندې له موټر ښخه ښکته شوو: « دروازه يې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

را خلاصه کړه، محمود رهگذر ته د کور ځښتن وویل: لکه چې ډېر مېلمانه لرې؟.»

کورته ټول د ننه شوو، د کور د ځښتن هېڅ تمه نه وه چې زه به په داسې ناڅاپي توگه د ده کورته ورځم، دا سړی له ځېرې نه ډېر دروند او ښه سړی معلومېده، زما موټر چلوونکي وویل: مدیر صیب که چېرې د شپې دلته پاتې کېږې نو زه هم کورته نه ځم همدلته درسره پاتې کېږم. ومې ویل: ستونزه نه شته پاتې شه، د رهگذر ملگري وویل: په خیر راغلی درنو دوستانو، ښایسته انجونو ته یې په ځانگړي ډول ښه راغلاست وویل، ما ته هم، نادري ښه راغلاست زموږ غریبانه کورته ښه راغلاست، ما هم مننه ترې وکړه وروسته یې وویل: څه مو خوښېږي؟ په پخلنځي کې قورمه لرم او یو بوتل ودکا هم شته، ورېندار مو له اولادونو سره د پلار کره تللې ده.

ما ورته وویل: د دومره ښو خوړو موجودیت او پوښتنه!؟

کله یې چې دستر خوان اوار کړ، تاجکی نجلی له خپل ځایه پورته شوه ترځنگ مې کښېناسته، مخ مې یې را ښکل کړ ویې ویل: « زه څومره خوشبخته انسان یم، چې نن شپه د خپل عشق ترځنگ ناسته یم.»

محمود رهگذر او بله تاجکی نجلی سره مسک شول، د رهگذر ملگري وویل: دغه ده نادري صیب په ټول ژوند کې یوې نجلی هم زموږ خواته ونه کتل، مگر ته وگوره چې ستا مئینانې آن له تاجکستان څخه ستا لیدو ته راځي! دوډی کېښودل شوه د ودکا بوتل په ځښلو مو پیل وکړ، نوي نشه شوي وو چې ځښاک (شراب) خلاص شول.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د رهگذر ملگري ووېل: تاسو په کور کې اوسئ، زه د ښاغلي نادري له موټر چلوونکي سره په څښاک (شرابو) پسې ځم « زه پاتې شوم، له رهگذر او دوه تاجکي نجونو څخه مې وپوښتل، رهگذره؟ له تاجکي نجونو سره د ملگرتیا څه ډول اړیکه لرې چې درته راځي؟

ده د نجلۍ خواته وکتل، دواړه مسکي شول او وروسته یې ووېل: له اړیکو اړیکې جوړېږي ښاغلی نادري، د دې خبرو په کیسه کې مه کېږه وگوره مئینه دې څه درته وایي!؟

تاجکۍ نجلۍ په خبرو پیل وکړ ویې ویل: « څېره مې دې ډېره خوښېږي، اندام دې هم ښه دی، خو یوه ستونزه لرې؛ خېټه دې لږ غټ ده، خیر دی د دې درملنه هم ماسره شته دا ناوړه شراب هم سړی بدرنگ کوي، نو ډېر شراب مه څښه.»

ومې ویل سمه ده نه یې څښم، خو په دې وختونو کې تابلېټ K خورم، بیا مسکۍ شوه ویې ویل: موږ ډېر ښه تابلېټ K لرو، چې په کارولو سره یې هم لږ ډنگرېږې او هم دې څېره(جلد) روښانه کېږي او همدارنگه زموږ دا تابلېټ K هېڅ ډول روږدیتوب (اعتیاد) نه لري. چې یو ځل یې ووهې او خوند یې وگورې بیا به تل له همدې څخه کار اخلې.

پوښتنه مې ترې وکړه: څه ډول دي؟ گورم چې له خپل دستکول څخه یې د شیشې یو پیپ راوایسته، په ژوند کې مې لومړی ځل و چې د شیشې پیپ مې ولیده، پوښتنه مې ترې وکړه: دا څه شی دي؟ ویې ویل: هغه تابلېټ چې موږ یې کاروو اړتیا نه شته چې په گرم ځای کې کښېښې او چای ورسره وڅښې، وروسته یې له خپل دستکول څخه یو کاغذ راوایست،

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کاغذ یې پرانیست، گورم کوچنۍ تېږې چې له نبات سره یې ورتوالی درلود، وروسته یې د پیپ په مینځ کې واچولې او تر پیپ لاندې یې لایټر روښانه کړ، شېبه وروسته یې له خوله څخه ډېر غلیظ دود بهر شو... پیپ یې محمود رهگذر ته ورکړ او ویې ویل: وا دې پرې بچیه! قربان دې شم په دې ډول سلطنتي تابلېټ K، رهگذر هم څو دوده کش کړه، د بلې تاجکۍ نجلۍ نوبت راغی هغې هم وواهه او ویې ویل: څومره خوند لري، ورک دې شي ناوړه شراب او نورې نشې، چې دا وکاروې پوهېږې چې خوند څه دی!؟

پیپ او لایټر یې ماته راکړل ومې ویل: زه یې نه څکوم، زه یې وینم دا دود لري او مخدره توکي دي، درې واړه مسکي شول، رهگذر وویل: نادري صیب! ته ډېر پوه یې خو بیا هم ډېر ساده انسان یې، دا کله دود لري؟ هغه ټول بخار دی دود له کومه شو!؟ او بیا په افغانستان کې کله دا ډول نشه شته، که وي هم عادي خلکو ته بیا کله رسېږي او که چېرې ممکنه هم وي نو بیا کله کولای شي چې دا ډول پیپ د ښاپېرۍ له بچیانو سره وڅکوي. نا څاپي تاجکۍ نجلۍ وویل: زما نوم شعله دی، ما ټول تاجکستان کې اور(شعله) رامینځته کړې ده، کوم خلک چې زما مینوال دي او غواړي چې له ماسره لیدنه وکړي، زه یې د لیدلو له پاره وخت نه لرم، خو ستا له پاره له تاجکستان څخه راغلې یم او بیا ته نه غواړې چې د خپلې معشوقې له لاسه یو دوه دوده ووهې. موږ هم خوشحاله کړه، زه له تا سره ستا د ځوانمردۍ له امله مینه لرم، که یو دود ووهې څه کېږي!؟ فرض کړېږ دا په اصل کې یو درمل دی، د هغه چا له پاره چې له سلگونه مېتره

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لرې واټن او بهرني هېواد څخه ستا د مینې په خاطر راغلې، بیا هم نه غوارې چې خبره یې ومنې او په خوښه یې یو یا دوه دوده کش کړې!؟

ما ورته وویل: مشعل جانې اوس دې چې زما د ځوانمردۍ په اړه وویل، را کړه چې ویې څکوم، ویې ویل: نه، زه یې درته نیسم ته یې یوازې وڅکوه نوکره دې ژوندۍ ده.

د پیپ سر یې زما په خوله کې دننه کړ، وروسته یې تر پیپ لاندې د اور لمبه ونیوله او لومړی دود مې کش کړ، ومې ویل: بس دی. هغې وویل: نه، حداقل لس یا یوولس دوده وڅکوه، څو پوه شې چې څه شی دې څکولې، کله به یې چې پیپ راته نیوه ځان به یې ډېر ماته نږدې کاوه، سینې به یې زما پر مټ ونېښلولې او دوامداره حرکتونه به یې ترسره کول، درې دوده مې چې کش کړل، د شرابو نشه یې زما له سره وایسته، لکه څرنګه چې دې مخکې راته وویل: چې دا شی ډېر خوند لري او تر تابلېټ k ښه شی دی، رښتیا هم همداسې وه، خوند یې څو برابره ترې ډېر و، دا وخت مې فکر او حوس راژوندی شو او له نجلۍ سره ډېر صمیمي شوم...

محمود رهګذر وویل: «دادي نادري صیب! موږ دې هېر کړو، دې یارې دې بیخي ته له موږ خپل کړې، ټولې خبرې له هغې سره کوې او موږ هېڅ شوو.»

تاجکۍ نجلۍ وویل: غلی شه محمود احمقه، نه مې پرېږدې چې له خپل لومړني عشق سره څو کلمې خبرې وکړم؟

بیا یې پیپ زما په خوله کې را د ننه کړ او ترپیپ لاندې یې اور ونیوه، هغه لمبه یې چې تر لایټر لاندې نیوله، زما له ژوند یې لمبه جوړه وله، همدا وخت و چې د محمود رهګذر ملګری زما له موټر چلوونکي سره را

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورسېده کله چې کوټې ته را د ننه شو، ویې ویل: او خلکو څومره دود دی، دا دود خو د سیګرېټ د دود په شان نه دی نو دا د څه دود دی؟

رهګذر وویل: د تابلېټ k دود دی ملګري یې وویل چې تابلېټ k خو دود نه لري.

رهګذر وویل: لري یې. د مشعله جانې تابلېټ k دود لري.

ویې ویل: څه ډول دی؟ کله یې چې د شیشې پیپ ولیده په لوړغږ یې وویل: د خدای له پاره! سمدستي یې وپوښتل نادري ته خوبه مو نه وي ورکړي؟

ورته ویې ویل: چې مشعله جانې ورته ورکړ.

د رهګذر ملګری په غوسه شو، ویې ویل: نادري ولې دې وڅکول؟

ورته ومې ویل: ولې؟ ستونزه نه لري، ما د خپل رئیس ترمخ هم « تابلېټ k » خوړل، راته ویې ویل: وه وروره دا تابلېټ k نه دي، دا شیشه ده چې انسان تبا کوي او له منځه یې وړي.

رهګذر وویل: نستوه وروره دا سړی نشه دی او لېوني شوی دی؛ دا سړی له هېڅ ډول ستونزې سره نه مخامخ کوي.

ورته ویې ویل: رهګذره څنګه چاته ستونزه نه پېښوي، رهګذر وویل: وه ورورره یوه شپه دې کورته راغلي یوو، نصیحت دې شروع کړی دی؟

ملګري یې وویل: زما یوازې یو ویل و درته بس، وروسته یې زما خواته په مانا لرونکي ډول وکتل او ویې ویل: نادري صیب! جنازه دې په کوم جومات کې ادأ کړو؟ د کڅوړې له مینځ څخه یې دوه بوتله اېپسلوټ را وایستل، چکه یې هم راوړې وه، د ټولو په ګیلاسونو کې یې څښاک (شراب) واچول، رهګذر وویل: موږ ته څښاک (شراب) مه اچوه موږ معیشت او پاچاهي کوو، په سړه سینه یې وویل: نوشیجان مو شه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مخ یې وګرځاوه او زما موټر چلوونکي ته یې وویل: وروره نه یې څښې؟
موټر چلوونکي مې وویل: نه!
خپله یې تر هغه وڅښل څو چې نشه شو، تاجکی نجلۍ هم ماته په پرلپسې ډول څښاک (شراب) اچول، د رهګذر ملګري د یوه ګیلاس په څښلو سره ورته وویل: «ډېره بدبخته او فاحشه ښځه یې په دې هېواد کې مو یو تکړه ویاند درلوده، هغه دې هم له موږ څخه واخیست.»
رهګذر مسکی شو او ویې ویل: نادري صیب! کومه خبره نه ده، نشه شوی دی. د شرق او غرب په کیسه کې هم مه اوسه، ته دې خپله نشه وکړه، ځکه چې د نن شپې نشه به دې بیا په ټول ژوند کې هم پیدا نه کړې.
تاجکی نجلۍ د هر پیپ په څکولو سره ورو، ورو زما خواته ځان نږدې کاوه، د رهګذر ملګري راته وویل: پاځه نستوه! چې یوه شخصي خبره درسره لرم.
له خپل ځایه پاڅېدم، ترلاس یې ونیولم او بلې کوټې ته یې بوتلم، دلته یې زما په اوږه لاس راکېښود او راته ویې ویل: دغه محمود د تاجکو له دې طبقې سره ډېره قوي اړیکه لري، کیسه یې بیا درته کوم، نن شپه په ډېره اسانۍ سره درباندې بریالي شول، شیشه یې درته درکړه، پام دې وي! که تاجکی نجلۍ هر ډول سکس حرکت ترسره کړ، پروا یې ونه کړې، ځان لرې ترې ساته، ځکه که په اېډز ګرفتار شې بیا به څه کوې؟
بېرته خپلې کوټې ته راغلو، نجلۍ راته وویل: زما عشقه! له ما څخه مه لېرې کېږه او د نشه یي سړي په خبرو باور مه کوه.
بیایې پیپ را واخیست او ما هم بیا پیپ په خوله کې ونیوه او په خوند مې خپله شیشه څکوله.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د شپې شاوخوا دوه نیمې بجې وې، زما په موټر چلوونکي خوب راخور شو، رهګذر ته زنګ راغی، اوکې یې کړ او ویې ویل: هو قوماندان صیب، له موږ سره دی... په سترګو قوماندان صیب...

له خپل ځایه پورته شو، ویې ویل: نادري صیب یو بېړنی کار را ته پیدا شو، زه له نجونو سره ځم او ډېر ژر بېرته راګرځم.

ومې پوښتل: څېرته؟

ویې ویل: «اړین کار دی، بېرته چې راغلم، بیا درته وایم»

تاجکۍ نجلۍ وویل: ستا صدقه شم! ژر راځو او بېګاه دې لخیره ښه چاپي کوم، له ځایه پورته شول او لاړل، د رهګذر ملګری ویده و او زه هم یوازې شوم؛ غاښونه مې یو له بل سره ډېر ژور نیښتي وو، نه پوهېږم چې د څه په اړه مې فکر کاوه، د شیشې نه موجودیت راته زړه بوږنوونکي تمام شو، دقیقې مې شمېرلې چې کله بېرته راګرځي، دې سهار رڼې څپې راخورې شوې خو د دوی حال معلوم نه شو... بالاخره د سهار اته بجې شوې خو بیا یې هم پته ونه لګېده زما موټر چلوونکی او د رهګذر ملګری له خوب څخه را پاڅېدل، ملګري یې پوښتنه وکړه: ویده نه شوې؟

هو، نه پوهېږم ولې هېڅ خوب رانغی، ویې ویل: چې د ناوړه شیشې همدا خاصیت دی، چې خوب له منځه وړي، نادري صیب ښه کار دې ونه کړ! شیشه دې وڅکوله که خدای مکړه روږدی شې ته او کورنۍ دې تباه کېږي.

د سهار نهه بجې وې، چې د رهګذر هېڅ مالومات ونه شول، ما د رهګذر له ملګري سره په څښاک (شراب) څښلو پیل وکړ، څه کم یو بوتل مو وڅښل، چې رهګذر او ملګرې یې راغلل، هماغه تاجکۍ نجلۍ زما خواته راغله ښکل یې کړم او ښښنه یې وغوښته، د شیشې پیپ یې بیا راوایسته او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا ځل یې بیا څو قوي دودونه راباندې کش کړل، د شرابو او شیشې ګډې نشې زه بېخي د لېونتوب ترحده ورسولم.

د رهګذر له کور څخه ووتلو، موټر چلوونکي مې ډېر جدي کنټرولولم، په ډېرې سختۍ سره مې کلی ترې واخیسته، څو خپله موټر ته کښېنم، اجازه یې نه راکوله خو له ډېر ټینګار وروسته یې موټر چلولو ته پرېښودم، په ډېر سرعت سره د کور پر لور روان شوو. د پولیسو له پینځمې امنیتي حوزې سره امنیتي چک پاینټ لاس راکړ، ډېر ژر ودرېدم د پینځمې امنیتي حوزې آمر چې هغه وخت د مشتاق په نامه و، هغه هم دلته ولاړ و، ما له ټولو سرتېرو سره روغبړ وکړ، د نشې په حالت کې وم، د هغوی لاسونه مې ښکلول، په لوړ غږ مې وویل: ستاسو رېښتینو زامنو لاسونه د ښکلولو دي او د آمر لاسونه مو چې یو خاین دی، باید پرې شي.

د حوزې آمر وویل: ولې نه!؟ په خدمت کې یم... ملګرو ته یې امر وکړ چې ما ونیسي او په بند خونه کې مې واچوي، ملګري یې په ما را ټول شول، کش یې کړم او په یوه تیاره خونه کې یې واچولم، دلته دومره ژور خوب راغلی و چې څو ساعته ویده وم، په ناڅاپي توګه یوه صیب منصب له خوبه پاڅولم، څو ځلې یې ټکان راکړ، څو په خود راشم... ویې ویل: وروره! د موجودی په وخت کې سړی باید ویښ وي.

نشه مې نه وه لرې شوې: ومې ویل: موجودي یانې څه؟

ویې ویل: « د څارخونې موجودي! دا څارخونه ده او د بندي خانې د قوانینو په اړه دې له ملګرو پوښتنه وکړه.»

له موجودی وروسته دری کسان زما خواته راغلل، ویې ویل: غم مکوه نادري صیب، موږ درسره یوو، په کیسه کې یې مه اوسه په نارینه دا ورځې راځي، د خبرو په جریان کې له دوی څخه یوه ډېر ورو او په احتیاط سره

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له خپل جېب څخه د شیشې پیپ راوایسته او څو دوده یې وڅکول، ما هم هیله ترې وکړه چې یو دود راکړي. ویې ویل: مهرباني ستونزه نه شته.

څو دوده شیشه مې چې وڅکوله، لږ په حال راغلم خو ښه خبره دا وه، چې ټولو زه پېژندلم، له یوه صیب منصب څخه مې وغوښتل چې ما د ښارخونې قوماندان ته ورولي.

ورغلم او ومې پوښتل: قوماندان صیب! زه په کوم جرم دلته بندي شوی یم؟

ویې ویل: د خښاک (الکولو) په څښلو او د عامه نظم د اخلال په تور.

ومې ویل: څومره وخت دلته پاتې کېږم؟

ویې ویل: « دلته نه پاتې کېږې بلکې له دې ځایه توقیف خونې ته بېول کېږې او له هغه ځای څخه د څرخي پله زندان ته وړل کېږې، چې پایله یې شپږ میاشتې زندان تېرول دي نور کومه ستونزه نه شته، دا خو ژر تېرېږي.» «زه حیران پاتې شوم، بېرته خپلې کوټې ته راغلم، هغه درې توقیف شوي کسان لا هم همدلته پراته وو، د دوی له جملې هغه کس چې ما ته یې څو دوده شیشه راکړه، بیا یې پیپ راوایسته.

ده خپل پیپ له سپینو لوله یي ګروپونو څخه جوړ کړی و، ویې ویل: نادري صیب! ته یې څکوې؟

ورته ومې ویل: هو؛ ولې نه!

شیشه مې څو دوده کش کړه وروسته مې ورته وویل: وروره! په دې زندان کې پرلپسې څکول ستونزمن دي، ته دومره پیسې له کومه کوې؟ ویې ویل: له سره دې ځار، له تا څخه زیاتې نه دي، په داسې حال کې چې په ښارخونه کې دوه درې دوده شیشې پینځه سوه افغانی قیمت درلود.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

درې ورځې وروسته مې موټر چلوونکی پوښتنې ته راغی: ویې ویل:
هماغه شپه مو چې موټر له حوزې څخه وایسته او په لومړی ورځ یې چې
ته نیولی وې ځوکسانو ایوب سالنګي ته زنګ وواهه خو خلاص یې نه کړې.
اوس یو څو ورځې همدلته اوسه، څو ځینې خندونه له منځه لاړ شي.

رئیس ته مې زنګ وکړ، ویې ویل: « دوسیه دې رسمي کړې ده، هماغه
شپه دې ونه لیدل چې ایوب سالنګي څه وویل!؟ خو وویل: که مې په یوه
اونۍ کې بندي نه کړې، نوم مې ګرځوم.» سربېره پردې چې پوهېدې
وضعیت خراب دی، ولې خپل کورته نه تللې!؟ اوس مالومه نه ده چې څه
کېږي؟ که دې چېرې دوسیه ښارنوالۍ ته لاړه شي، لوی ښارنوال هم په
غوسه دی، ځکه د هغه په اړه دې هم ډېرې خپرونې خپرې کړې دي.
مالومه نه ده چې څه بلا به درباندې راولي!؟

د رئیس له اړیکې وروسته مې روحیه ډېره ضعیفه شوه، حیران پاتې وم
چې څه وکړم!؟ یوې څنډې ته لاړم، په زنګونو باندې مې سر کېښود او ډېر
سخت مو وژړل...

بیا هماغه شیشې واله ملګری را پیدا شو، ویې ویل: خپه کېږه مه هرڅه
به سم شي، د دنیا هر کار کېږي، که شیشه وهې راځه چې لاړشو، په
تشناب کې څوک نه شته، هلته یې په خلاص مټ کشکولای شوو، ما ورته
وویل: سمه ده؛ لاړو په تشناب کې مو په ګډه شیشه وڅکوله، شپې او
ورځې همداسې تېرېدې، یوه اونۍ تېره شوه، چې بیا مې موټر چلوونکی
لیدو ته راغی او راته ویې ویل: « رئیس صیب کوم کار ونه شوی کولای،
دوسیه دې لویې ښارنوالۍ ته تللې ده، اوس یوازې ستا پلار جان ستا د
خلاصون هڅې کوي، څو کسان یې په موضوع پوه کړي او سپارښتنه یې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورته کړې څو لوی څارنوال ستا د خلاصون امر ورکړي، خو داسې معلومېږي چې د هغوی خبره یې هم نه ده منلې نو صبر وکړه هرڅه به وشي.»

څو ورځې وروسته مې موټر چلوونکی بیا راغی او ویې ویل: پلار دې ستا د خوشې کولو په پار د حامد کرزي دفتر رئیس کریم خرم ته ورغلی دی، شاید یوه نتیجه ورکړي.

د موټر چلوونکي له تګ وروسته د څارخونې په لاسپیکر کې غږ وشو چې خپلو نومونه ته متوجې اوسئ! د چا چې نومونه اخیستل کېږي هغوی توقیف خونې ته لېږدول کېږي. لومړی نوم نستوه، د پلار نوم یې نصرالله، چمتو اوسه، وروسته یې د ډېرشو کسانو په تعداد توقیف خونې ته ولېږدول، زما دې واده لا ډېر وخت نه کېده، په زړه کې مې وویل: که چېرې زه په زندان کې پاتې شم څه به وشي!؟

توقیف خونې ته چې ورسېدو، د شیشې خمار راباندې راغلی و، حیران پاتې وم څه وکړم، له هلکانو څخه یو زما خواته راغی او ویې ویل: ډېرکسان زما مینوال دي او په توقیف خونه کې هر کار زما له پاره ترسره کولای شي.

له هغه مې وپوښتل، ایا شیشه پیدا کولای شې!؟

زه یې له میرویس خال دار سره معرفي کړم، هغه زما په معرفت خوښ شو او یوه اونۍ یې ماته په توقیف کې شیشه راکوله.

یوه ورځ مو یو ګرام شیشه په ګډه ووهله، ډېر نشه شوی وم، چې په همدې حالت کې د توقیف خونې له لوډ سپیکر څخه غږ پورته شو: «نستوه ولد نصرالله جامې دې ټولې کړه ته ازاد یې.» هېڅ باور مې نه کېده، بهر ته

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ووتلم، ګورم چې پلار مې د باندې زما له پاره انتظار دی، کله مې چې په پلار سترګې ولګېدې، سخت تر تاثیر لاندې راغلم او ډېر شرم احساس مې کاوه، یوه خبره دا وه چې زه ولې بندي شوی یم او بل دا چې له بده مرغه اوس روږدی شوی وم. پلارمې راته وویل: بچو! څه چې څو کورته.

کله چې کورته ورسېدو، ویې ویل: سبا لوی څارنوال اسحاق الکو خپل دفترته غوښتی یې، دوه بجې به ورشوو.

ومې ویل: سمه ده، لاړم او ویده شوم...

سبا چې له خوب څخه پاڅېدم ټول وجود مې درد کاوه له موټر چلوونکي سره مې لاړم د لوی څارنوال ښاغلي الکو دفتر ته، نوموړي له ماسره ډېر ښه او په درنښت چلند وکړ، ده وویل: ډېرو کسانو ماته زنګ وواهه چې ازاد دې کړم، بالاخره مې د کریم خرم په غوښتنه ازاد کړې، دلته مې د دې له پاره راوغوښتې څو خبرې درسره وکړم، په یاد دې دي چې د کریم خرم پرضد دې څومره خپرونې نیولې وې!؟ په یاد دې دي چې د یوې ځانګړې ډلې له پاره دې په خلکو باندې حمله کوله، خو هماغه ډلې ونه شوای ژغورلی بلکې هغه څوک دې چې تخریبول هغوی وژغورلې!؟

د ټولنیزو ستونزو له امله زه لا تراوسه نه یم توانېدلی چې خرم صیب وګورم او یوه مننه ترې وکړم. وروسته د تلویزیون خواته لاړم، دلته بل څه پېښ شوي وو، همکارانو مې کیسه راته وکړه، چې ستا د نیولو په خاطر له لویې څارنوالۍ څخه پولیس راغلي وو، څو تا ونیسي او بندي دې کړي، خو له نېکه مرغه عام ولس د دوی مخنیوی وکړ او په خپله مخه لاړل، خو دا چې ایوب سالنګي زه په فرېب او دوکو بندي کړم هېڅا هم څه ونه شوی کولای، د ایوب سالنګي پلان داسې و چې هېڅوک مانع نه شوی واقع کېدلای نو زما د بندي کولو مخه به یې څنګه ډپ کړې وای؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ناڅاپي مې ترخنګ یو موټر ودرېده، څو کسان له موټر څخه راښکته شول، کله مې چې وکتل محمود رهګذر او د هغه دریو ملګرو ډېر تود روغبړ راسره وکړ، محمود رهګذر راته وویل:«چېرې یې هې ناخراباته» له هغې شپې چې لاړې ترننه دې بیا پته ونه لګېده؟ ما ورته وویل: ایا ته خبر نه شوې چې زه بندي شوم او دا څو شپې په زندان کې وم!؟

ویې ویل: زه خبرشوم خو له بده مرغه په تاجکستان کې وم او مهمه دا چې شعلې ډېر یادولې.

په څواب کې مې ورته وویل: الله دې دا هلاکه کړي، زه خو یې په شیشه روږدی کړم، رهګذر مسکی شو، ویې ویل: وه وروره په شیشه کې سلطنتي نشه ده، څه وایې ته!؟ د خدای له پاره پرته له دې چې څه ورته ووایم، زما د موټر په مخ سېټ کې کښېناست او وروسته یې خپلو ملګرو ته وویل: تاسو په موټر کې لاړ شئ زه درځم. زه هم په موټر کې کښېناستم، ده پوښتنه راڅخه وکړه: شاه نستوه څه خبرې دي؟

ورته ومې ویل: هېڅ، له جېب څخه یې پیپ راوایسته ویې ویل: واخله چې اصلي کولمبیایي دي، اورېدل مې، حس کول مې او فکر مې کاوه چې له ټول بدن څخه مې شیشه! شیشه! شیشه! چیغې پورته کېږي.

له رهګذر سره مې په موټر کې ډېره شیشه وڅکوله او وروسته کورته لاړم؛ نور مې کار کولو ته زړه نه کېده، له کار کولو څخه ستړی شوی وم، ځکه په میاشتو، میاشتو یې د کار کوونکو معاش نه ورکاوه، د رئیس او د ده د کار کوونکو ترمنځ د شک فضا ببخي پراخه شوې وه، له رهګذر سره زما لیده کاته ورځ تربلې زیاتېدل...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یو سهار له کور څخه د وتلو پر وخت زما پلار زه خپلې کوټې وروبللم. ویې ویل: مور او مېرمن دې وايي: موږ فکر کوو چې ممکن ته په نشه يي توکو باندې روږدی شوی يې، خو زه يې نه منم، ځکه پوهېږم چې ته هوښيار يې، خو که واقعًا په دې ناورغی اخته شوی وې ووايه چې په يوه روغتون کې دې بستر کړو.

ما وويل: نه پلاره! دا څه ډول خبرې دي چې ته يې زما په اړه کوې!؟ زه بشپړ په خپل حال يم او له داسې شيانو کرکه لرم.

بې معاشی او د پيسو نه موجوديت زما په ژوند کې ورځ تربلې يو ډول ګډوډي رامنځته کوله، ما خپل موټر چلوونکي ته هم معاش ورکاوه، په همدې نه شته امکاناتو کې ما کوښښ کاوه چې معاش يې پر خپل وخت ورکړم. موټر چلوونکی مې پوه شوی و، چې زه د هلاک کېدو په درشل کې يم، وروسته له نهه مياشتو زما د نيمې مياشتې معاش چې پينځه سوه ډالر کېده رئيس راکړ، هماغه شپه مې چې دوه سوه ډالرمعاش ورکړ اختر ته دوه شپې پاتې وې ويې ويل: موټر واخله زه لږ سودا کورته وړم، سبا يې زنګ راته وواهه، زه دې کور تر دروازې درځم، غواړم نور موټر درته تسليم کړم.

ومې ويل: سمه ده، خو له همدې خبرې وروسته يې درک ونه لګېده، په کومه شمېره به چې مخکې ما اړيکي ورسره پالل، هغه يې مړه کړه، همداسې ترننه پورې له ما څخه بې درکه دی. له دې مسئلې وروسته زه له خپل موټر سره په نورين تلويزيون کې يوازې پاتې شوم؛ اوس مې نو د ژوند هره شېبه له وحشت او سرګردانۍ ډکه وه، ښاغلي رئيس زما دې خېروني له برکته په تالقانو - تخار ښار کې د دوه مېليونه ډالرو د سړک جوړولو پروژه پيل کړې وه، د دې پيسو ډېره برخه ترلاسه کړې وه او په

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پنجشېر ولایت کې یې یوه یوولس پوړیزه ودانۍ چې سل خونې یې درلودې جوړه کړې وه، دی به همېشه په همدغه ځای کې بوخت و، ماته ډېره جالبه دا وه چې رئیس ناڅاپي ولې داسې له حده لوړې خبرې کوي!؟ ساعتونه ساعتونه یې یو ډول کیسې کولې، کار کوونکو ته به یې دومره خبرې کولې او ډاډ به یې ورکاوه، چې ټول ترې ستومانه شوي وو کار کوونکي بې معاشه مګر پخپله په پنجشېر ولایت کې د خپلې ودانۍ د جوړولو په خاطر یې ډېرې پیسې مصرفولې، ډېری وخت به په کابل کې نه و.

زما به هم چې هر وخت زړه وه تلویزیون ته به تلم، محمود رهګذر زه یوه ورځ دویم پروان د پهلوان فهیم سید خېلي هوټل ته بوتلم، د کاکا عزیز سید خېلي په نوم له یوه کس سره یې معرفي کړم، وروسته له هغه به هره ورځ د کاکا عزیز سید خېلي هوټل ته تلم او هلته به مې شیشه څکوله، په ډېره لوړه کچه مصرف به مو کاوه تردې اندازې په دې مرګونې ماده اخته شوی وم، چې خلاصون مې هسې یوه معما وه، رئیس به چې کله کابل ته راته، ورسره لیدل مو، زه هم پوهېدم چې رئیس شیشه وهل پیل کړي دي او هغه هم زما په اړه پوهېده، دا چې هغه چا دې کار ته هڅولی و نه پوهېږم، تردې حده مفلس (بې پیسو) شوی و چې د کار کوونکو د غرمې، شپې او سهار له پاره یې له نانوایۍ څخه د وچې ډوډۍ د اخیستلو پیسې نه درلودې.

هغه مهال ما خپل پام په مجازي نړۍ فېسبوک کې نشراتو ته کاوه، زما د فېسبوک پاڼه زما د همکارانو له ډلې د حشمت غني په نوم کس لخوا جوړه شوې وه، په هغه پاڼه کې ټولو فعالیت کاوه او رئیس یو ډول ضد اخیسته؛ ما په فېسبوک کې د رزمنده ګان په نوم یوه پاڼه جوړه کړې وه، د

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

(کابل کوزین) هوټل په اړه مې یوه ډېره زړه راښکونکې خپرونه جوړه کړې وه، چې زما د پاڼې نشراتي ځواک یې لوړ کړی و، په همدې شپو ورځو کې مې رئیس ته ووېل: رئیس صیب! تر کومه وخته له تاسره بې معاشه پاتې شم!؟ رئیس ته به دې چې کله د معاش په اړه یادونه وکړه نو د سبا په اړه به یې ګرمې او نرمې وعدې درکولې، چې سبا ستاسو حق درکوم، خو بیا به هم سبا د معاش په اړه هېڅ خبر نه و، په دغه پرلپسې ژمنو باندې ورځې تېرېدې، هغه ورځ مې له یاده نه وځي په کومه ورځ مې چې د تېلو د نه موجودیت له امله موټر په تلویزیون کې پاتې شو، پنځوس افغانۍ نه پیدا کېدې چې یو لېتر تېل واخلم او موټر له دفتر څخه کورته بوځم، اخر له دریو ورځو ځنډ وروسته رئیس پینځه سوه افغانۍ راکړې، څو پینځه لېتره تېلورباندې وپېرم او موټر ته یې واچوم، ومې غوښتل چې د کابل کوزین خپرونې د دوام له پاره په خپله پاڼه په ژوندۍ بڼه خبرې وکړم، یوه شپه په همدې خپرونه باندې بوخت وم چې زنګ راته راغی، ویې ویل: ودې پېژندلم؟

ځواب مې ورکړ: نه! ویې ویل خال دار میرویس یم، توقیف خانه دې په یاد ده چې هره ورځ به دې له موږ سره شیشه څکوله.

ومې ویل: نه؛ میرویس جانه! خوښ شوم چې له بند خونې خلاص شوی یې، چېرې یاست؟

ویې ویل: «شهرنو» ومې ویل: زه هم همدلته یم، د ادرس او نښو ورکولو وروسته مو یو بل ومونډل، په موټر کې له کښېناستو سره سم یې پیپ راوایسته او په شیشه څکولو یې پیل وکړ، هماغه شپه مو تردرې بجو په ګډه شیشه ووهله، وروسته یې زه له ځان سره دارلمان ته بوتلم، راته ویې ویل: دا زما د ورونو کور دی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کله چې کورته لاړو، له ما سره یې ډېر ښه چلند وکړ، ویې ویل: زما نوم هاشم دی او انجینیر یم.

تریاک یې له جیب څخه راوایستل، په کور کې یې د شیشې څو پیپونه موجود وو، کیسې مو وکړې، ما په خپل موبایل کې څو ویډیوګانې جوړې کړې او د هغه له غږ څخه مې کار واخیسته؛ یوه کمره مو هم درلوده سهار وختي د دارلامان ماڼۍ په لور روان شوو، د هاشم څو انځورونه ما واخیستل او هاشم هم زما څو قطعې انځورونه واخیستل؛ میرویس خال دار په موټر کې ویده و، په همدې وخت کې هاشم په یوه کاغذ کې شاوخوا یو ګرام شیشه راکړه، چې زما سترګې یې روښانه کړې، حیران شوم، ورته و مې ویل: دا ټوله!؟

ویې ویل: هو زما لخوا تاته ډالۍ ده.

د دې مقدار شیشې په ترلاسه کولو مې فکر کاوه، چې اوس زه د ټولې نړۍ پاچا یم، وروسته مې اړیکه له هاشم سره پراخه شوه، د مهندس په نوم مې پېژنده، محمود رهګذر مې هم پرېښود او نورین تلویزیون هم؛ هره ورځ د مهندس کورته ورتلم، ډېر وخت وروسته پوه شوم چې په کابل کې د مخدره توکو له سترو پلورونکو څخه دی، کورته به یې د ورځې سلګونه کسان راتلل، یا له جوپې او یاهم له ډېرو پیسو سره، زما شیشه په بشپړ ډول برابره وه، د جېب مصرف یې هم راته راکاوه، یو موبایل یې هم راته واخیست، د موټر ماشین مې جام شوی و، هغه یې هم راته جوړ کړ، تر نن پورې ما دې پوښتنې ته ځواب نه دی موندلی چې هغوی له ما سره ولې دومره مرسته او ښه چلند کاوه؟ ولې یې د څکولو له پاره دومره شیشه له کوم بدیل پرته راکوله؟...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زما شیشه دومره زیاته شوه، چې نور ورو ورو تولو ته زما روږدې څېره څرګندېده، په ورځ کې مې دوه تر دریو ګرامو مصرفوله، موده وروسته هاشم ورو، ورو له ما څخه واټن نیوه او علاقه یې مخ په کمښت وه، یوه ورځ یې راته وویل: که چېرې غواړې هره ورځ یو ګرام شیشه درکړم، باید تر پُل سوخته لاندې زما د نشه یي توکو پلورنځي ته راشې، کنه نور دا ډول نه کېږي.

دا داسې وخت و، چې زرګونه پوښتنې مې په زړه کې پیدا شوې وې او غربت هم خپل څادر پوره راباندې غوړولی و، په زړه کې مې وویل: که پل سوخته ته لاړ شم، نور د هرچا له سترګو پنا کېږم، حل لاره څه ده!؟ فکر ته مې د کاکا عزیز هوټل راغی چې کاکا عزیز تازه د شیشې په پلورلو پیل کړی و، دومره پیسې او پېرودونکي یې پیدا کړي وو چې سکرتر او ساتونکي یې هم ځان ته نیولي وو، د هغه خوا ته ورغلم او ورته ومې ویل، چې زما وضعیت ډېرخراب دی؛ مسکی شو، ویې ویل: نادري صیب! کار دې جوړوم.

ومې ویل څنګه؟ ویې ویل: راځه خپل موټر بدل کړو.

ومې پوښتل یانې څه؟

دوام یې ورکړ: موټر دې راکړه، زما موټر، زر افغانی سره له ډېرش ګرامه شیشې درکوم، ته دې یوازې موټر راکړه، ما هم خبره ورسره ومنله او وړاندیز مې یې قبول کړ.

زما موټر«۲۰۰۶» ماډل کورلا وه، هغه یې راڅخه واخیسته او د (Seena) په نوم یې غټ مصرفي موټر راکړ؛ شیشه مصرف شوه او تېل هم خلاصېږي؛ خمار مې نور هم ډېر لوړ شو خو مخ په ښکته کېدو روان و... سخت

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ودرډېدلم او موټر مې د پل سوخته دروازې ته نږدې پرځمکه سینه ولګوله. زه سټړی وم د مهندس په خبره یوه لاره دا ده، چې باید د پل سوخته ببخ ته ځان ورسوم او له هغه څخه شیشه وپېرم؛ بیا مې فکر وکړ که تر پل سوخته لاندې شوم، نو غوره او پېژندل شوی شخصیت مې له صفر سره ضربېږي؛ باید څه وکړم؟!

دا وخت مجبور وم چې تر پل سوخته لاندې تګ ته تسلیم شم. خو بیاهم زه پرخپل ځای ولاړ وم، یو هلک چې توره څېره یې درلوده، دا مې مخې ته ودرېده، دا هلک مې وپېژنده، کله به چې مهندېس د هاشم په نوم غږ ورته کاوه، دا همغه کس دی، دا کس تر پل سوخته لاندې د نشه یي توکو د وېش یو له سترو مسولینو څخه و، د اصلي سوداګر نوم سید هاشم و، دا کس اوس پوهېده چې زه وږی، خمار او ناروغ یم؛ په بېلابېلو بڼو یې بېلابېل پیغامونه راته وړاندې کول...: که چېرې د پله ببخ ته لاړشم نو هم دوډی شته، هم مواد شته او هم نور امکانات راته استوي، خو زه پخپله په دې چورت کې وم چې ایا د پله ببخ ته لاړ شم که نه؟ زړه نا زړه وم... زما په وجود کې د ننه وجدان او ضمیر په نوم یو څه لا ژوندي وو او اجازه یې نه راکوله چې د پله ببخ ته لاړ شم. ځینو روږدو چې زه پېژندلم موټر ته مې نږدې کېدل، وروسته یې راته وویل: راځه د ننه، یو دوه دوده شیشه یې راکړه، خو لوږې او خمار سخت ګیر کړی وم... تور رنګي هلک ته مې یو لیک ورکړ، ورته ومې ویل چې د پله ببخ ته یې یوسه او سید هادي ته یې ورکړه څو شیشه راکړي، لیک یې وروړ او نیم ګرام شیشه یې راته راوړه، یوځل دویم، دریېم ځل یې دا همکاري له ماسره وکړه، وروسته تور رنګی هلک هم راڅخه ورک شو...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا شپې او ورځې مې تر پل سوخته لاندې تر ټولو خونړۍ شپې او ورځې وې، هره ورځ د پل سوخته له ښېخه لسګونه جنازې پورته کېدلې، د پهلوان په نوم یو انسان وژونکی شیطان چې سپکو او درنو وسلو باندې سمبال و پله ته به هر وخت راتله، هر څوک به چې لږ بد ورته ښکاره شول او د ده په طبیعت به نه وو برابر، ډز ډز ویشتل به یې... یوه ورځ مې ښه په یاد دي مازیګر نږدې تیاره کېده، همغه تور مخی هلک مې د پله لاندې سید هادي ته واستوه چې نیم ګرام شیشه راوړي، دا هلک لاړ، زه یو ساعت ورته انتظار شوم، خو رانغی، دوه ساعته وروسته پوه شوم چې له موادو سره تښتېدلی دی. د خمار او لوږې مالمال خوب مې پر وجود لمن غوړولې وه، له سترګو مې اوښکې بهېدلې، کله به مې چې د پله څلورو اړخونو ته وکتل نو ژړا به مې یو څه تم شوه، د غم یوې تورې پردې زما سترګې پوښلې وې، د خپل خر، غمجن چاپېریال ننداره مې کوله، روغ انسانان مې لیدل، چې خپل ساده او هوسا ژوند ته دوام ورکوي او یا هغه زوی او مور چې په پلې ډول زما د خرجن موټر له څنګه تېرېدل، هغه هلک چې د مکروني کڅوړه به یې په لاس کې وه، فکر مې کاوه چې دا کیسه انشتین ته پاتې کېږي چې خپلې مور ته به یې د مثال په ډول زمزمه کوي، (اوښکې) مې په خیرنو لاسو پاکې کړې او د اوښکو اوبه مې په لاسونو باندې وچې شوې، د ژوند د خوښو ورځو په یاد چې هغه وخت د ښوونځي په څلورم ټولګي کې وم ولوېدم، څه خوشحاله ژوند و، د شپې مې مور په خپلو مهربانو لاسونو مکروني پخول او د مکروني له خوړلو وروسته یې په ښکلې مهربانه غېږه کې ویده کولم، که به وپرنجېدم په بېړه به یې خپل لاس زما پرسینه کېښود او ګرم به یې ساتلم چې یخ مې ونه وهي او خولې شم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه ماشوم او مور ته چې زما سترګې د موټر له مینځه ورته پاتې وې او ورکتل مې، ښکاره وه زړه مې د مور د لاس پخلي ته تپېده، له ځان سره مې وویل: نن شپه یې مور حتمًا مکروني پخوي او که چېرې هغه وړنجېړي شاید مور یې پرسینه لاس ورکېږدي، زړه مې د مور نرم او مینه ناک لاسونه غوښتل چې په سینه مې یې کېږدي او زما د کلونو نا کرارۍ ارامې کړي.

د ننه ترخه جدایي مې په کرار ډول غلې کوله، مګر همدا شېبې وې چې یوه بغض لکه د سکارډ راکټ چاودنې په څېر زما له سترګو څخه د اوښکو سېلاب جاري کړ، ډېر دردوونکی حتا له هرې ممکنې پېښې هم ډېر دردوونکی و، وروسته له څو اونیو د خپلې مور په یادونو کې ولوېدم، نه پوهېدم شاید زړه مې وریسې تنګ شوی و، د نشې او خمار پر وخت مې کورنۍ هېره کړې وه، خو مور مې هېڅ وخت له یاده نه وتله.

فکر مې کاوه چې ټولو اقیانوسونو زما د سترګو له اوښکو څخه سرچینه اخیستې او پر ځمکه بهېږي، په ټول بدن مې سړه څپه خوره شوې وه، غاښونه مې ډېر ژور یو په بل باندې لګېدل، هغه غږ مې چې له غاښونو پورته کېده، روسي اورال موټر مې یاد ته راتله، دا هغه موټر وو چې له خپلې ګرانې مور او ماما نسیم سره به له نهرین او اندراب څخه نورو سیمو ته په سفر په کې تللم. په ذهن کې مې بېلابېل فکرونه ګرځېدل، حالت مې خراب و، خپل وروستی سیګرېټ مې ولګاوه، ډېر ژور ټوخي راګیر کړم، مجبور شوم خپل ساړه او ځیږه لاسونه په خپله سینه باندې کېږدم، ډېر ارامه خوب راباندې راغی، د موټر څوکۍ مې نوي درجې شاته چپه کړه، دا وخت په ټوله سیمه د تیارې څپه خوره وه، کله چې ویده شوم، ډېر عجیب خوب مې ولیده: ناڅاپي په قاتل او بې رحمه شیطان بدل شوی وم، د کور

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دروازه ټکوم، خور مې دروازه را خلاصوي، هغه وباسم او د مور کوټې ته مې ور د ننه کېږم، هغه هم وباسم، خپلې کوټې ته د ننه کېږم، خپله مېرمن وژنم، د پلار خواته مې ورځم او ژوند يې ترې اخلم او بيا دويم ځلي د مور کوټې د ننه کېږم، هلته پر دېوال زما دې شپږ کلنی انځور راځوړند و، هغه ته ګورم چې سخت ژاړي، سر او مخ ته مې سوکان نيولي دي چې د موټر د دروازې ټکولو را ويښ کړم، وېرېدلی او وارخطا له خپل ځايه پاڅېدم ، دا مهال سخت يخ و، خو په دې يخه هوا سربېره زما په وجود خولې را خورې وې، چې ګورم د موټر د دروازې ترشا د سيد هاشم هادي شاګرد امير علي ولاړ دی، هغه مسکی شو او پوښتنه يې وکړه څه دې وکړل رئيسه؟

په داسې حال کې چې په ټول بدن باندې مې د درد څپه خوره وه، د خبرو کولو توان مې نه درلوده، ومې ويل: خمار يم! مسکی شو، ويې ويل: موړ خو هغه تور هلک ته چې تا رالېږلی و، يو ګرام شيشه ورکړه.!

ورته ومې ويل: چې ماته يې نه ده راکړې، دلته هېڅ نه دي راغلی ويې ويل: خی تښتېدلی دی، لږ صبر يې وکړ بيا يې وويل: زه د سيد هادي خواته ورځم هغه ته ستا ستونزه يادوم او وروسته احوال درکوم.

ما ويل سمه ده، د سيګرېټ قوطی مې راواخيست څو يو سيګرېټ روښانه کړم، ګورم چې سيګرېټ مې خلاص شوي دي.

له يخنی نه مې پښې رېږدېدلې، د امير علي د راتګ په پار مې شېبې شمېرلې خو شکر ډېر ژر راغی.

ويې ويل: موټر دې قلف کړه، د پله لاندې راشه چې سيد هادي کار درسره لري، ژر له ځايه پور ته شوم د موټر دروازې مې قلف کړې، څو ګامه مخکې پل سرخ و، کله چې ترپله لاندې روان وم، ډېرو خاطراتو مې ذهن ته لاره ومونده، دې «کارل آيکنبيري» اړيکه چې ځواب مې ورنه کړ، د

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یونسکو د غوره خبریال «جایزه» او زما په اړه د «ولسمشر خبرې»... دا او دې ته ورته نور ټول خاطرات زما خمار ته را د ننه شوي وو.

امیرعلي مې لاس ونیوه او ویې ویل: پام کوه چې ونه ښویېږې

ډېر ورو، ورو ښکته شوم، احساس مې کاوه چې د انسان خورې تمساح خولې ته د ننه کېږم، کله چې ورسېدم ترهغه مې چې د ستړگو لید کار کاوه «گیسونه» روښانه و او زرگونه کسان تر پله لاندې نږدې نږدې پراته وو، یوه خړ رنگي گرد ټوله سیمه پوښلې وه، د شیک پوشه نجلی انځور لکه دې قالین پلورونکي د دکان پر دېوال چې راځوړند شوی وي، را ځوړند و او ځو دانې جعلي بانک لوټونه یې سوري کړي وو، هغه هم نصب وو، یوه روړدي په ډېر ښکلي خط په دېوال لیکلي وو: «همه از مرگ می ترسند، من از رفیق نامرد.»

سید هادي ډېر جدي او په لوړ غږ وویل: دلته راشه! ورغلم، ترخنگ یې کښېناستم، شیشیي پیپ مې ولیده، یو گرام شیشه هم ورسره وه، دا یې زما مخې ته کېښودل، ما هم لایټر ترې لاندې کړ، درې څلور قوي دوده مې کش کړل، ما چې له سید هاشم سره کوم جنجال درلوده، همدغه دریو دودونو هغه لانجه ختمه کړه او زه مکمل د ده پروړاندې بدل شوم او دی رابانديې بریالی شو.

راته ویې ویل: تر هغه وخته پورې چې تر پل سوخته لاندې یې ټول امکانات درته برابر دي، همدلته اوسه هرڅه چې څکوې ویې څکوه، دوډی هم درکوم، نور دې باندې څه کوې؟ د باندې په پرتله همدغه ځای ستا له پاره ډېر ښه دی، زه په همدې حالت کې ورو- ورو خوب ونیولم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لومړی څو ورځې ښې وې، سید هادي یو څه مرسته راسره کوله خو د وخت په تېرېدو سره یې همکاري کمېده او په پای کې باید زه پوه شوی وای په کوم ځای کې چې زه یم کوم ځای دی؟

د دې له پاره چې وتوانېږم پل سوخته او هغه څه چې اصلي حقیقت دی معرفي یې کړم، ښه به وي چې لومړی لاړ شوو د پل سوخته د خلکو پېژندنې ته او وروسته دې ته چې تر پل سوخته لاندې څه کېدل، څو خلک رهگذر او د ده نیږدې دوستان د کابل او افغانستان د لویې سرطاني غدې په حیث وپېژني.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د ویجاړوونکي ټولګي د ډلبندۍ په اساس د زیان رسوونکو ښکېل ټولی

د پل سوخته ډله زموږ په هېواد کې یوه منحوسه طبقاتي ډله ده، په لومړي سر کې په دوه اصلي ډلو چې نورې ډلې له هغه څخه سرچینه اخلي د موندونکو ډله او دې مصرف کوونکو ډله.

لومړی ډله« موندونکي»:

پل سوخته له جغرافیایي اړخه د پولیسو د درېیمې حوزې د اتصال کړی ده، درېیمه حوزه، پینځمه حوزه او شپږمه حوزه د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې معینیت په هره حوزه کې د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې آمریت او د هغه په تشکیل کې یو آمر او دوه کارمندان کلونه کېږي چې دا جوړښت یې رامنځته کړی او امکانات ورکوي؛ په هره حوزه کې یو آمر او دوه کارمندان د خپلو ګډو ګټو د ترلاسه کولو په موخه په ډېره ارامه توګه یوې منل شوې پایلې ته رسېږي او په ډاډه زړه د ځان په بیه د خپلو ګټو له پاره مبارزه کوي، چې دغه طبقه (ډله) په دریو برخو تقسیم شوې ده.

لومړی کتګوري: د موندونکو په ډله کې د درېیمې، پینځمې او شپږمې حوزو د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې کارمندان شامل دي، هره ورځ په دوه مشخصو وختونو کې دې پله ببخ ته راځي: مخکې له غرمې او شپې ته نږدې ماښام مهال خپل حق اخلي او په ډېره ارامه توګه بېرته خپلو حوزو ته ځي او په هر وخت کې په درې واړه ځایونو او یا دغه دریو حوزو کې د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې مامورین په جریان کې پرېږدي، د دوی حق ورکول کېږي او بل هېڅوک د دې حق نه لري چې ووایي: ستاسو

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سترګې پټې دي او ظلم کوي، که چا ته خپل حق ونه رسېږي، نو له يوه ساعت نه په کمه موده کې ښارخونې ته رسېږي.

هر څومره چې کارمندان په پلورونکو باندې فشار راوړي همدومره فشار پلورونکي په روږدو کسانو باندې راوړي څو هر چاته خپل حق لاس په لاس ورسېږي.

پل سوخته د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې کارکونکو له پاره د شیدو په غوا باندې بدل شوی وه، هرکله به چې دوی د هغه سینو ته لاس ور وړ، نو لاسونه به يې له شيدو څخه ډک و، د دوی دې زهر شي.

د موندونکو دويمه ډله:

د يوې لويې مافيايي ډلې شاګردان يا هم پلورونکي چې بايد په ورځ کې له دوه تر درې سوه ګرامو زيات مخدره توکي وپلوري، هغوی چې مخدره توکي په اجاره توګه پلوري په مياشت کې دوه لکه اوولس زره«۲۱۷۰۰۰» افغانۍ معاش لري او هغوی چې شاګردان دي او په اجاره پلورونکو يې پلوري د مياشتې پينځلس زره افغانۍ معاش لري او د موادو ټول مصرف يې هم وړيا دی.

درېيمه ډله زورور: دوی په خورا هنر خپله ګټه ترلاسه کوي، په ناڅاپي توګه تر پله لاندې ښکته کېږي، کمزوري، بې کسه او مفلسين چې د ډېر خمار له لاسه په خوځنده مړو باندې بدل شوي دي، په لغتو او سوکانو يې په سر سر وهي، په ځينو وختونو کې يې د برچې په واسطه ټپي کوي او ځينې وخت يې هم د مرمۍ په واسطه ګواښي چې په راتلونکو برخو کې به توضيح ورکړم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دغه زورور په خپل ټاکلي وخت راځي له اجاره يي پلورونکو څخه يو مقدار پيسې او مواد ترلاسه کوي او په خپل خوند او معيشت کې دي او هر پلورونکی د ګيدړې په شان له هغوی دارېږي.

تر پل سوخته لاندې د بېلابېلو طبقاتي ډلبنديو په اساس د پيسو د چاپ ماشين او د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې پوليسو، د مافيايي ډلې شاګردان پلورونکو، زورورو... او مجرمو انسانانو په نوم يوه ډله باندې بدل شوی دی.

خو اساسي پوښتنه داده چې پيسې يې له کوم ځای څخه راځي!؟ دا څه ډول پيسې دي چې د هرچا له پاره د مياشتې دوه لکه او د ځينو له پاره په لکونو عايد لري!؟ ايا کله چې د پل سوخته پرسر تېرېږې، د ژوند تر ټولو سترې کوونکې شېبې نه احساس کوی!؟ حتا د دې ځای بد بوی ستاسو له پاره خورا وېروونکی او ناخوښوونکی نه دی!؟ د ولسمشری ماڼی دا څنګه منلای شي چې عادي کار کوونکی يې له سلو تر دوه سوه زرو افغانيو پورې عوايد لري؟ ايا تر پل سوخته لاندې د بانک نوټونو د چاپ نمره وهونکی ماشين دی!؟ دا ټول لويه مبالغه نه ده، دا د روږدو کسانو هغه پيسې دي، چې روږديتوب دوی د هر ډول جرم او جنايت ترسره کولو ته اړ کوي او هغوی د زياتو پيسو د چمتو کولو له پاره اړکېږي، چې په پراخه کچه په افغانستان کې د نا امنی او فقر په رامنځته کېدو کې رول ولري.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دویمه ډله د مالیې ورکولو او لاس وهنې پرته د توکو مصرف کوونکي

د توکو مصرف کوونکي تر پل لاندې د پلور بازار اصلي څواک تشکیلوي. اوس د ډېر عاید له مخې د مخدره توکو د مصرف کوونکو ډلبندي درپېژنم. په مخدره توکو روږدیتوب شوخي او ټوکې نه دي؛ کله چې سهارله خوبه پاڅېږې، د ټولنې، فرهنگ، کورنۍ او اقتصاد په نظرکې نیولو پرته مجبور او مکلف یې چې د یو گرام له پاره دری سوه افغانۍ په جیب کې ولرې. څو چې پورته شې حد اقل ژوندی شې، په لاسونو او پښو کې دې انرژي پیدا شي؛ اوس ستا د ژوند ستره پروژه د دری سوه افغانیو پیدا کول دي. په لومړیو میاشتو کې د کال تر لومړیو پورې روږدی (معتاد) له کوره هر شی یې چې په نظر ورشي پټوي یې او د پل سوخته ښخ ته یې وړي؛ تر پل سوخته لاندې یوه ډله ډېر خونړي قصابان موجود دي، چې د هغوی د ډېرو عوایدو سره بل هېڅ ډول سوداگري سیالي نه شي کولای.

روږدي (معتاد) به چې هر جنس په بېړه تر پل سوخته لاندې ور وړ هغوی به د مال اخیستونکي په نوم د روږدي د رویت له مخې ترې پېرلو، مثلاً که چېرې روږدی ډېر خمار وي د دوه زره افغانۍ جنس به یې ترې په دوه سوه افغانۍ اخیسته او که روږدی به لږ خمار و نو د پینځه زره افغانیو جنس به یې ترې په پنځه سوه افغانۍ اخیسته او که به چېرې روږدی لږ په خود کې و او په خپل ځان به پوهېده، دې دوه زرو مال به یې په پینځه سوه افغانۍ ترې اخیسته، روږدي به د مال اخیستونکي په نوم د غلا جنس د پلورلو سره سم د موادو په پېرودلو پسې لاړ او همدارنگه سلگونو حتا زرگونو روږدو

کسانو به ډېر قیمتي شیان تر پل سوخته لاندې وړل او دې غلو شریکانو به په ټیټ قېمت ترې اخیست.

یو لب ټاپ کمپیوټر چې ډېر مدرن او ښکلی و، په بازار کې به یې قیمت شاید اوه سوه ډالره و، په خپلو سترګو مې ولیدل چې مال اخیستونکي په ټیټ قېمت واخیست او د نیم ساعت په تېرېدو سره یې په باندني مال اخیستونکي په شل زره افغانیو خرڅ کړ، په همدې ډول ډېر لوړ او قیمتي موبایلونه هم، حتی زېورات هم پلورل کېږي، یوه بله لویه تراژیدي چې د روږدو په خپه داستان کې موجوده ده، هغه دا ده کله چې د خور، مور او مېرمنې جواهرات او قیمتي اشیا غلا کوي، په هغه څېره چې دوی یې لري هرې زرګرۍ ته یې چې د خرڅلاو له پاره وړي، یایې له هغوی څخه نه اخلي او یایې هم پولیسو ته په ګوتو ورکوي؛ مګر مال اخیستونکي ډېر ځواکمن او قوي نهنګان دي، چې په لومړي سر کې ټول څیزونه اخلي.

د نمونې په توګه، یوه پینځه ګرامه عربي طلا لښتۍ د یوې یو ګرامه ایرانۍ لښتۍ په قېمت له روږدي (معتاد) څخه اخلي په پای کې روږدی مال اخیستونکي ته ښه په اخلاص دعا هم کوي. مال اخیستونکی هم حوزو او مربوطه برخو ته خپل حق ورکوي او د ښار ټولې غلاوې پرته له بربنډېدو او ښکاره کېدو دوی خوري، په داسې حال کې چې بې جوازه تمانچې هم له ځان سره لري او دوی په خپله روږدي نه دي، د شپې له هوس بازۍ، شهوت رانۍ او شراب خورۍ پرته بل کار نه لري، دختر بازان یې له تازه نفسو نجونو سره په مزو او معیشت کې دي؛ او بچه بازان یې له تنکیو ځوانانو سره په معیشت کې وي چې د سلطان د زامنو په څېر ښکاري او ځوک یې د مستقیمې ننداري توان نه لري، حتی وايي که چېرې روږدي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

(معتاد) کوم وخت قیمتي څیزونه راوړي، د روږدي کڅوړه ترې اخلي او دی په یوه څنډه کې وژني.

روږدي (معتادان) د خپلې کورنۍ ټوله مادي او معنوي هستي د سخت زړي ښامار په ډول خوري او د هغه لېوه په څېر چې لومړی ښکاري له مخې لرې کوي او وروسته د خپلې کورنۍ له پاره پر چمتو شوي لاسي بم باندې بدلېږي. مال اخیستونکي روږدو ته وایي چې زېورات، جامې، بوټ، ظروف او داسې نور څیزونه حتا بې ارزښته اوسپنه هم راوړئ اخلو یې. په همدې خاطر دوی هرشی راوړي او دې دلالانو ته یې په ټیټه بیه ورکوي، څو ځلې مې په خپلو ګنهګارو سترګو لیدلي دي چې روږدی (معتاد) دیګ بخار په داسې حال کې چې بخار یې هم نه دی ویستل شوی، له خوړو ډک وي، هغه یې له خپل کور څخه راایستلی او په همدغه ناوړه غلو یې پلورلی دی. په دېګ کې چې کوم خواړه دي دا د هغه ماشومانو دي چې پلار یې روږدی شوی دی او کورنۍ یې په ډېره مینه او شفقت سره خواړه خپلو بېوزله بچیانو ته پاخه کړي دي، خو مال اخیستونکي یې په خپلو شیطاني لاسونو خوري، رب دې دوی هلاک کړي.

یوه کورنۍ او ماشومان به یې څومره د نشتوالي او کمښت احساس وکړي چې د خولې لمړی یې د پلار په واسطه غلا کېږي او د دوی بېوزلی او کمښت ته نه ګوري؛ هغه کوچنۍ خوشحالي چې د شپې ډوډۍ ده له هغوی اخلي، د دې پرځای چې پلار یې ورته په مینه او ورین تندي کورته خوراکي توکي راوړي او د خپلې کورنۍ ترڅنګ یې په ارامه او خوښ زړه سره نوشیجان کړي، حتا فکر یې هم نه شو کولای چې دغه کورنۍ به له څه ډول زړه تنګون او بحراني حالت سره لاس او ګرېوان وي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وروسته له هغه کومې پیسې چې د روږدي د ماشومانو د جوسو په بدل کې ورته ورکړل شوې دي، د دوه ساعتونو له پاره یې هم نه نشه کوي. اکثره روږدي (معتادین) د خپلې کورنۍ د قیمتي څیزونو له غلا کولو وروسته له کور څخه شړل کېږي او د روږدیتوب په خمار کې تر سرکونو او پلچکونو لاندې پاتې کېږي او د داسې موادو د ترلاسه کولو پیسې د هفت خان رستم د فتحې په څېر ستونزمن او د لاسرسي وړ نه دي.

مال اخیستونکي هغه لوی شیطانان دي چې منفي بشري ضد ځواک او سخت زړیتوب په اړه روږدو ته درس ورکوي او روږدي د پیسو د چاپ ماشین په څېر د مال اخیستونکو له پاره له یوې خوا پیسې چاپوي، یو شمېر روږدي (معتادین) له کور څخه تر شړلو وروسته د غلا په برخه کې داسې وړتیا او استعداد ترلاسه کوي، چې جوړ انسان به داسې احساس کوي چې که له دغه استعدادونو څخه په سمه توګه د فزیک په برخه کې ګټه پور ته شوې وای د دوی په موجودیت کې به نور د انشټین نوم هم نه وی اخیستل شوی.

(تک و دو) یا هم په بل عبارت لاس او پښې کول هغه ښوونځي دي چې هر روږدي ته د مال اخیستونکو د تیوري په اساس اجازه ورکوي، فکر وکړي چې د خپل قدرت په اندازه چې هرڅه په واک کې لري په غلا کې دې ترې کار واخلي.

(تک و دو) یانې د لاس او پښو ډېر خطرناک خلک دي هغوی یوه با تجربه او په کار پوه ډله باندې توانېدلي دي چې له ځان نه یې مخکې کړې، یواځینی کار یې په کوڅو کې د هغه کسانو وژل دي چې له اقتصادي اړخه په ښه موقف کې دي، هغوی ګرځي او نږدې ماښام مهال ویني چې د

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کومې کورنۍ خلک په بشپړ ډول وځي، یو شمېرکورنۍ دي چې د واده او یاهم نورو مراسمو له پاره ټول یوځای له کور نه وځي او وروسته له ساعتونو کورته راځي، د یادو مواردو په لیدو سره غله له خپلو مشرانو سره په اړیکه کېږي او د غلو دغه مشران یا استادان په یوه شېبه کې دغه ځای ته نږدې راځي او د اطلاع رسوونکو دغه ماموریت پای ته رسېږي، د دوی په منځ کې دوه تکره ډلې موجودې وي: لومړی هغه کسان دي چې لوړو ځایونو ته په ډېرکم وخت کې پورته شي، دویم هغه کسان چې په اسانۍ سره وکولای شي قلفونه خلاص کړي، په لومړي گام کې د اوسېدو ځای یا کورته د ننه کېدو سره سم دوی هڅه کوي چې قیمتي شیان لکه: پیسې، طلا او قیمتي جامې ترلاسه کړي او وروسته تردې له بایسکل، موټرسایکل او داسې نورو ورته شیانو سره علاقه لري، کځوړې ښې ځای پرځای کوي او له څلوېښتو دقیقو څخه په کم وخت کې کار پای ته رسوي، له وتلو سره سمدستي د پولیسو نږدې پوستې ته ځان رسوي، د پولیسو حق ورته ورکوي او له همدې شېبې وروسته له مال اخیستونکو سره په اړیکه کېږي او له دوه ساعتونو څخه په لنډ وخت کې پلورل شوي جنسونه د هېرویینو او شیشې په دود بدلېږي؛ جالبه داده چې د پولیسو هېڅ یوه پوسته او د حوزو هېڅ یو آمریت له دغه ډول غلو سره جدي چلند نه دی کړی/نه یې کوي، بلکې د دې ترڅنگ دوی د خپلو ستراتیژیکو ملگرو له جملې څخه گڼي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لوی موندونکي او نا روغ غله

د روږدو(معتادانو) په مینځ کې فېشني او بدایه ډلې هم موجودې دي، حتا همدغه روږدي چې د لاس او پښو یا هم کوښښ (تک و دو) د ښوونځي پیروان دي، چې په لویه کچه په غلا او موندنو لاس پورې کوي، لوړې برخه یې ډېر حرفوي کېڅه بوران دي، تردې حده چې یوه ورځ مې له هغوی څخه یوه ته وویل: له جېبونو نه څه ډول پیسې وهې چې څوک هېڅ نه خبرېږي؟ په داسې حال کې چې د سل گونو سل بانک لوټونه، پنځوس شل او لس افغانیو بانک نوټونه یې زما دې کورتۍ په جېب کې واچول او ویې ویل: د یوه او بل پروړاندې قدم وهو، زه دې له څنگ څخه تېرېږم، په دې ډول یې اخلم چې ستا هېڅ پام هم نه شي، « کله مې چې له څنگ څخه تېر شو یوازې دومره پوه شوم چې کورتۍ مې وښورېده او وروسته یې وویل: وگوره! ومې کتل هغه ټولې پیسې مې چې په جېب کې اېښې وې اوس د هغه په لاس کې دي.

له لویو موندونکو نیولې تر ناروغه غلو پورې د دوی ټولو په اړه په ډېر څه پوه شوم، پرته له دې چې د دوی په هېڅ حرکت کې مې ونډه او تجربه نه درلوده خو ومې کولای شول چې د ښوونځیو په اړه یې هم معلومات ترلاسه او له نظره تېر کړم؛ زموږ له پاره اړینه ده چې وروستي جرایم له مجرمینو سره وپېژنو او د کړنو په اړه یې خبر واوسو.

همدغه کېڅه بور د خپل استاد کیسه راته وکړه: که چېرې زما استاد ستا په جېب کې لاس د ننه کاوه درته ویل به یې چې ته درې زره افغانۍ زرگون او دوه زره افغانۍ وړې پیسې لکه ۱۰ افغانۍ او ۲۰ افغانۍ به دې درلودې، دومره ځیرک و چې کولای یې شوای چې یوازې هماغه درې زره را وباسي،

په داسې حال کې چې نه به يې ليدلې خو خپلې پيسې يې تشخيصولې، کله چې تاسو پوهې او وړتيا ته د خپل هېواد د اړتيا درک وکړی او پوهېږی چې مثبت او غوړېدونکو استعدادونو ته څومره زياته اړتيا ده، خورا يو لوی درد او غم به دې په وجود کې را ژوندی شي، که چېرې له دغو استعدادونو څخه په مثبتو برخو کې کار اخيستل شوی وای، نو افغانستان چې اوس په کوم حالت کې دی په دې حالت کې به نه و، ډېر لوړ او دې عزت موقف به يې درلوده.

ډاډه يم چې په اوسني ناوړه حالت کې به نه و او گاونډيو هېوادونو ته به مو د مرستې په خاطر لاس نه اوږدېده.

لوی موندونکي (لوی غله) ډېری د صرافيو، طلا فروشيو او نورو قيمتي اجناسو په مارکېټونو کې د يوه ځيرک مار په څېر گرځېدل د کار په پای کې به يې زموږ يو شمېر هېواد وال د خپلو زهري نېښونو په واسطه چيچل، لوی موندونکي (لوی غله) هغه روږدي (معتادان) دي چې د ظاهري ټيپ له پلوه ډېر فېشني دي خو په اصل کې روږدي، غله، لاره نيوونکي او ناځوانه دي؛ خپل سر او صورت ته ښه پاملرنه کوي چې هېڅکله هم هغوی روږدي (معتادينو) په څېر نه معلومېږي.

د مثال په توگه: سهار چې کله د خصوصي او شخصي ليليو محصلين د درسونو په لوري ځي، همدغه غله په ډېره دقيق توگه له جامو نيولې د محصل تر چلند ټول تمثيلوي او توانېږي چې په اسانۍ سره ليليې ته دننه شي؛ ساتونکي په دغه غلو باندې د محصلينو خيال کوي، کله چې د ننه شي وروسته له دوه دقيقو څخه په ډېرې هوښيارۍ سره له درې/اځلور پايو لپ ټاپونو سره جوړه په منظم ډول وځي، دا ډول موندونکي (غله) ډلييز او

ټيمي کار ترسره کوي؛ يو شمېر يې د ورځې لخوا، کورونه، دوکانونه، پلورنځي، بېلري تېل پلورنځي، تلويزيون پلورنځي او قصابۍ تر نظر لاندې نيسي، په هغه بنه چې د ننه کېدو او تېښتې لاره په دقيقه توګه سنجوي. نږدې شپه مهال چې کله بېرته د پلونو لاندې ځي، د ډلې مشر، مرستيالان او نور وګړي د نقشې راوړنکو ته انتظار دي، وروسته يوه ګډه جلسه نيسي، نقشه اخيستونکی د کاغذ پرمخ هرڅه تشريح کوي او وروسته د ننه کېدو او تښتېدو نقشه ورته رسموي، اټکلي د ننه کېدل هم ورته بيائلې ښيي مثلاً: د حويلۍ پرمخ دوه سپورتي بايسکلونه، يو موټرسايکل، يو جنراتور او نور... موجود دي او د ننه خونو کې دوه تافن، يو لب تاپ او نور...

عمليات تل د شپې له دوه بجو وروسته پيلېږي، په دې دليل چې د شپې له نيمايي څخه وروسته کورنۍ په ژور خوب ځي او کله يې چې د غلا مالونه واخيستل بېرته د پله خواته ګرځي او د سهار له سپېده داغ (رڼاکېدو) د مخه مال اخيستونکي اجناس اخلي او پلورونکي خپل سهار له لاسته راوړنو پرته نه پيلوي.

د کورونو، دوکانونو په لوټ کولو کې يې مهارت په دې ډول دی چې څلور تنه حريم يا کورته د ننه کېدو سره سم د اجناسو تر غلا کولو او تښتېدو وروسته لږ غږ هم نه پورته کوي څو د کور څښتن را ويښ نه شي.

په داسې حال کې چې د شپې يې ښه غلا کړې او جېبونه يې له پيسو ښه ډک شوي دي، سهار په څو ليني موټرو کې هغه وخت چې کار کوونکي او محصلين د خپلې دندې او درس په لور روان وي، پورته کېږي او قيمتي موبايلونه غلا کوي چې دا هم په مال اخيستونکو پلوري؛ وروسته هر يو له يو کم عمره هلک سره د څو شپو له پاره په کوټې سنګي کې عدالت هوټل

ته ځي د دوی په وینا دری/څلور شپې په کافي اندازه هېروئین، په ډېرو مغذي خوراکي توکو، په ښه لپ او جیب سره خپل وخت تېروي، د معیشت موده یې ترهغه دوام کوي څو چې پیسې یې خلاصې شي، بیا ځلې همدا داستان (کیسه) تکرارېږي: بیا خیانت، غلا، چور، چپاول د تل په څېر لکه عدالت هوټل او دې ته ورته ځایونو کې کم عمره هلکان په نخا او معیشت کې وي، حتا د همدې هوټل د څنګ هوټلونه د موندونکو (غلو) روږدو د فعالیت له امله ورځ تربلې وده او پرمختګ کوي.

زه هغه دوستانو ته چې دغه کتاب لولي د تجربې له مخې یوه سپارښتنه کوم، په بازار کې هېڅ وخت د روږدو (معتادانو) له لاسونو نه چې موبایل او... د خرڅلاو له پاره راوړي مه اخلئ، ځکه زموږ ډېری هېواد وال د وحشي چپاولګرو د دسیسو ښکار شوي دي چې د خپلو روږدو (معتادانو) لخوا ښکار کېږي. د پنځوس زره افغانیو په ارزښت موبایل شاید په تاسو په لس زره افغانیو خرڅ کړي، څو کسان نور هم په دې کار کې لاس لري، کله چې تاسو ګرم شی او خپلې پیسې را وباسی، تاسو ته یوازې د موبایل یو پوښ درکول کېږي چې د هغه پوښ دننه ودانیزه ښیښه اچول شوې ده، په ډېرو ځایونو کې کله چې د یوه سوالګر او ګدا په څېره کې ځان څرګندوي یوازې د معلوماتو له پاره راځي. که چېرې تاسو د پام وړ پیسې ولری، په ښېړه سره د ډلې مشر ته خبر ورکوي، چې هغه تاسو لوټوي، معلومه ده چې لږ وروسته به د سترګو په رپ کې د ښار تر ټولو غریب او مفلس سړي یاست.

دا ټولې خبرې مې د دې په پار تاسو ته بیا تکرار کړې چې د کتاب په راتلونکې برخه: «د دنیا اخر» هغه وخت کله چې زموږ مستند داستان

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

(کیسه) پیلېږي، نو د روږدو کسانو د ټولنې، ډلبندۍ، ډلو او چالونو په اړه لږ شانته معلومات ولرئ، یواځینی حقیقت چې وړاندې کول یې د هندوکش غره په څېر زما پراوړو پروت دی هغه دادی: که چېرې تاسو په لوړو کټګوریو کې له روږدو سره کښېنئ، کله چې د ډلې له مشر سره مخامخ کېږئ، یا لېسانس دی، یا ماسټر دی او حتا په خپلو سترګو مې د حقوقو او سیاسي علومو ډاکټر د یوې لویې موندونکې (غلو) ډلې په راس کې ولیده.

په زړه پورې داده چې د دغو ډلو کلیدي کسان په انګلیسي ژبه هم پوهېږي، چې ځینې وخت د خپلو عملیاتو (غلاوو) د څرنګوالي په اړه بحث په انګلیسي ژبه پرمخ وړي.

کله مو چې مخې ته یو خراب او ځپل شوی روږدی درځي، د هغه ظاهر ته مه ګورئ، دې سړي په حقیقت کې شاید هغه د روږدتیوب له وخته ترهماغه شېبې چې تاسو یې وینئ مېلیونونه افغانان یې سوځولې وي او د سلګونو انسانانو ژوند یې تباه کړی وي؛ سربېره پردې چې ډېرخسیس (سوګت) خلک دي خو په ډېرو مواردو کې بیا ډېر مصرفوونکي او سخاوتمند دي، هغه نړۍ چې موږ یې لرو او ژوند په کې کوو، انسان په خپل دغه کوچني لیدلوري نه شي کولای چې ټولیز قضاوت او قطعي حکم ورکړي، دوی د کار په جریان کې بې ګناه او مقدس دي خو په بل ماموریت کې بیا بشپړ بد او شیطاني عمل کوي. دغه ډول پرېکړې قضاوتونه ډېر ناسم او یو طرفه دي؛ د روږدو په مینځ کې هرڅه د منفي پر اساس پرمخ نه ځي، ټول مال اخیستونکي شیطانان نه دي او ټول روږدي هم غله نه دي، باید د ټولو په مینځ کې ښه له بدو تفکیک او بېل شي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سپین روږدي او ځوانمرده مال اخیستونکي

په سړک شاید له ډېرو ککړو روږدو سره مخامخ شوي وی، چې لویه کڅوړه یې پراوړو وي او ظاهراً ډېرې ککړې او ناولې ښکاري لري، خو د دې ناولې او ظاهري ککړې څېرې ترشاه یو ډېر غیرتي او ځوانمرده روږدی ژوند کوي، که څه هم شیطان مال اخیستونکي د غلا له پاره زرگونه لارې ورته ښیي مگر هغوی هېڅکله هم په غلا لاس نه پورې کوي، همت یې اجازه نه ورکوي د سهار له څلورو بجو د غرمې تر دوولسو بجو پورې د پلاستیکي بوتلو او المونیمي قطیو په راټولولو باندې بوخت وي، د سهار له څلورو د غرمې تر دولسو بجو پورې که چېرې بخت ورسره یاري وکړي کولای شي چې سل افغانۍ په لاس راوړي او له دولسو تر یوې بجې پورې نشه کوي؛ د لماسپښین له یوې بجې د شپې تر اتو بجو بیا پیل کوي څو سل افغانۍ نورې ترلاسه کړي.

د دې ښار په ډېرو ښځو کې د بیا رانیول شویو زباله دانیو او زړو وسایلو د پېر ځایونه زموږ تر سترگو کېږي. ځوانمرده مال اخیستونکي هغه دي چې روږدی له غلا څخه پښېمانه کوي او د حلالو پیسو د ترلاسه کولو له پاره یې هڅوي.

یوه ورځ په کوټې سنگي کې د دې کباړ شویو وسایلو دوکان ته لاړم او له سپین ږیري کاکا څخه چې د بیا رانیول شویو د پېرودلو د یوې برخې مسؤل و مننه مې ترې وکړه او ورته ومې ویل: په دې کار سره دې یو شمېر له غلا څخه پښېمانه کړي او د ښار په پاکوالي کې دې هم برخه اخیستې ده، د ځان او همدې ځوانانو له پاره دې هم حلاله روزي برابره کړې، په داسې حال کې چې زما په دغه خبرو سره یې په سترگو کې د خوشحالۍ

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اوښکې راغلې، ویې ویل: « تراوسه پورې درې روږدو زما په مشوره نشه يي توکي پرېښي دي او اوس ډېر ښه روغ شوي دي چې تل ما ته دعا کوي.»

دارلامان، میرویس میدان او ... پل باغ عمومي کې چې کله په دې ډول استعمال د يوه ککړ سرې په نیولي او ستومانه خوله دا ډول خبرې اورې سمدستي څرکندېږي چې دغه سړی د ځوانمردو روږدو له جملې څخه دی چې سهار څلور بجې د پله له لاندې راځي او د غرمې تر دوولسو بجو پورې اویا افغانی په لاس راوړي او وروسته د غرمې له پاره دوه بولاني اخلي او پنځوس افغانۍ هم د نشه يي توکو د یو گرام لسمه برخه اخلي له دوولسو تر يوې بجې پورې يوازې هماغه څکوي او وروسته نیم ورځ او نیم خمار بیا په خپل نیولي، ستومانه او دردمن غږ: د مسافر برۍ موټرو په تم ځایونو کې د پل باغ عمومي، دارلامان، میرویس میدان په شا او خوا کې او.... چیغې وهي.

کامېډي (تمثیلي) موندونکي (غله)

په دغه برخه کې تر پل سوځته لاندې یو شمېر نور روږدي غله هم شته چې د خپلو غلا شویو څیزونو په راوړلو سره ټول غمجن پل سوځته چې له سر او مخ څخه یې خاورې بادېږي خوښ او خندان ساتي.

یوه شپه شاوخوا دوولس بجې وې چې په یوه ډله کې ناست وو. دوه تنه له یوه (vip) تابوت سره چې د جسد مخ یې د ښېښې له شاه ښکارېده د ننه شول، ټول حیران شولو چې دا کوم بختور او «vip» روږدی دی چې نړدې شلو کلونو په لړ کې تر پل سوځته لاندې دا لومړی روږدی دی چې تابوت یې په برخه کېږي، زما په شمول یو شمېر له خپل ځایه پاڅېدو او د ژوند غم مو غلطوه؛ ومو ویل: څومره وخت و چې نه مو وو خندلي په داسې حال کې چې یو شمېر روږدو د دې پوښتنې په ځواب کې چې څوک وفات شوی دی؟ د دعا په پار لاسونه پورته کړي وو.

د تابوت څښتن په سره سینه زموږ خواته وکتل ویې ویل: راشئ یو زدني (vip) تابوت واخلئ که یې په مستقیم ډول جنت ته بو نه تللی پیسې مو نه اخلم، داسې تابوت چې د ټرامپ د خوب تخت په څېر کړکی لري. هواداره، زدني راشه او بې خبره چې یو دانه پاتې دی، وروسته له یوې وقفې یې غږ پورته شو « دادی ښیښیي سرپوښ واله تابوت پر سر یې دعوه نه ده؟»

ټول په خندا شول تابوت یې پورته کړ او دې زاړه پله په لور روان شول؛ چیغې یې وهلې: « او ځوانه راشه داسې تابوت درکړم چې د ځنکدن په وخت کې په لومړي درد سره هرڅه ختم شي.»

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وروسته یوه ساقي (شراب وېشونکي) تابوت د یو ګرام هېروئینو په بدل کې د ویده کېدو له پاره واخیست.

یو بل روږدی چې سر ښوونکی به یې ورته ویل، یوه شپه د یوه پلورونکي ترڅنګ چې څو قدمه واټن یې درلود کښېناست د یوې غوړې مقدمې تر ویلو وروسته یې ورته وویل: وه وروره شیشه هېټلر کشف کړې ده ریښتیا ده؟

پلورونکي وویل: هو!

وروسته سرښوونکي وویل: هماغه کتاب چې په افغانستان کې شیشه کشف کړې ده یوازې له ماسره دی، هغه کتاب هر هغه سړی چې سواد ولري او ستا د اعتماد وړ وي ورکوم یې؛ که یې څوک ولولي کولای شي په کور کې په یوه دقیقه کې یو ټن شیشه تولید کړي.

پلورونکي د هغه لېوه په څېر چې غوښه په خوب ویني ویې ویل: چېرې دی کتاب؟

ناولي سړي وویل: په کور کې دی!

په بېړه یې پینځه سوه افغانۍ له دوه ګرامه هېروئینو سره ورته ورکړل او له خپل شاګرد سره یې د کتاب له پاره کورته ولېږه، شاوخوا نیم ساعت وروسته چې بېرته را وګرځېده، کتاب یې د مقدسو کتابونو په څېر په څو پوښونو کې پوښلی راوړ، ژر یې خلاص کړ، لومړی د هېټلر انځور او سور پوښ و، سر ښوونکي ورو، ورو ورته وویل: له کتاب سره جوړه د باندې ووځه په خدای که دې ونیسي وژني دې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پلورونکی له ځایه پاځېده ناڅاپي سترګې پرما ولګېدې را نږدې شو او په غوږ کې یې راته وویل: ویاند لالا! ته خو ورور یې ستا عمل هم شیشه ده. دا دی کتاب مو پیدا کړ سر له سبا څخه خپله شیشه جوړوم کله مې چې کتاب ته وکتل نو د هېټلر نبرد من کتاب و.

په داسې حال کې چې سر ښوونکي له پلورونکي نه یو څو ګرامه او څو زره نورې هم اخیستې وې، د جګړې د لومړۍ کرښې د فاتح په څېر یې ګامونه ګړندي کړل او تر پل سوخته لاندې یې د قمار بازۍ میدان ته ځان نږدې کړ.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د دنیا پای

زه وم او یو خونړی روږدیتوب، پل سوخته و او ټوله هغه بدبختي چې زما پر بدن یې څپه خوره کړې وه، فکر مې کاوه چې د ژوند وروستي وختونه مې دي، هرڅه تر نظر تیاره او کرکه مې ترې کېده؛ له ټولو هیلو مې زړه وینځلی و، له ډېرې پراخۍ سره سره ځمکه راباندې تنګه شوې وه. احساس مې کاوه چې په پرېښودل شوې هدیره کې د قبر پرسر مرګ ته انتظار پاتې یم.

یوه له تکراري ورځو څخه چې اسمان راته لوړ، ځمکه سخته، ستوماني او خمار خپله غېږ راته پرانیستې وه، د سید هادي یو خوربېږ نیم ګرام شیشه راکړه او ویې ویل: سید هادي وویل چې دا شیشه واخله او موټر دې چې د پل سوخته سره دی کېبل کوم یې او تر هرځایه چې ته وایې بیایو یې، همدارنګه وایي چې زه نور څه نه شم کولای.

زما موټر یې په یوه بل موټر پسې بسته کړ او له پل سوخته څخه تر هوایي پله چې د افغانستان ملي بیرغونه ورباندې رېپېدل راوسته، په همدې ببګاه مې نیم ګرام ټوله شیشه وڅکوله او وروسته ویده شوم، دومره سخت ویده شوی وم چې دوه ورځې راباندې تېرې شوې وې کله چې راویښ شوم لوږې، خمار او رنځ بیا راګیر کړی وم. له سترګو څخه مې اوبه څڅېدې او دې دربېدو توان مې له لاسه ورکړی و. له موټر څخه هم چېرته نه شوای تللی، بې حاله او ضعیف د موټر له څنګ سره پروت وم، په همدې بې حالی کې مې حالت صفر شو، حس مې کاوه چې نور مې ژوند پای مومي او وخت یې رارسېدلی دی چې له دې شوم ژوند څخه نور خلاص شم او مړ شم، په داسې حال کې چې مرګ ته تسلیم شوی وم، په همدې مهال

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مې د موټر ښیښه وټکېده، سترګې مې چې پرانیستې ګورم چې یوه ښکلې هزاره نجلۍ ده، په لاس کې یې دوه پاکټه ایرانی کېک و هغې راته وویل: دا واخله ویې خوره، زه هره ورځ دندې ته ځم، تاهم پېژنم خبریال وې، لومړۍ او دویمه ورځ مې فکر کاوه چې مړ شوی یې مګر د شپې مې په کور کې احساس وکړ چې نه شاید ژوندی به وې، په همدې خاطر مې دا درته راوړل، دا وخوره چې په وجود کې دې یو څه انرژي پیدا شي او په خود راشې.

په دقیق ډول مې د هغې سترګو ته وکتل چې د ښکلو او کوچنیو سترګو زړه کې مې نستوه ولیده چې په دې ځلانده ورځو کې په خپرونو کې ښکاره کېده، مغرور، سرلوړی، چاغ او ښکلی و؛ نه پوهېږم چې څه حس مې درلود، کله مې چې کېک او شیدې د هغې له لاس څخه واخیستل ژړا ونیولم، زړه مې ډک شو او په لوړ غږ مې چیغه وکړه هغې هم سخت وژړل، وروسته یې په خپل ژړغوني غږ وویل: مه ژاړه! تا چې وینم خپل ورور مې راپه یاد شي چې دوه کاله وړاندې په همدې پل سوخته کې مړ شو، اوس اکثره وخت داسې فکر کوم چې هغه د ډېرې لوږې له امله مړ شوی و... دا خبره یې وکړه او لاړه...

زه چې څو ژوندی یم له دې مېرمنې خوښ یم او ځان یې د احسان پوروړی بولم؛ په ریښتیا هم ځوانمرده نجلۍ وه، وخت مې نه درلود چې د انساني سلوک او ښه والي په اړه یې فکر وکړم، سترګې، غوږونه او زړه مې یوازې د خوراکي توکو خواته وو، په چټکۍ سره مې کېک او شیدې وخوړل؛ لږ انرژي مې په بدن کې پیدا شوه، تریوه حده موړ شوم، لوږه مې کمه شوه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

او د ارام احساس مې وکړ، مګر د شیشې خمار او د ژور درد رېښو مې لا هم په بدن کې زګېروي کول.

هره لاره مې چې ذهن ته راتله فکر مې پرې کاوه. ناڅاپي په دې سوچ کې شوم چې د موټر بطرۍ مې واخلم، د پل سوخته بېخ ته یې یوسم او ویې پلورم، په ډېرې سختۍ سره مې له موټر څخه بطرۍ خلاصه کړه، په اوږه مې کېښوده او د پله بېخ ته مې یوړه؛ کله چې د پل سوخته لاندې ورسېدم، د سید هادي شاګردانو ولیدلم، یوه یې وویل: دغه دې ویاند صیب اوس دې غلا ته شروع وکړه، بطرۍ دې له کومه کړه؟

خبرې یې داسې تاثیر را باندې وکړ چې ګواکې زړه مې په توره پرده وپوښل شو او له دې سره مې په ډېره غوسه چیغه وکړه؛ اې بې انصافه! زه غل نه یم، د خپل موټر بطرۍ مې د خرڅلاو له پاره راوړې ده، وروسته یوه هلک د یوه ګرام شیشې په بدل کې بطرۍ له ما واخیسته...

بېرته راغلم خپل موټر ته، دا یو ګرام شیشه هم خلاصه شوه، حالت مې مخ په خرابېدو و، څلور/پینځه میاشتې کېدې چې کورته نه وم تللی، خپله مېرمن، مور، پلار او خور مې نه وو لیدلي... حالت مې ډېر خراب و سیګرېټ مې څکول او د کورنۍ د هر یوه غړي څېره مې د سترګو په وړاندې انځورېده، د مېرمنې مسکاوې او له روږدیتوب څخه وړاندې د مور خېګانونه... دا ټول زما ذهن ته راتلل. په همدې شېبه کې زما ترڅنګ یو کورولا موټر ودرېده، یو کس راغی له نږدې مې ولیده چې د دهبوري / فردین دی، دا زما موټر چلوونکی و، کله یې چې ولیدم ویې ویل: زه ډېر ژر استاد ته خبر ورکوم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دوه ساعته لا نه وو تېر شوي، چې پلار مې راورسېده، داسې احساس مې کاوه چې ډېر به راته په غوسه وي او ما به سخت تهدید کړي، ځکه پلار مې و، غرور مې یې ورمات کړی و، ځورولی مې و، د هیلو او خیالونو له اسمانونو مې د هغه لمن ځمکې ته را لنډه کړې وه، ویښتان یې سپین شوي وو، خو هغه برعکس په پوره مهربانۍ او مینې سره زه د فردین په موټر کې کښېنولم او ویې ویل: ځه لاړ شه کورته، زه به دا موټر په کوم بل موټر پسې وتړم او کورته به یې درولم...

کله چې کورته راغلم، زما په لیدو سره ټولو چیغې پیل کړې او ژړل یې... سمه ده، طبعي خبره ده چې حالت مې د افسوس وړ و، په دې ځواکمنتیا او ځوانۍ کې پر خاورو پرېوتی وم او ټول ژوند مې له لاسه ورکړی و، زما په لیدو سره به خود زما کورنۍ او دوستانو اوښکې تویولې؛ مور، خور، مېرمن مې او ټول را ښخه ناهیلي شوي وو، کله چې زما مېرمنې ماته غسل را کاوه، نرۍ نرۍ اوښکې یې له سترګو راوتلې او ژړل یې، ځکه زه په یوه وچ او وحشتناک اسکلېټ باندې بدل شوی وم، پلار مې کورته راغی، شپه مې په کورکې تېره کړه؛ سبا سهار یې د جنګلک سل بستریز روغتون ته بېولم، په روغتون کې یې ماته یوه ځانګړې کوټه نیولې وه، له ځلوېښتو ورځو وروسته د جنګلک له روغتون ښخه رخصت شوم، موده وروسته یې زه په جنګلک روغتون کې د رضا کاره ټولنیز کار کوونکي په توګه جذب کړم، یوه موده مې بې معاشه کار وکړ، دا وخت فقر او بېوزلۍ سخت ځورولم...

یوه ورځ په میرویس میدان «کوټه سنګي» کې د کور په لور روان وم چې د کمپنۍ موټرو له تم ځای سره په ناڅاپي ډول بیا له «سید هادي» سره

مخ شوم، ویې ویل: خوښ یم چې په جنګلک کې کار کوې او پوهېږم چې معاش نه لرې.

پینځه سوه افغانۍ او یو ګرام شیشه یې راکړل او ویې ویل: دغه شیشه واخله، که دې بیا هم اړتیا پیدا کېده یوازې له ماسره په اړیکه کې شه، ګوره چې بیا دې پله ببخ ته لاړ نه شې! راځه چې اوس لاړ شو، لږ خبرې به وکړو.

په میرویس میدان کې یوه سرای ته لاړو، دلته ټول شته ځوانان د شیشې ځکولو په حال کې وو، له کښېناستو سره سم یې ماته وویل: راځه چې له دې ځایه لاړ شو، ځکه دا ښه ځای نه دی.

بیا هماغه کوټې سنګې ته د کېشمن ودانۍ مخامخ هلته یوځای لاړو، دلته دې غمي په نوم یو کس و، دا سړی بوډا و، هغه ته یې وویل: غمیه! نستوه که د شپې دلته راتله یا هم دې ورځې ګوره چې مزاحمت ورته ونه کړې.

غمي وویل: «په سترګو» هغه شیشه یې چې ماته راکړې وه، راومې ایسته، له بده مرغه چې بیا بدبختي راګیر کړم، له دې وروسته بیا ژر خپل کورته داخل نه شوم...

تل مې یو احساس پروړاندې درېده او راته ویل یې، چې کورته مه ځه همدلته اوسه کار دې کېږي، له غمي څخه مې ببرته پل سوخته ته لار ومونده، خو دا ځل د شمس الله په نوم له یوه بل کس سره چې ډېر قوي و او ټول د «شمک» په نوم له هغه سره اشنا شوي وو، زه بیا تر پل سوخته لاندې ښن شوم او سید هادي بیا خپله پښه د باندې راوایسته، بله لاره نه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وه پاتې، یوه ورځ د شمک خواته ورغلم، ورته ومې ویل: مشره سخت خمار یم، زه هماغه خبریال یم «نستوه نادري» هیله کوم نیم گرام شیشه خو ماته راکړه؟

ویې ویل: نه یې لرم...

د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې د حوزو مسئولینو کله کله مواد راکول، کله چې سید هادي ولیدل چې په بشپړ ډول له پښو لوېږم، په بشپړ ډول راځخه بېگانه شو، هغه ورځ مې هېڅکله هم له یاده نه وځي چې لس ځلې مې «سلام» ورکړ خو ځواب یې رانه کړ، په ورته وخت کې یوه شپه د کابل امینه قوماندانۍ د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې ځواکونه پل سوخته ته راغلي وو، د میان احمدي په نوم د کابل د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې له مدیر سره اشنا شوم، و مې غوښتل چې د خپل ژوند یو شمېرحقیقتونه ورته بیان کړم، خو هغه زما خبرې وانه ورېدې... په ناڅاپي توگه یې دوه همکاران راغلل او زه یې په «ځاپړو» ووهلم.

ډېره زیاته عقده مې واخیسته، په یوه څنډه کې کښېناستم او ومې ژړل؛ شپه مې په یوه خېمه کې تېره کړه چې سهار مهال د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې مامورینو او سرتېرو په ښکنځلو راویښ شوم.

د فنېکس روغتون د روږدو د راټولولو ټیم د روږدو د ټولولو له پاره راغلي وو، زما په گډون شاوخوا دوه سوه تنه روږدي یې راټول او فنېکس ته یې روان کړو، کله چې د فنېکس انگړ ته ورسېدو، روږدو غوښتل چې پاتې مواد هم مصرف کړي خو یوه ټولنیزکار کوونکي په غوسه د دوی د دغه کار مخنیوی وکړ، خو ما خپل غږ اوچت کړ ورته ومې ویل: ته حق نه لرې چې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له روړدو سره په دې ډول چلند وکړي، کار کوونکی رانږدې شو څو ما ووهي، په ناڅاپي توګه ګڼ شمېر روږدو په يوه غږ سره چيغې کړل چې مه وهه! د روغتون له مسؤولينو څخه يو کس راغی او له مايې وپوښتل: څه غواړې؟

ورته ومې ويل: ما ازاد کړئ.

لومړی يې ډېر ټينګار وکړ، څو لاړ نه شم، خو وروسته پوه شول چې د تګ له پاره زما پرېکړه جدي ده، په همدې خاطر يې زه ازاد کړم، هېڅ مې له ياده نه وځي چې د ټولنيزو کار کوونکو له ډلې د ښاغلي کمال ناصر په نوم پنځوس افغانۍ راکړې، څو خپل ځای ته ځان ورسوم، تر دهمزنګ پورې د يوه څښاک (شراب) پلورنځي له څنګ سره تېرېدم، پلورونکي ته مې وويل: ما سقوط کړی دی لږ څښاک (شراب) راکړئ.

ويې ويل: کوم ډول شراب؟

ځواب مې ورکړ: وطني شراب چې په پلاستيکي کڅوړه کې ساتل کېږي.

څښاک (شراب) يې راکړل، ورته ومې ويل: صبر دا پلاستيک بوی کړم، همدا وخت مې ژر د خلتې خوله سوری کړه، په سر مې واړوله او په يوه دمه مې ټوله خالي کړه.

پلورونکي راته وويل: «پيسې يې راکړه»

ځواب مې ورکړ: نه يې لرم!

شايد وږی به وم او يا به هم شرابو نشه کړی وم؛ په همدې حالت کې مې د منتو پلورونکي په کراچۍ چې د شراب پلورنځي مخې ته ولاړه وه سترګې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ولگېدې، د کراچۍ خواته مې ورمنډه کړل، شل افغانۍ مې په لاس کې وې، دا مې منتو پلورونکي ته ورکړې، کله یې چې لوښ ته وکتل، راته ویې ویل: په شل افغانۍ نه شې کولای چې منتو وخورې دا لږ دي.

په همدې وخت کې یو ځوان راغی، منتو پلرورونکي ته یې وویل: «منتو ورکړه»

کله چې منتو پلورونکي منتو راکړل، منتو مې په ډېره بېړه وخوړل ځکه ډېر وږی وم، د منتو له خوړو وروسته ځوان راته وویل: «زه غواړم له تاسره یوه لنډه مرکه وکړم.»

ځواب مې ورکړ: نه!

هغه وویل: تا چې ټول عمر له خلکو پوښتنې وکړې، اوس پرېږده چې خلک له تا هم څو پوښتنې وکړي.

ومې ویل: پوښتنه وکړه!

په همدې بد حالت کې چې ما درلود، هغه له ما څخه پوښتنې پیل کړې. ما د ټولو پوښتنو ځوابونه ورکړل او وروسته یې مرکه پر فیس بوک خپره کړه.

د مرکې په پای کې یې پینځه سوه افغانۍ راکړې، هغه مې واخیستې او سیخ پول سوخته ته لاړم؛ په هماغه شپه مې دوه سوه افغانۍ مصرف کړې، درې سوه افغانۍ یې راسره پاتې وې، سبا میرویس میدان ته د کاکا نبي حمام ته لاړم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د کاکا نبي له حمام وروسته چې نوموړی یو مهربانه مشر سړی و او له ماسره یې ډېرې ښې اړیکې هم درلودې، په دهلېز کې یې اوږد وغځېدم او ویده شوم، دری ساعته وروسته کاکا نبي له خوب نه پاڅولم او ویې ویل: (نستوه جانه، ته زموږ با استعداده او پوه خبریال وې، اوس په تا باندې څه شوي دي؟ ولې هڅه نه کوې چې کورته لاړشې؟)

کاکا نبي ته مې ځواب نه درلود، په ژړا شوم، کاکا نبي هم له ماسره په ژړا شو...

زما په اړه د خلکو لید لوری بشپړ بدلون کړی و، هغه مشهور نستوه چې خپرونې یې ډېرې په زړه پورې او هیښوونکې وې او هره ورځ به په یوه نوې او توده موضوع باندې د خلکو په ژبه و، خو نن په یوه داسې روږدي باندې بدل شوی دی، چې حتا د خپل ځان له پاره ډوډۍ هم نه شي برابرولی، د دغه عجیبو فکرونو او د وجدان سختو شکنجو له امله د پل سوخته په لور روان شوم، کله چې پل سوخته ته نږدې شوم د پل سوخته سره د پولیسو رنجرې ولاړې وې، د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې پولیسو یوه کار کوونکي چې زه ولیدم، ویې ویل: نستوه جانه ښه شوه چې پیدا مو کړې، راشه په موټر کې کښېنه یو څوک درته انتظار دی.

گورم چې پلار مې په موټر کې راپسې راغلی و، په شرم او ټیټ سر کورته راغلم؛ د مېرمنې موبایل مې واخیست او فېسبوک مې خلاص کړ، گورم چې ډېرو خلکو زما په اړه لیکلي دي ځکه چې زما ویډیو یې لیدلې وه، د خلکو په منځ کې د اشرف حق دوست په نوم یو ځوان و، هغه راته ویلي وو: زه غواړم تا د درملنې په موخه له هېواده بهر هندوستان ته بوزم، له هغه سره مې اړیکه ټینگه کړه، خبره مې یې ومنله، د ښاغلي حق دوست د دې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کار او مرستې له امله د زړه له کومې مننه کوم، خو کله چې هند ته لاړم له ډېرو بدو شرایطو سره مخ شوم، د کستوري باغ په سیمه کې یې ماته کوټه نیولې وه، د شپې په کوټه کې یوازې پاتې شوم، سهار شاوخوا نهه بجې وې چې څلور کسان زما کوټې ته راغلل، چې په دوی کې یو ځوان ډېر غښتلی او تکړه و، دې ځوان زه په ډېر قوت سره له خپل ځای څخه پورته کړم، پوښتنه مې ترې وکړه چې تاسو څوک یاست؟ چا ځواب نه راکاوه... یوازې یې ویل چې (CFD).

ما چیغه وکړه: حق دوست، پلاره... حق دوست، پلاره... اما هغوی زما پرمخ توره کځوړه را کش کړه او په یوه موټر کې یې زه له ځان سره یوړم، څه کم یو ساعت د ډهلي له مرکز څخه لرې په یوه سیمه کې موټر تم شو، زما له سر څخه یې توره کځوړه لرې کړه، ګورم چې دلته یوه حویلی ده، بېخي ډېر سپي دلته موجود دي او د کوټو کړکۍ د زندان کړکیوته ورته اوسپنو په وسیله بندې شوې دي.

زما له پاره ډېره سخته تمامېده، کله مې چې څېړنه وکړه متوجې شوم په کوم ځای کې چې زه بستري یم، دا دې ایډز ناروغانو د ساتنې کمپ دی، د دې کمپ داخل نهه نوي سلنه زندان ته ورته والی درلود، وروسته له هغه چې دوی په وهلو او ډبولو دلته راوړم، نور مې تر دریو میاشتو پورې د چا نوم هم وا نه خیست او دروازه هم چا راخلاصه نه کړه؛ یوازې دال او سپین پاستی مې خوراک و، دې خوړو زه په سخت قبض اخته کړم، دلته د ازادۍ هېڅ څرک نه تر سترګو کېده...

په ورته وخت کې په افغانستان کې اوازه خپره شوې وه، چې نستوه په هند کې د روږدیتوب د پرېښودو له امله اوس کاملاً جوړ او ښه تندرسته

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شوی دی، چې ډېر ژر به ډېرته خپل هېواد ته راوګرځي؛ یوې افغانې کورنۍ د عزیز په نوم خپل زوی دلته د بستري کېدو له پاره راوستلی و، د عزیز حالت مې چې ولیده، زه سخت ودردېدم، ځکه پوهېدم چې دا ځای د هغه له پاره ډېرګوابنوونکی دی، نو په همدې خاطر مې زړه پرې سوځېده.

یوه ورځ یې د ړیرې پل واخیست او خپل شریان یې پرې کړ؛ د دې کار په جزا کې د دې مرکز مسؤلینو تصمیم ونیوه چې نوموړی جبرً بل مرکز ته بوځي. ما نه شوی کولای چې غلی پاتې شم، له مسؤلینو مې د خیر، ښېګنې او مهربانۍ غوښتنه وکړه، هغوی وویل سمه ده، د شپې لخوا یې یو ډول درمل راکړل چې یوه اونۍ مې یې خوله را کړه کړه، خبرې مې نه شوې کولای او عزیز یې په دې ټولو سربېره بیا هم له ځان سره یوړ... څو اونۍ وروسته یې بېرته راوست او همدلته یې بستر کړ.

د عزیز ټول وجود په بشپړ ډول شړېدلی و، ده ماته خپله کیسه وکړه: « داسې یوه ځای ته یې زه بېولی وم چې د ځان وینځلو له پاره یې یو تشناب هم نه درلود، د سړښت او یخ په موخه یې یوه باد پکه راته چالانه کړې وه، داسې احساس مې کاوه چې په یخچال کې پروت یم.»

په هند کې د درملنې دوره، زما د ژوند تر ټولو دردمنه او سخته دوره وه؛ زما زړه و، چې څلور ژوندۍ خپرونې جوړې او خپرې کړم، د دې خپرونو په لړ کې له ښاغلي حق دوست څخه مننه وکړم او د دې ترڅنګ ورته ووایم چې دا دې څنګه ځای ته راوستلم او څه راسره کېږي؟ مګر زه د دوه تیرو په مینځ د کوچنې کېدو/ اوبه کېدو په حال کې وم، یوې خواته مې فکر کاوه چې حق دوست صیب خو له ما سره د یوه ښه نیت پر بنسټ مرسته کړې ده، خو بلې خواته دلته داسې څه راسره کېدل، چې د انسانیت له

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

چوکاټه بهر وو...لومړی خبره دا وه چې داسې فکر کېده چې زه دې نړۍ په کچه د روږدو کسانو یوه غوره روغتون ته بېول شوی یم، په داسې حال کې چې دا ځای له زندان څخه هم بدتر و او هېڅ ډول امکانات یې نه درلودل، ما به چې کله ځینو ملگرو ته د جنګلک او د فنېکس د روغتونونو کیسې کولې، دوی به داسې احساس کاوه چې ګواکې دا خو ښځې جنت ته ورته روغتونونه وو.

دغه کار د ښاغلي حق دوست له پاره یو ښه بستر جوړ کړ، یوه رتبه ترفع یې وکړه او وروسته د نیمروز ولایت د امنیت مدیر شو، خو بیا هم هغه له ما څخه دا هیله درلوده چې په هر لایف خپرونه کې له حق دوست څخه ځان پوروړی اعلان کړم، بل اړخ ته له دې څخه وېرېدم چې څنګه کولای شم دا ټول درد چې ما په هند کې تېر کړي دي بیان کړم او که زه دا کار وکړم امکان لري حق دوست او نور خلک باور ونه کړي، ځکه دلته دا خبره مشهوره ده چې هند پرمختللی ملک دی او روغتیایي برخه خو یې ښځې ډېره معیاري او له نعمتونو ډکه ده، خو د الله شکر ادا کوم چې په همدې وخت کې عزیز چې له ماسره په هند کې په یوه روغتون کې بستر و، راپیدا شو، ښه خبره دا وه چې هغه اوس شکر له روږدیتوب څخه روغ شوی و او دا هغه څوک و چې په هندي روغتون کې د هرڅه شاهد و.

په «لاچپت نګر» کې ښاغلي دوست ټینګار کاوه چې فلم څه ډول پای ته ورسوم، په پای کې له خپل ځایه پورته شوم، چیغه مې وکړه! اې خلکو! اې افغانانو! ښاغلی حق دوست دری میاشتې کېږي چې زه یې د زندان په څېر په داسې یوه ځای کې ساتلی یم، هغه لا هم وایي چې فلم باید په یوه ښه او غوره بڼه پای ته ورسوم، د دې پرځای چې زه ووایم چې زه په ډېر

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بد حالت کې تداوي شوم، باید ووایم چې د ډېرو ښو امکاناتو په موجودیت او په ډېر ښکلي محیط کې تداوي شوم.

وروسته له دې چې له «لنډ مهالې نشې څخه ووتم» د حق دوست د خپلوانو له ډلې څخه یو کس و، چې ترجمان و او د دې دندې په بدل کې یې زر ډالره معاش اخیسته، زه یې هغه ته وروستلم څو خپلې پیسې بېرته ترې واخلم، ښاغلی عزیز هم شاهد و، هغه هم له هغه کس څخه بېرته زر ډالر واخیستل، په یو ترجمان باندې زر ډالر درلودل زه یې هغه ته وروستلم څو پیسې بېرته ترې واخلم، ښاغلی عزیز هم شاهد دی چې سیټي واک ته ولاړو او خپل زر ډالر یې له هغه سړي واخیستل وېره یې درلوده چې زه یې په اړه فېس بوک کې څه ونه لیکم.

په دغسې حالت کې زه بېرته کابل ته راغلم، زه ډېر خپه وم او عقدې اخیستی وم، کله چې ما په ویډیو کې خبرې وکړې، د پل سوخته په اړه یې زما د روږدیتوب اړوند کومه ویډیو چې خپره کړې وه، هغه یې هم له منځه وړې وه، ما پخپله پاڼه په یوه ژوندۍ خپرونه کې د کابل د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې مدیر ښاغلي میان احمدي په اړه په دې خاطر چې دوه همکارانو یې زه وهلی او ډبولی وم خبرې وکړې، مگر ښاغلی لمر خلیل د نشه یي توکو پروړاندې د مبارزې قوماندانۍ د کشف مدیر چې زما ډېر څوانمرده ملگری و له ماسره یې اړیکه ونیوله او ویې ویل: ښاغلي میان احمدي خپله غوښتنه کړې ده چې راشه د پل سوخته انځورونه واخله او ویې گوره چې څه ډول دي، کله چې پل سوخته ته لاړم، ښاغلی میان احمدي په یو لنډکروزر موټر کې ناست و، راته ویې ویل: زه سخت انتقاد منونکی یم، تا زما په اړه ویلي و چې د مافیا په ترویج کې زه هم لاس لرم،

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نن وګوره چې د لومړي ځل له پاره زما د مدیریت په دوره کې دغه پل پاک کېږي، وروسته له هغه چې د مخدره توکو پروړاندې مبارزه کې ما د ښاغلي میان احمد احمدي پروګرامونه وکتل، هغه وخت مې د هغه رښتینې څېره وپېژندله.

هغه په ډېره چټکۍ او کم وخت کې پل سوخته او د علي مردان باغ له روږدو تش او پاک کړي و؛ خو د ده د دغه نېک اقدام او غوره فعالیت په خاطر دی د یوې دسیسې ښکار ګرځېدلی و، د کابل نشه یي توکو پرضد د مدیریت له دندې یې لرې کړی و او زندان ته یې اچولی و.

د شمس زماني په نوم بل لوی مواد پلورونکی د میان احمد احمدي د سرتېرو لخوا ونیول شو، هغه په خپلو څرګندونو کې د دې په موخه چې ګواکې له ښاغلي میان احمدي څخه یې خپل غچ اخیستی وي، لیکلي وو چې میان احمد احمدي له هغه سره همکار و، په همدې چل ښاغلی احمدي ونیول شو او له نیولو یې پینځه میاشتې وروسته د کورنیو چارو وزارت اعلان کوي چې موږ میان احمدي په همدې غلا کې نیولی دی، میان احمد احمدي په اووه لس کاله بند محکوموي او ښاغلی لمر خلیل هم په اتو کالو بند، ځکه د ښاغلي لمر د بندي کېدو په پار هېڅ ډول قانع کوونکی دلیل نه و موجود.

محاکم ښاغلی لمر خلیل ازادوي، چې له ازادېدو وروسته یې خپل کورته نږدې د مافیا لخوا په شهادت رسېږي او د میان احمد احمدي په زنداني کولو سره پل سوخته تر پخوا څخه لا قوي پرانیستل کېږي او پاینښت پیدا کوي، د علي مردان باغ چې د ښاغلي میان احمدي په وخت کې له اوسېدونکو خالي شوی و، خو نن له بده مرغه په کابل کې د نشه یي توکو

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

تر ټولو لوی او ګڼې ګوڼې په بازار باندې بدل شوی دی؛ پوښتنه داده که چېرې ښاغلي میان احمدي فاسد شخص و، د خپل فعالیت پرمهال یې پل سوخته او د علي مردان باغ وتړل او هغه خلک چې نن ځانونه ژمن ښيي، د فعالیت پرمهال یې څه ډول دغه دوه لوی او با نفوذه ځایونه په کابل کې د نشه يي توکو پر ځواکمنو ځایونو بدل شوي دي؟!

د هند تر درملنې وروسته زما د روږدیتوب شدت ځواکمن شو او عقده مې لا غښتلې شوه؛ د جنرال اندرابي زوی ښاغلي میهن مومن د هند له درملنې وروسته د خدمات ملت په نوم په خپل شرکت کې د دریو میاشتو له پاره ماته یو کار برابر کړ چې په دې موده کې مې وکولای شوی څو د جنرال مومن د ژوند او مبارزو مستند فلم جوړ کړم، په هغه ځای کې زما د کار له پای ته رسېدو وروسته ډېرې بېکارۍ یوځل بیا هماغه انسان خوړونکي ښامار پل سوخته ته وګرځولم، د درېیم ځل له پاره روږدی شوم، دا ځل مې پلار د ډګروال میر امان الله ظافر په همکارۍ د پولیسو دری سوه بستریز روغتون ته بوتلم او هلته یې د روږدو کسانو په څانګه کې بستر کړم، مګر له هغه ځای څخه تر وتلو وروسته مې بېرته اعتیاد روږدیتوب ته مخه کړه، پلار مې بیا هم غلی پاتې نه شو، دا ځل یې زه د دارلامان څلوېښت بستریز روغتون کې بستر کړم، هلته مې د کتاب د لیکلو په پار په ذهن کې لومړنۍ خبرې راژوندۍ کړې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د تیارې بل اړخ

ډېر ډنگر و، مگر ښکلا یې حیرانوونکې وه، شاوخوا اتلس کاله عمر یې درلود، په دولس کلنی کې یې روږدیتوب ته مخه کړې وه، د ژوند داستان یې د تراژیدیو او غمونو څخه ډک دی، چې په یاد راوړلو سره یې د انسان د بدن ویښتان پورته کېږي، په څلورویشتو ساعتونو کې اته ځلې عصبي حمله پرې راغلې ده، «همونیا» «فید» «الکترولید» یا «مېرگي» په هرځل حملې سره یې د پوزې له سوریو څخه د وینې سېلاب جاري کېده، حس مې کاوه چې ممکن هره شېبه یې عزرائیل ساه واخلي مگر د هغه وضعیت او ژوند ته حتا عزرائیل علیه سلام هم خپه کېده، البته دا زما خپل فکر او مهرباني ده، په دې ډول هغه یې د ژوند اخیستو څخه لاس په سر کېده.

څنگه کولای شم چې هغه سختې، سړې او د زړه تنگون ورځې هېرې کړم!؟ هغه ورځې چې د معتادینو د درملنې څلوېښت بستریز روغتون د زهرو د له منځه وړلو څانگه کې بستري وم، لوړه، د روږدو وهل او ډبول؛ د روږدو ځورېدل او عذاب، تر ټولو دردوونکې، غمجننې، ترخې او خړې ورځې، دا هغه شېبې دي چې زما په زړه کې د هغه انځور په څېر چې د پولادي مېخونو په واسطه په تېږه کې حک شوې وي. د هغه ښکلې اتلس کلن هلک مرگ او ساه ورکول چې زما مخامخ مېز کې بستري و په وجود خاطراتو کې مې حک شوي دي، هغه زموږ د سترگو پروړاندې ساه ورکوله او موږ یوازې ورته کتل.

ډېر ښکلی و، تردې حده ښکلی و، چې زه یې د قلم په واسطه کلمو کې ښکلا نه شم انځورولی، سترگو یې یوه ځانگړې ښکلا درلوده، چې د هغه د څېرې ښکلې برخه یې جوړه کړې وه، هغه شاید د عدسیې په واسطه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ترټولو ناوړه پېښې لکه: د موادو پلورونکو د نفساني غوښتنو، د شاوخوا زیان رسوونکو او په انتظار پاتې مور د ستومانه بڼو...

توره شپه د روغتون له کوچنۍ کړکۍ څخه خوره وه، د ناروغانو زګېروي او دردونه هغه غږ و چې زموږ د ارامه کوټې وضعیت یې ناارامه کاوه، د روښانه څېراغ په روښانه سیوري کې مې ورته کتل چې سترګې یې د کوټې چت خواته ژورې پاتې وې، خپل دردونه او غمونه یې یوازې د کوټې له چت سره تېرول.

د وجود په داخل کې یې سړې، سختې او تورې ورځې د سیګرېټ د دود په څېر ګرځېدې او حسابولې یې، هغه په خپل خام خیال او فکر سره ناځوانه کسان تر ټولو ځوانمرده ګڼل او هغه کسان چې د انسانانو وینې یې تویولې هغوی یې ژغورونکي بلل. خپل غمجن او دردونکی ژوند مې یوې خواته او زما مخامخ تخت کې د تراژیدۍ ننداره هغه څه وو، چې هره شېبه مې د سترګو پروړاندې انځورېده.

دې کړاوونو او تراژیدیو به لاسونه سره یو کړل او زه به یې د وحشتناکو او وېرونکو خوبونو نړۍ ته بېولم، شپه په خپله ټوله تاریکۍ سره چې لري یې، د سهار د روښنایۍ پروړاندې تیاره نه شوه خورولی او د دې پیغام په اساس چې په هرې تیارې پسې رڼا شته او هره تیاره خپل ځای روڼ سهار ته ورکوي.

سهار و، د پاکولو (سم زدایی) یا (Detox) بېړنۍ کوټه کې بستر مور د پاکولو (سم زدایی) یا (Detox) بېړنۍ کوټه کې بستر و، سهار مور، په معالجوي معالجو ډاکترانو زموږ له کوټې څخه د ناروغانو ارزونه پیلوله، په معالجوي برخه کې دوه - درې محدود ډاکتران وو، نوی یو ډاکتر چې د غرور لوړو ته

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

رسېدلی و، تازه د روغتون د معالجوي څانګې مسؤل ټاکل شوی و، کله چې زموږ کوټې ته راته، فکر به دې کاوه چې ابوعلي سینا کوټې ته را دننه کېږي، په ډېر غرور سره یې روغتیا پالنه کوله او په داسې حال کې چې تمثیلي غوسه کېدل یې هم زده و نو د ناروغانو په اسنادو کې به یې هرڅه له خپل زړه لیکل.

دغه سهار ډنګر هلک اته عصبي حملې تېرې کړې وې، د خبرو کولو توان او انرژي یې نه درلوده او د ډاکتر په تمه و، په پای کې داسې حالت ته ورسېده چې لږ همکاري ته یې هم اړتیا درلوده، څکه ببخي له ټپکه غورځېدلی و، خو له بده مرغه چې هېڅا پام نه ورته کاوه، ما د ارزونې پرمهال هغه ځوان او مغرور ډاکتر ته وویل: ښاغلی ډاکتر! موږ له پرون سهار راهیسې تر اوسه پورې په دغه ځوان باندې د اتو عصبي حملو شاهدان وو، چې پوزې څخه یې وینې هم بهېدې، په ناڅاپي توګه یې د ځوان خواته ورپام شو، د پوښتنو او ځوابونو د ترلاسه کولو په پای کې چې کله ډاکتران د ده له حالت څخه خبر شول، په وېره کې شول، داسې ونه شي چې هغه د دوی تر کنټرول لاندې په روغتون کې ومري، د هغوی زړه و چې په کم وخت کې ډېر ژر او د همدغه حالت په بهانه کولو سره هغه میوند روغتون ته ولېږي.

ډاکتر له هلک وپوښتل: پایواز دې څوک دی؟

هلک ځواب ورکړ: ورور مې دی.

ډاکتر وویل: ورور دې څه کار کوي؟

هلک ځواب ورکړ: روږدی و، نوی روغ شوی دی او بې کاره دی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ډاکتر خپل یوه همکار ته ځیر شو او ویې ویل: پایواز یې باید راشي او دغه هلک دې میوند روغتون ته بوځي او یا دې څو دانې ویټامین (k) امپول راوړي چې ورته تطبیق یې کړو.

د هلک سترګې له اوښکو ډکې شوې وې، پرسپین بې وینې مخ او شونډو بې اوښکې راروانې وې.

ډاکتر وپوښتل: ولې ژاړې؟

هلک ځواب ورکړ: ډاکتر صیب! کومه ورځ یې چې زه دلته راوستلم او بستر یې کړم، ورور مې زموږ له ګاونډي څخه زر افغانۍ پور واخیستې او زه یې دلته راوستم، فکر نه کوم چې د پیسو د نه موجودیت له امله هغه دلته راشي.

له خواشینۍ نه مې زړه ډک و په مخ او شونډو مې اوښکې روانې وې د هلک د ژړا له امله رامنځته شوې چوپتیا د ډاکټر د پوښتنو غږ ماته کړه: «پلار دې چېرته دی؟»

د هلک ستونی ډېر نیول شوی او درد یې درلود، ژړا د خبرو کولو مجال نه ورکاوه، په ژړا او دردمن حالت کې یې ډاکتر ته ځواب ورکړ: «پلار مې عملي دی، پلار مې روږدی دی!»

د هغه په دې خبرو سره په کوټه کې مطلقه چوپتیا رامنځته شوه. مګر هغه ناوړه درد او ژړا چې زما ستونی یې نیولی و له منځه لاړ. هغه ناولې برستن چې شاید له ما څخه د مخه هم سلګونو روږدو خپل ژوند په کې تېر کړی و، په خپل سر مې راکش کړه او ومې ژړل هغه ژړا چې غږ یې نه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

درلود، خو په ډېر جوش او شدت سره زما له سترګو اوښکې بهېدې او د هلک د مظلومیت په لویوالي کې مې فکر کاوه.

نه پوهېږم چې دغه وضعیت ولې زما د راتلونکي په اړه ډېر دردناک او تور انځور زما په ذهن کې جوړ کړی و، زه یې د خپل ژوند راتلونکي ته بېولم، چې له نن څخه وړاندې څو کلونه تېر شوي دي، جوړ او غښتلی زوی یې د ناروغۍ په بستر پروت دی، فقر او بېوزلي د هغه د بدن بند بند ځوروي؛ د ډاکتر د پوښتنې پروړاندې چې په خورا کبر سره ورته وايي: چې پلار دې څه کار کوي؟ هغه په رېږدېدونکي او مات شوي غږ ځواب ورکوي او ورته وايي: «چې پلارمې روږدی (متعاد) دی، پلار مې عملي دی...»

زړه مې کېده تر خپلې بد بویه او خیرنې بړستنې لاندې چیغې وکړم، زړه مې کېده چې له خپل ځایه جګ شم او د کوټې شیشې ماتې کړم او وروسته د خپلو لاسو رګونه ورباندې غوڅ کړم، زړه مې کېده له روغتون څخه وتښتم او د قرغې په بند کې ځان ډوب کړم، ښه مې په یاد دي چې یو ملګری مې درلود او په ډېر عاجزه (فقیرانه) توګه یې راته ویلي و: «نارینه د خپل وجود په داخل کې ژاړي، د نارینه په سترګو کې باید اوښکې ونه لیدل شي، که د وجود په داخل کې ژاړي یا هم کوم غم ولري، بیا یې هم په شنډو مسکا خوره وي او یو نارینه باید اوسپنیز خاصیت ولري.»

ډاکترانو په خپل مینځ کې وویل: څه وکړو؟ هماغه ډاکتر چې ډېر متکبر او سخت زړي و وویل: هېڅ، پایواز ته یې خبر ورکړئ چې د عصبي ناروغۍ د درملنې له پاره راشي او بو یې ځي، موږ نه شو کولای چې مسئولیت یې واخلو، که په همدې روغتون کې ومري ځواب به یې څوک ورکوي...؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هلک جسماً ډېر کمزوری و، په ډېره سختۍ یې له خپل بستر ځای څخه راپورته شو. ده له ډاکترانو د مهربانۍ او ترحم هیله درلوده، ورته ویې ویل: ګرانو ډاکتر صیبانو! هیله کوم، زما کورنۍ مه خبروئ، زه خپله رغېږم، که چېرې نورو روغتونونو ته د بېولو اړتیا وي او هغه امپولونه چې تاسو یاد کړل، ورور مې مجبوره کېږي چې راشي او داخل زه یقین لرم چې څوک قرض نه ورکوي. په همدې اساس دری میاشتې کېږي چې ورور مې پاک او روغ شوی دی، خو الله دې نه کړي، داسې نه شي چې بیا نشو ته مخه کړي او مخکینې حالت ته وګرځي.

ډاکتر وویل: ستونزه نه شته، پلار دې را غواړو.

هلک په لوړ غږ وویل: ډاکتر صیب، پلار مې هغه شپه چې دلته یې زه راوستم او بستر شوم، ده هغه وخت هغه ګیلمچه چې مور مې د روماتېزم له امله پرې ویده کېده، له کور څخه یې پټه کړه او د موادو په بدل کې یې وپلورله، هغه څنګه کولای شي چې راشي.؟

په ناڅاپي توګه یوه وېروونکي فکر د خپل ژوند راتلونکو شپېتو کلونو ته بوتلم او ومې ویل: شپېته کاله وروسته زما په کور کې یوه توټه ده، چې د روماتېزم ناروغۍ په خاطر مې مېرمن وربانديې ویده کېږي، خو زه دومره بې غیرته کېږم چې هغه توټه له خپل کور څخه پټوم، د مېرمنې د ناروغۍ خیال نه ساتم، هغه په لږو پیسو پلورم او ځان ته نشه یي توکې وربانديې اخلم؟ ننګ راګیر کړم، له ځان سره مې وویل: چې نه! نه! زه هېڅ وخت داسې بې غیرتي نه کوم، که مې اتلس کلن زوی ته یو شی ورکولای نه شم، نو ولې یو شی ترې واخلم او پټ یې کړم؟ نه غیرت، نه عزت او نه هم د یوه پلار له برم او عزمته ډک غرور...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کله مې چې جسمي او فکري حالت عادي حالت ته راوګرځېده. څلورو خوا ووته مې وکتل، ومې لیدل چې ټول ناروغان د ډاکترانو په شمول همغه ځوان ته متوجې دي او حیران ورته ګوري.

د یوه ډاکتر غږ راتله، چې ویل یې: ته ارامه ویده شه، موږ یو کار کوو. مګر ته هم یوه ژمنه او قول موږ ته راکړه، وروسته له دې چې هغه فکرونه او خیالات تا اندېښمن او غمجن کوي هېڅکله پام مه ورته کوه او مه ورته تسلیمېږه. د کوټې له ملګرو سره دې خبرې وکړه، وخانده ځو په دې ډول فشار درباندې کم شي.

په داسې حال کې چې د شونډو پرڅنډه یې ملیحه مسکا خوره وه، ویې ویل: په سترګو ډاکتر صیب، بېرته په خپل بسترکې پرېوت او اوږد وغځېده؛ ډاکتران زموږ له کوټې څخه ووتل او هلک یوځل بیا د خپل ژوند په هماغه غیر هندسي او غمجنه زاویه چې دا د ټولو بدبختیو پای دی د خپلو ښکلو سترګو په ګاټو کې بدرګه کاوه.

یادې ناروغې نوموړی لکه له پېړیو راهیسې د طاعوني کاروان د استبداد په څېر ځپلی دی او د جذام کورونو په څېر د غمجنې ناکامۍ زرګونه سره سندونه په لاس کې لري، په څېره کې یې د روږدیتوب نړدې د دوه لسیزو ژوند اخیستونکې، سوځوونکې، ستړې کسیې، غمجن او سوړ حالت کولای شو، پاڼه په پاڼه ولولو.

کله به مې چې د هغه غمجنې او خپه څېرې ته کتل، حس مې کاوه چې زما بدن، فکر او جوړښت لکه د یوه عصري انقلاب د رامنځته کېدو په څېر مات شوی دی، هغه انقلاب چې زما پېنځه کاله روږدیتوب (اعتیاد) ته یې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د پای ټکی کېښود. پر بدن مې د ځواک یوه قوي څپه خوره شوه او دې پایلې ته رسېدلی وم چې هو! نور روږدیتوب (اعتیاد) بس دی، زه باید په راتلونکي کې لکه تخریبوونکې سرطاني غده هره شېبه خپل ماشومان د شمعې په څېر ونه سوځوم. که څه نه شم ورکولای نو له دوی خو باید څه وا نه خلم.

په پښو ودرېدم، په داسې حال کې چې د کوټې ټول ملګري مې په خپلو ځایونو کې ویده وو، د خپل خوب د تخت ترڅنګ ولاړ وم، د مېز روک مې خلاص کړ کوچنی کتابچه مې چې لږ پاڼې یې لرلې او په منځ کې یې یو قلم ایښی و، دې کتابچې د یوه کس له پاره د انتظار شېبې تېرولې، چې د خپل ژوند څو کرښې د هغه پر سپینو پاڼو باندې ولیکي، د یوازې توب احساس مې درلود، بیا مې هم فکر کاوه، چې زما د ژوند او کتابچې ترمنځ یوه اړیکه شته، د لیکلو پیل مې د خپل روږدي ځان پروړاندې د یوه نوي انقلاب پیل و، هو! زما په ژوند کې سترې ارزښتناکې شېبې هغه جادویي کلمې وې، چې د درملنې پړاو مې په پوره قوت سره تېر کړ او په همدې توګه لا ځواکمن شوم...

قلم او کتابچه مې راواخیستل، لاړم د خوړنتون پرمېز باندې کېښناستم او خپل ځان ته مې وکتل، اوس د یوې سترې پرېکړې ځواک زما په وجود کې پیدا شوی و او دې ته یې اړ کولم څو د ژوند په اړه فکر وکړم، هغه څه چې تراوسه مې په ذهن کې هېڅ نه و تېر شوي، ما باید د اووه کاله ژوند لوړې او ژورې چې د روږدیتوب (اعتیاد) له امله رامنځته شوي وې د پاڼو پرمخ باید لیکلې وی، خو په هر صورت دا وخت ځواکمن شوی وم، قلم او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کتابچې له ځمکې څخه اسمان ته د هغه وخت په څېر چې کله روږدي نه وم د الوتلو وزرې غوړولې وې.

هو ما د بریا په پایله کې په خپل بې شعوره ضمیر کې یو جدي ماموریت حک کړی و، همدغه ځای د دارالامان څلوېښت بستریز د روږدو د درملنې روغتون د خوړنتون د مېز پرسر مې چې کله خپل قلم کېښود، په نا څاپي توګه مې دغه جمله «پل سوخته» «اخر دنیا» ولیکله، هو! پل سوخته د دې دیار د سوځېدلو وروستی ځای دی، چې هر وګړی له ځان سره د درنو کڅوړو او بارونو په څېر سوځېدلې (تیاره) او درانه داستانونه لري.

د خوښۍ ستره څپه مې پر ټول بدن خوره شوه، نور مې د کتاب نوم پرېښی و، کوم چې د وېروونکي ژوند کیسه بیانوي، چې ځینې خلک یې شاید لوستلو ته هم زړه ښه نه کړي. وروسته مې ځان مکلف وګاڼه چې د اووه کلونو تیارو مستند فلم د پل سوخته اخر دنیا کتاب له لارې وړاندې کړم، څو یې نړیوال واوري، چې روږدیتوب څومره تیاره، غمجن، د لوړو او ژورو ډک ژوند دی.

زه باور لرم چې د دې څنډې په پای کې به دغه کتاب زما د غمجن ژوند د پای او یو ښه ژوند د بیا پیل سبب وګرځي. د «پائلوکویلو» په «کیمیاګر» کتاب کې مې لوستي و، که چېرته تاسو وغواړئ، چې له ځانه ښه، اغېزمن او تلپاتې کار وښیی یا یې په میراث پرېږدئ، له تاسو سره یوځای ټول طبیعت او کائنات لاس سره ورکوي څو تاسو خپل ټاکل شوي هدف ورسېږئ.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د دارلامان د روږدو کسانو ځلوبښت بستریز روغتون څخه د وتلو پرمهال په دې خوښ وم چې خپلې کورنۍ ته حداقل له یوې گټورې لاسته راوړنې سره ورگرځم او دوام ورکوم؛ خو د خواشینۍ خبره دا وه چې له دارلامان روغتون څخه تر رخصت کېدو وروسته سربېره پردې چې ومې نه شوی کولای نشه یي توکي پرېږدم بلکې بلکې ځو ورځې وروسته په چټکۍ سره زما مصرف او نشې له پراخه شوې. نور زما او زما د بچیانو داستان د هغه هلک داستان ته ورته شو، چې په روغتون کې پروت و او ما په يې خاطر ځو ځلې سخت وژړل، نور زه او زما بچیان له ښې راتلونکې څخه محروم شول او ټوله کورنۍ مې په بشپړ ډول د غمونو بدمرغه ډنډ ته وغورځېده؛ یوځل بیا مې روږدیتوب ته پناه یوړه، دې ماتې زه د تیارو تل ورسولم، اوس مې هره شېبه مرگ په خپلو سترگو لیده، ځو ځو ځلې مې مرگ تجربه کړ، خو بیا هم د خپل رب په مهربانۍ او ملتیا ژوندی پاتې شوم.

په دې زوال سره مې هرڅه له لاسه ورکړل، د کورنۍ باور، د ژوند موقف او هرڅه.. خو! یو څه مې له لاسه ور نه کړل، د بریالیتوب له پاره مې په هیله باندې ایمان درلود، د هرې شپې پای گردجن او تیاره وي، خو بیا هم که شپه هر څومره اوږده شي بالاخره سهار کېږي او روښنایي راځي؛ تیاره چې هرڅومره اوږده شي کله چې د هیلې او اُمید کړکۍ پرانیستل شي نور امکان نه لري چې تیاره دې دوام ومومي او انسان دې نابود کړي. د هیلې یوه کوچنۍ اندازه دومره قوي او ځلانده ده لکه دې لسگونه خونړیو کلونو ستونزې.

د دارلامان ځلوښت بستریز روغتون څخه وروسته مې پلار د یوه صدیق او ځوانمرده پلار په څېر خپلې ټولې هڅې او کوښښونه ترسره کړل. خو پایله یې ترلاسه نه کړه او ما په یو ډول ځان د روزګار پېښو ته تسلیم کړ.

تر پل سوخته لاندې ژوند ورځ تربلې ګواښوونکی کېده، تردې پله لاندې د ناځوانی کلتور په لویه کچه د انسان وژونکې ځپې په څېر خپور وه. د انسانیت او ملګرتیا پر بنسټ ژمن او صادق انسان هلته په ډېرې سختۍ پیدا کېده، ټولو یو بل ته فریب ورکاوه، هر چا خپل جرم دې بل پرغاړه وراچاوه او په مجموع کې د هرچا دنده دا وه، چې یو او بل ووژني او یا یې عزت له خاورو سره خاورې کړي.

پل سوخته کې مې د آته د زوی په نوم یو ملګری درلود، صادق، ژمن او ځوانمرده انسان و، چې له ښار څخه به یې بوتل راټولول او پلورل یې؛ دا کس په ملګری کې له ځانګړي صداقت او مېړانې څخه برخمن و، له ما سره یې په خېمه کې یوځای ژوند کاوه، له ډاره ډکو او وحشتناکو ورځو موږ ته زیان ورساوه، دواړه په ډېره خطرناکه ناروغۍ اخته شوو، دا داسې ناوړه ناروغي وه چې د ناستې ولاړې توان یې له موږ څخه اخیستی و، یوه ورځ مې وکولای شول چې تر پل سوخته لاندې د یوه مواد پلورونکي موبایل د شلو دقیقو له پاره ترې واخلم، څو خپل فېسبوک په کې خلاص کړم او د قوماندان جاوېد نادري په نوم له خپل کاکا سره اړیکه ونیسم او ورته ووایم چې وضیت مې ډېر خراب دی لږ پیسې راته ولېږه، همداسې مې وکړل، له کاکا سره مې اړیکه ټینګه شوه، د پیسو غوښتنه مې ترې وکړه، ده راته وویل: تر سبا یې درلېږم، د همدغه ورځې په مازیګر مې یو بل موبایل پیدا کړ، چې د حوالې شمېره یې راولېږله، هغه شپه د سختې لوږې او خمار له

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لاسه زما او د «آته» د زوی وضعیت ډېر خراب شو، سهار څلور بجې د یوه ملګري خواته ورغلم ورته ومې ویل: د یو ګرام شیشې لسمه برخه او د یو ګرام هېروئینو لسمه برخه راته راکړه، زه وروسته په پیسو پسې ځم چې راغلم پیسې دې درکوم.

خبره مې یې ومنله، په خپله مې د شیشې یوه دانه راوایسته، د درملو یو سیخ هېروئین مې د آته زوی ته ورکړل، هغه وایستل او وروسته یې وویل: ته لاړشه زه بیده کېږم او ما هم په بېړه حرکت وکړ.

سهار پینځه بجې مې له پل سوخته څخه پلی د سرای شمالي په لور یوې صرافۍ ته حرکت وکړ، شاوخوا اووه نیمې بجې سرای شمالي ته ورسېدم، نهه بجې صرافي خلاصه شوه او پیسې مې واخیستې، غوښتل مې چې پل سوخته ته په ټکسي کې لاړ شم خو هېڅ ټکسي چلوونکي دې ته زړه ښه نه کړ چې ما خپل ځای ته ورسوي، همدا یوه خبره یې کوله: چې موږ پوډریان نه بیایو، مجبور شوم چې له سرای شمالي څخه د پل سوخته په لوري پلی (په پښو) روان شم، که په لیني موټرو کې هم تللی وی، نورو خلکو به اعتراض کاوه چې پوډري دې ولې موټر ته پورته کړی دی، غرمه مهال پل سوخته ته ورسېدم، وروسته مې د دواخانې له ګولایۍ څخه چپلي کباب واخیست او پل سوخته ته ښکته شوم، یو ګرام هېروئین مې د آته زوی ته واخیستل او یو ګرام شیشه مې د ځان له پاره واخیسته، په کومه خېمه کې چې موږ ژوند کاوه، دلته اوس څو کسان راټول شوي وو، پوښتنه مې وکړه: څه خبره ده؟ ځواب یې راکړ: ملګری دې مړ شوی دی...

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زنه یې پرې تړلې وه او په پل سوخته کې مې خپل یواځینی ریښتینی ملګری چې د یوه ښه ملګري ټولې ځانګړنې یې درلودې له لاسه ورکړ... ما په لوړ غږ چیغې کړل او سخت مې وژړل.

هغه هېروئین مې چې ورته اخیستې و، څلور برخې مې کړل او څلورو روږدو ته مې ورکړل؛ مړی مو له خېمې څخه د (اللهم صلی علی محمد و علی آل محمد) په ویلو سره پورته کړ او د پله سر ته مو یووړ، څو پولیس راشي او انتقال یې کړي.

پولیس راغلل، مړی مو ورته تسلیم کړ او موږ بېرته خپلې خېمې ته راغلوو... کله مې چې خپل وسایل وکتل، ټول غلا شوي وو، د آته د زوی یوازې پښې روغې پاتې وې، نور بدن یې ټول ټوټه ټوټه شوی و. ډېر خپه او غمجن شوم، له خپل ځای څخه اوچت شوم، پرېکړه مې وکړه چې نور به دې بدمرغه خېمې ته نه راځم.

څو تنه په بېړه راغلل او له خېمې څخه تاو شول.

مخکې مې یوه ملګري راته ویلي و: نستوه وروره! که لاړ نه شې وژنې دې.

ورته ومې ویل: ولې؟

ویې ویل: مواد پلورونکو وویل که چېرې نستوه له دې ځایه ورک نه شي، کومه ورځ به کوم خبریال راشي د نستو په اړه به خبر جوړ کړي، دا د دې سبب کېږي، چې په پل سوخته کې زموږ کار او ګټه له ګواښ سره مخ شي، مخکې یې هم انځور اخیستل شوی و او په پله باندې سرېښ شوی و.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ملګري مې خبرو ته دوام ورکړ او وویل: چې مواد پلورونکو په خپل مینځ کې ویل: که لاړ نه شي، د ده د وژلو ښه لاره دا ده چې یوه غښتلې پوډري ته څلور ګرامه مواد ورکړو څو دی د چاقو په وسیله له منځه یوسي.

نستوه ورورہ! غوره لاره همدا ده چې ډېر ژر پل سوخته پرېږدې کنه د سلګونو نورو کسانو په څېر چې تر پل سوخته لاندې ووژل شول ته هم وژل کېږې.

وروسته مې فکر وکړ چې د آته زوی هم لاړ او له دې وروسته دا ځای ډېر خطر ناک دی، بهتره ده چې دا ځای پرېږدم... پاڅېدم او د پله څلور خواوې مې له سترګو تېرې کړې، چې د تور پل د «۱۱۳» سپل ترځنګ دری جسدونه پراته دي، یو سپین ږیری کاکا همدا محال د ساه ورکولو په حالت کې و، بل اړخ ته یو مواد پلورونکی له ښایسته هلک سره په خندا او مستۍ مصروف و، بلې څنډې ته لږ وړاندې یوه ښځه له ډېر خمار څخه خوړېده، زما ترڅنګ یو ماشوم له لوږې کړېده او چا یې غږ نه اورېده، په همدې ډول زرګونه نورې پېښې چې هره یوه یې ترخه وه، د انسان زړه یې ماتوه او په غمونو یې اخته کاوه.

له دې ځایه مې حرکت وکړ، بېرته د آته د زوی خیمې ته نږدې شوم. ستونی مې له ډېره غمه ډک ډک کېده، په زړه کې مې ویل: د آته زویه! د قیامت په ورځ د لیدو په هیله، کله مې چې د پله څلورو خواوو ته وکتل زرګونه غمجنو کیسو زه هم د میلیونونو روږدو کسانو په څېر داسې راګیر کړم، چې په زړه کې یې ساتلې وي او تور زړه یې ورځ په ورځ لا توروي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په چټکۍ سره د پل سوخته داخل ته لاړم، د کومې کندې په مینځ کې چې مخکې وم، هلته مې شاوخوا ته وکتل، گورم چې روغ انسانان د تگ راتگ په حال کې دي، په چټکۍ سره له گنده کندې را ووتم او شاه ته مې وکتل؛ په زړه کې مې وویل: ای ناځوانې تمساح! د الله په امان، ای ناځوانه پله، د خدای په امان. ای د مافیا د شیدو غوا د الله په امان، ای د ستومانه کورنیو، د هیلو او امېدونو قصاب خانې! په مخه دې ښه...

پرته له دې چې پوه شم زه چېرته ځم د دواخانې گولایي څخه مې د سرای غزني په لوري حرکت وکړ، اوس تیاره خوره شوې وه، له مجللو ودانیو څخه د تېرېدو په حال کې وم چې د ماشوم غږ مې په غوږو کې وکړنگېده: «پلاره راشه راځه کورته!»

دې غږ ډېر وځورولم، هغه جمله چې زما ماشومان یې هېڅکله هم نه شي ویلی. پلار یې له دې پل څخه هغه پل او له هغه پل څخه دې پل ته خپل ټول عمر له صفر سره یو کړ، همداسې په خیالاتو او فکرونو کې ډوب شوم ایا داسې ورځ به هم راشي چې روږدیتوب پرېږدم، د وجود په داخل کې مې یوې منفي انرژۍ اړکولم چې ووایم: نه، نه!

وروسته مې له ځان سره وویل: که چېرې ښه نه شم او روغتیا مې په برخه نه شي، نو ځان وژنه خو کولای شم، څو ارام شم او په ابدي خوب ویده شم، داسې احساس مې کاوه، چې د آته زوی څومره خوشبخته و، له چیغو او فریادونو پرته یې خپل ژوند ته دې پای ټکی کېښود او ارام شو. په زړه کې مې وویل: خدایه ولې مې نه ارامه کوې؟ زه له دې ژوند څخه تنگ شوی یم، نور مې ژوند راڅخه واخله!!!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا چې د اوسېدو ځای مې ورک و او بې وسی، ګیر کړی وم، په همدې خاطر سخت کړېدم، کله به مې چې خپلو زړو بوټو، خیرنو جامو، خیرن او له بد بویې ډک وجود او خیرنو اوړدو وېښتو ته وکتل، زه به پوهېدم چې له خواره او حقیقي ژوند سره څومره اوږد واټن لرم. خپل ځان او ټولنې ته مې څومره زیان رامنځته کړی، یو پیاوړی ځواک چې کولای یې شول د افغانستان خراب وضعیت له پاره اغېزمن واقع شي، اوس مهال په نابودی او له منځه تلو حالت کې دی، همداسې مې چې خپلې لارې ته دوام ورکاوه، احساس مې کاوه چې د جګړې په میدان کې د زرګونو هیلو او خیالاتو سربېره په سرو سرګردانو مرمیو لګېږم، دومره ډېر پلی وګرځېدم چې نور مې پښې ستړې او بې سېکه شوې وې، کله مې چې شا او خواته وکتل او فکر مې وکړ، آن د شاه دو شمشېره د پله سرته رسېدلی وم.

توره شپه وه، د اریانا مارکېټ له چوکیدار او څو سپیو پرته بل هېڅوک نه لیدل کېدل، د شاه دوشمشېره پله څخه مې د سینما پامیر پله پر لوري حرکت وکړ، پله ته چې نږدې شوم د معتادانو یوه ډله مې ولیده چې دلته ناست دي، زه هم ورنږدې شوم، پیسې او شیشه هم راسره وو او د څکولو له پاره مې یې یوازې پیپ نه درلود، یو لوړ جګ قدی ځوان مې ولیده چې پیپونه جوړوي او پلوري یې؛ شل افغانی مې ورکړې څو پیپ راکړي، خو دې ځوان پیسې نه راځخه اخیستې، پیپ یې وړیا راکړ، د دې ښېګنې په بدل کې ما یو څه شیشه ورکړه، ما چې ده ته کتل، په دې پوه شوم چې زړه یې راسره ولګېده او غواړي چې راسره ملګری شي، خبرې مو وکړې هغه هم د خپل ژوند او ماتې په اړه وویل: په ملي اردو کې وم، په نشه یې توکو روږدی شوم او اوس له بده مرغه دلته دغسې حالت ته رارسېدلی یم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا ځوان ادریس نومېده، لوړ او د ښه هیکل لرونکی ځوان و، چې اوس یې وزن ډېر کم شوی و، ادریس د پیپ جوړولو خپل ټول وسایل راټول کړل، وروسته یې ماته وویل: «نادري صیب! بهتره ده چې له دې ځای څخه لاړ شوو، زموږ خواته ډېر ښه ځای دی، ما ورته وویل: سمه ده، څه چې لاړ شوو.»

حرکت مو وکړ، د رجال برجسته ریاست څخه تېر شولو، د تخنیک لیسې ته ورسېدو، کله چې له هغه ځایه تېر شولو د شاه دو شمشېره پله سرته ورسېدو، وروسته ادریس په یوه پړي باندې ځان ځوړند کړ، د پله لاندې برخې ته یې ځان ورساوه، ما هم ورته کار وکړ، دا وخت زما وزن ډېر کم شوی و، له یوه ځای څخه ښکته کېدل او پورته کېدل ډېر راته اسانه شوي وو، کله چې ښکته شولو، د شاه دو شمشېره پله ختیځ لور ته د کاکا یونس په نوم یو سپین ږیری و چې د جمشېد په نوم یې یو ملګری درلود، د «مهره ملنګ» په نوم یو بل کس هم همدلته و، ادریس زه دوی ته وروپېژندلم، جمشید او مهره ملنګ زه له وړاندې پېژندلم، ویې ویل: هو پېژنو یې دا نستوه نادري دی؟!»

ادریس راته وویل: په پل سوخته او یا کوم بل ځای کې څه کوې؟ همدلته له موږ سره پاتې شه، ما هم ورسره ومنله، شپه اوړده وه او زموږ مصرف هم پیل شو، دې ځای له پل سوخته سره ډېر توپیر درلود، دلته فرهنګ بېخي بدل و، یو او بل ته به یې سختې ښکنځلې کولې، یو عادت یې ډېر ناوړه و، دا ډېره بده او له ظلم څخه ډکه ټاکنه وه، دوی به چې کله د سپیو کوچني بچیان ولیدل، په ډېره بې رحمۍ به یې وژل.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ادریس راته وویل: زه د لسو دقیقو له پاره چېرته ځم، بېرته راګرځم، ته همدلته اوسه.

لس دقیقې وروسته د سپو له دوه بچیانو سره راغی... ویې ویل: صبر چې ساعت تیري وکړو، د سپي یو بچی یې راونیوه، تر ډېره یې له مری کلک نیولی و، نړدې و چې مړ شي... وروسته یې په ځمکه اوږد څملاوه، د هېروئینو دود یې سپوږمو ته ونیوه، سپی وکوږنجېده، له خپل ځای څخه پورته شو، د مهره ملنګ خواته نږدې شو، ملنګ دا مهال کرستال څکول، سیخ یې تیار ګرم و، سپی یې په نس کې ورباندې وواهه، د سپي چیغه پورته شوه، ادریس بیا له ځمکې څخه پورته کړ، په ډېرو پوچو الفاظو او ښکنځلو یې بیا زندی کړ، دومره وخت یې زندی کړ، چې بالاخره یې له خولې څخه وینې وبهېدې، کله یې چې خوشی کړ، دمه یې ختلې وه او مړ شوی و، دا وخت ټول چوپ شول، وروسته یې د مهر ملنګ خواته وکتل او ورته ویې ویل: «دا تر سبا شپې پورې وساته، څو بیا ساعت ورباندې تېر کړو.»

وروسته یې هېروئین په پرلپسې ډول وڅکول او ویې ویل: خی ته همدلته پاتې شه، زه او نادري صیب دواړه ځو د مخزن کوځې ته، په هغه ځای کې مو د تېلو پلورلو یو دکان تر سترګو کړی، موږ به لاړ شو څو هغه دکان لوټ کړو او سبا بیا د ځان خمارولو غم وخورو.

ادریس حرکت وکړ او مطلقه چوپتیا خوره شوه، د شاه دو شمشېره پله له خیتځ لور څخه د یوه ځوان هلک غږ پورته شو، ویې پوښتل: مهره ملنګه خیرت دی؟ مهره ملنګ داسې بریښېده لکه بریښنا چې نیولی وي، له

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خپل ځایه پاڅېده او ویې ویل: امر وکړه رئیس جانه؟ نستوه نادري دی. هغه په نورین تلویزیون کې چې ویاند و.

په ناڅاپي توګه د دغه ځوان علاقه زیاته شوه ویې ویل: نادري صیب! دا ځای چېرې او تاسو چېرې؟ څه کوې؟ دا ځای ستا ځای نه دی راځه د کابل سیند ته زموږ خواته، د شاه دو شمشېره پل زموږ ترمنځ وصلوونکې نقطه وه، ورته ومې ویل: هلته نه شم درتللی.

ویې ویل: ستونزه نه شته، مهر ملنګه! له نادري سره مرسته وکړه چې د پل خشتي دوه خوا وو ته راشي.

تر پله لاندې ډېر پلاستیکونه او اشغال چې کراچۍ لرونکو اچولي وو پراته وو، مهر څو دانې پلاستیکونه زما تر پښو تاو کړل ویې ویل: ورځه د پله هغه غاړې ته له اوبو تېر شه، د هغه ځوان څراغ روښانه و او د پله بلې څنډې ته مې ځان ورساوه، دا ځای د نورو پلونو او ځایونو په پرتله برعکس ډېره لویه خېمه په کې وهل شوې وه او ډېر روښانه و، یوه ګازي ګیس هم دلته لمبې وهلې، کله چې دې څنډې ته ورسېدم، دغه ځوان په خپله غېږ کې ټینګ کړم، ویې ویل: سلام لالا! زما نوم لالی دی، د خدای په قدرت سره چې د دویمې حوزې په ساحه کې هېڅوک انتن نه راکوي، په ورور باندې دې د پولیسو زور هم نه رسېږي.

په مسکا سره یې د کمیس له لاندې یوه بریتا تمانچه راوایسته، راته ویې ښوده او ویې ویل: مال د خدای دی شپږ/اووه دانې له همدغه ډول تومانچو دې له ورور سره شته دي، راځه د ننه نادري صیب، کله چې خیمې ته د ننه شوم، په اغلب ګومان یو پینځلس کلن او په څېره کې ډېر ښکلی

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هلک په (۱۲۰) کوټه کې ناست و او چرس يې څکول، لالي چې را داخل شو همدې ځوانکي هلک ته يې وویل: هارونه! وګوره څوک راغلي دي نستوه نادري راغلی، هغه په نورين تلويزيون کې يې چې ويندويي کوله او ځينې خپرونې يې پرمخ بېولې.

ځوانکي وويل: هو؛ دا پېژنم ما په غزني کې د ده خپرونې کتلې.

مسکی شو، ويې ويل: ښه راغلاست نادري صيب!

لالي ته يې وويل: دا وياند کاکا دې له کوم ځای څخه راوستلی دی؟

ورته ويې ويل: چې دی راغلی و، له مهره ملنګ سره ناست و، ورته ومې ويل: افسوس ستا پرحال، په همدې چل مې راوايسته خپلې خېمې ته.

کله چې کښېناستم، ګورم چې تر پښو لاندې مو يوه وطني مزاري لاسي اوبدل شوې قالينه غوړېدلې وه، د خېمې په يوه څنډه کې څو دانې فلېټ تلويزيونونه چې شاوخوا پنځوس انچه و، اېښودل شوي و، څو پايې د خياطي ماشينونه، لسګونه دانې ښځينه دستکولونه، د آش ماشينونه، جنراتور او داسې نور...

لالي وويل: نادري صيب! څه اشتها لرې؟

ځواب مې ورکړ: هېڅ شي ته مې زړه نه کېږي، يوازې غواړم چې شيشه ووهم.

ويې ويل: هارونه! نادري صيب ته يو نوی پيپ ورکړه او شيشه هم ورته واچوه.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا کار یې وکړ، وروسته پوه شوم چې لالی یو له هغه خطرناکو مجرمانو څخه دی چې د پولیسو تر تعقیب لاندې دی او هارون یې د خپلې «جنسي» استفادې له پاره ساتلی دی، هارون د شیشې پیپ ماته راکړ او په څکولو مې یې پیل وکړ؛ لالي وویل: نادري صیب! دا ځای دې خپل کور دی، بېغمه همدلته له موږ سره اوسه، نشه دې درته رسېږي او یوه اندازه جېب خرڅ به دې هم درکوم؛ نور څه غواړې؟

ځواب مې ورکړ: لالی صیب! دا ټول کارونه چې تاسو کوی، په بدل کې یې زه ستاسو له پاره څه وکړم؟

مسکی شو، ویې ویل: هېڅ هم مکوه نادري صیب! زموږ او تاسو ورورې ده؛ بیا هم کومه خبره نه ده کله چې پولیس راغلل، ورته ووایه چې دلته زه خپله ژوند کوم، ستا په لیدو سره پولیس خیمې ته نه دې ننه کېږي او موږ هم نه ځوروي.

ورته ومې ویل: په دې اړه به بیا خبرې کوو.

مسکی شو، ویې ویل: څه خبرې به کوو؟ سر له همدا اوس څخه له موږ سره یې نادري صیب.

د دې خبرې په کولو سره یې یو ډول اشاره وکړه او هارون ماته نږدې شو، ویې ویل: هو نادري صیب! د پاچاه په څېر له موږ سره ژوند کوه، څه کوې چې د معتادانو په څېر هر ځای گرځې؟

لالی او ټول معتادان پوهېدل چې د ټولنیز افت پر وخت زما پروړاندې پولیسو د خپل ځان له پاره یو ښه مقام درلود، د ترحم هغه مقام چې کله به راغلل ټول معتادین به یې وهل ډبول، او ورته ویل به یې، چې د سړک

په څنډو کې مه اوسئ، خو زما په لیدلو سره به یې د زړه سوي په توګه چلند کاوه او ویل به یې، چې ګران نادري هیله کوم څه کوې؟ نور روغ شه! ایا ستا پرحال افسوس نه دی؟ زما چلند مجرم معتادین لېواله کول چې زه له دوی سره واوسم، لالی او هارون پوهېدل چې زما زړه نه کېږي او د دوی غوښتنه نه منم، په همدې وخت کې د پله له پاسه د څو تنو غږ راغی: رئیس، رئیس، لالیه وروره شته یې؟

لالي په غرور سره وویل: هو، ټول په یوه رسۍ راښکته شول، جالبه دا وه چې ټولو زه پېژندلم.

د هغوی له جملې یوه کس چې ځان یې نسبت نورو ته ډېر غښتلی ګانه. لالي ته یې وویل: اې لالیه، نادري پرموړ کومه خپرونه جوړه نه کړې، پام دې وي چې ډېر خطرناک ویاند دی.

ټولو وخندل، لالي هغه هلک ته وویل: نه داسې نه ده نستوه زموږ ورور دی وروسته له دې به له موږ سره وي.

د دې جملې په پای ته رسېدو هارون ماته نور هم نږدې شو، هڅه یې کوله چې ما دې خپل ځان خواته جلب کړي، کوم هلکان چې لالي ته راغلي وو، دوی جالب نومونه درلودل، د هغوی له جملې د یوه نوم ګري ګري و، د بل نوم جیټ و، د بل جیک ترکیه او د یوه بل نوم مایکل و؛ وروسته لالي وویل: ښه څه وکړو هلکانو؟ څه مو وکړل؟

ګري ګري لالي ته وویل: مایکل یو غوړ ځای تر سترګو لاندې کړی و، ومې ویل چې دوه ورځې یې تعقیب کړئ، نن شپه د یوه کور ټول غړي

واده ته تللي دي، د دې کور د لوټولو په خاطر مې جيټ او جيک هم راوستلي دي.

جالبه دا وه چې مايکل د لالي له همدې ډلې نه د هغه کورونو د تعقيب دنده درلوده، چې ټول کور يوځای ته لاړ شي او وروسته دوی د غلا له پاره کورته ور د ننه شي. جېټ يو ډنگرکی هلک و، چې له کور څخه د باندې د وسايلو په ايستلو کې يې لوړ ځواک درلود او جيک ترکيه هم کولای شول چې له يوې دقيقې څخه په کم وخت کې هر ډول قلف چې وي خلاص کړي، لالي مايکل ته وويل: چې کور چېرته دی؟

ويې ويل: کلوله پشته کې دی»

ويې ويل: پورته شئ چې حرکت وکړو!

ټول له خپل ځای څخه پاڅېدل، زه هم پورته شوم ورته ومې ويل: لالی صيب! ماته هم اجازه راکړه چې لاړ شم سبا بيا بېرته راځم، ناڅاپه لالي وويل: څه کوې چې ځې نادري صيب!؟ نن شپه خو مېلمه يې او بل دا چې ما هېڅکله هم هارون له چا سره يوازې نه دی پرېښی، ته لومړی کس يې چې هارون له تاسره يوازې پرېږدم، موږ د برېښنا په څېر ځوو او بېرته راځوو.

هارون زما لاس ټينگ کړ او ويې ويل: نادري صيب! هيله کوم مه ځه، ته له ما سره پاتې شه، ورته ومې ويل سمه ده، لالي او نور هلکان لاړل، زه او هارون په خېمه کې يوازې پاتې شوو، لالي په دې کار سره غوښتل چې ما نور هم لېواله کړي، دوه درې ساعته به يې زه له هارون سره يوازې پرېښودم، څو په يو ډول زه له هارون سره جنسي اړيکې پيدا کړم او له

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هارون سره د لېوالتیا له امله د ده ترخنګ پاتې شم، هغوی لاړل په ټوله خېمه باندې چوپیتا خوره شوه، د ګیس د روښنایۍ سیوري هغه یوه اړخ ته هارون ناست و، شنې سترګې، ښکلي تور بانه یې درلودل او له رنګه ډېر سپین و؛ کله کله به داسې فکر راسره پیدا کېده، چې دا هلک دومره ښکلی دی، الله تعالی ولې نارینه پیدا کړی، ولې یې د نجلۍ جسم نه ورکاوه؟ د چونګښو غړونو ټوله سیمه نیولې وه، هارون هم چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: کله چې ویاند وې، دا فکر دې کوم وخت کړی و، چې ته به په نشه یي توکو روږدی شې؟

ورته ومې ویل: نه! وروسته مې ترې وپوښتل ستا کور چېرې دی ولې خپل کورته نه ځې؟

ویې ویل: ما د تل له پاره خپل کور پرېښی دی، زموږ کور په غزني کې و، له کور څخه وتښتېدم، د غزني ښار کې له لالي سره مخامخ شوم او وروسته کابل ته راغلم، اوس له بل هرچا څخه لالی ما ښه ساتي، هرڅه راته اخلي او ډېر ښه هلک دی؛ نادري صیب! راځه چې دا خېمه سمه درته وښیم!

د خیمې په لوري لاړم، یوه پرده یې درلوده هغه مې پورته کړه، ګورم د خوب یو دوه نفري تخت چې پلاستیکي بوری له شګو ډکې شوې دي جوړ شوی و، ویې ویل: چې زه او لالی د شپې لخوا په دغه ځای کې بېده کېږو، پیسې لرو، ټوپک لرو، تمانچه لرو، تراوسه پورې دې زموږ په څېر داسې لوی او غیرتي روږدي لیدلي؟).

ومې ویل: نه! پوښتنه مې ورڅخه وکړه: ته هم روږدی یې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ویې ویل: هو، لالي پوډر وهي او زه شیشه وهم، دا خبره پټه درسره وساته، لالی خبر نه شي چې په غوسه کېږي.

له جېب څخه یې یو پیپ راوایسته، یوه اندازه شیشه یې په کې واچوله او لړ یې ماته راکړه، په شیشه وهلو مو پیل وکړ، د گیهځ آذان ته نږدې وو، چې له شیشه وهلو وروسته هارون له خپل ځای څخه پاڅېده، لاړ د خوب په هماغه تخت کې اوږد پرېوت، ویې ویل: نادري صیب راځه چې ویده شو.

ما ورته وویل: سمه ده خو که اجازه راکړې چې صحرا ته لاړ شم، د تازه هوا اخیستو په بهانه مې د فروشگاه پله خواته وکتل، هلته د لارې په اوږدو کې د فروشگاه ترپله پورې ضعیف څراغونه ځلېدل، له سیند څخه مې د فروشگاه خواته حرکت وکړ، د سیند په څنډه کې وچ ځای و چې د معتادینو د تګ راتګ په لاره بدل شوی و، په همدې لاره باندې ډېر چټک لاړم، وروسته مې په منډو وهلو پیل وکړ، څو د روږدو کسانو ډلې ته نږدې شم، بنه پوهېدم چې لالي زه له همغه ځای څخه څارلم، څو په هغه حرکتونو چې هارون ترسره کول په یو ډول له هارون سره جنسي لېوالتیا پیدا کړم، په همدې وخت کې د ده ملگري راشي، و مو ویني، بیا همدا راته بهانه کړي او له همدغې بهانې بیا دا کار واخلي چې زه تل د دوی پیرو او غلام پاتې شم، ځکه چې لالي هارون د دې ترڅنگ چې په خپله یې استفاده ورڅخه کوله، دغه کار یې هم د ده په وسیله او مرسته کاوه.

په منډو مې ځان د فرخندې تر څلي ورساوه، دلته یو شمېر روږدي راټول شوي وو، نږدې سهار و، ټول خوب نیولي و فضاء غلې وه، د جوماتونو آذان پای ته رسېدلی و، په یوه مسجد کې چا د کمیل دعا لوړه پرېښې وه او په

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لوډسپیکر کې یې انګازې کولې، دا دعا دومره خوږه راباندې لګېده لکه مور به مې چې په مینه خبرې راته کولې، چې د همدې دعا په غږ سره مې خپله شاه پر دېوال ولګوله او سترګې مې پټې کړې، حس مې وکړ چې د څو دقیقو له پاره خوب راغی، په ناڅاپي ډول د لالي غږ راویښ کړم. سترګې مې پرانیستې، ګورم چې لالی او هماغه ډله یې د فرخندې منار ته راغلي دي او مایکل لالي ته یو ځوان هلک وروښوده؛ ځوان هلک له ځېرې داسې ښکارېده چې نوی په شیشه وهلو راغلی دی، لالي هارون ته وویل: چې دا تراتېزک هلک تلاشي کړه هارون تلاشي پیل کړه، هرڅه یې چې موندل او لاسته ورتلل، لالي ته یې ورکول، روږدي د هغه ونې په څېر رېږدېدل، لکه د مني یخ باد یې چې رپوي، زه هم هغه وخت پوه شوم چې دوی ډېر خطرناک انسانان دي، د ځوان هلک له جېب څخه یې یو مبایل موبایل راوایست، کله چې دې ځوان د خپل موبایل غوښتنه ترې وکړه. پرمخ یې په څاپړه وواهه، هرڅل به چې ځوان دا غوښتنه وکړه، همداسې یې ورسره کول... دوه زره افغانۍ او ځینې نور شیان یې هم د هغه هلک له جېب څخه وایستل، ځوان ژړل، په همدې وخت کې لالي خپله تمانچه راوایسته، ځوان د مرمۍ په څېر د فرخندې له منار څخه وتښتېده، څو یې ونه ولي او مړ نه شي...

د لالي یو ملګری جیک ترکیه رانږدې شو، راته ویې ویل: ښاغلی نادري! بیا څنګه زموږ له خېمې راغلی یې او دلته دې ځان را رسولی دی؟

ورته ومې ویل: چې دلته ډېر آرام یم.

لالی نږدې راغی، راته ویې ویل: هرڅه چې د نادري زړه غواړي ویې دې کړي.

را نږدې شو زما پر اوږه یې لاس کېښود ویې ویل: نادري صاحب ډېر با عزته انسان وختې، زه منتظر وم چې هارون ته لاس ور اوږد کړې او اته مرمۍ دې پر سر وولم، که دې داسې کړي وای، اوس به دې مړی دغه سیند ته غورځول کېده او تر پاکستانه به ستا مړی اوبو وړلو، هارون جان ته څو کسانو په بده سترګه کتلي دي او هغوی ما وژلي دي، تر کومه وخته چې ته له موږ سره په یوه لاره روان وې، ترهغې هېڅوک څه نه شي درته ویلی، په هرڅه کې زه ستا دفاع کوم او په خدمت کې دې یم.

ارامه ساه مې واخیسته، دری/څلور ساعته د فرخندې له منار سره پاتې شوم چې د لالي ملګری جېټ راغی او راته ویې ویل: رئیس ته غوښتی یې.

ومې ویل: چا؟

ویې ویل: (لالي)

حیران پاتې وم څه وکړم، ووېرېدم چې ولې دوی دومره په ما پورې نښتي دي...؟

لاړو د شاه دو شمشېره تر پله لاندې لالی ناست و. ویې ویل: نادري صیب! موږ بد خلک نه یوو، خو دا چې ته له موږ څخه لرې ګرځې او واټن نیسې، په دې نه خپه کېږو او ستا درناوی کوو، مګر! «یوه هیله او غوښتنه درڅخه کوم، ما هلکانو ته دنده سپارلې چې د فرخندې د منار خواته لاړ شي، هلته تا ته مناسب ځای جوړ کړي او ته همله واوسې، خو که پولیسو نه پرېښودې او مزاحمت یې درته کاوه، نو بیا بېرته خپلې کوټې ته راشئ، کوم ځای چې اوس تا ته جوړوي، دا ځای هم پټ او مناسب ځای دی، له جېټ سره حرکت وکړه.»

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

راغلوو، د تخنیک لیسې په څټ کې یو پُولچک و، چې د کوماز موټر له فریم څخه جوړ شوی و، ومې لیدل چې څو موکښتونه یې هم دلته غوړولي دي. جیټ (۱۳۰) وویل: همدلته اوسه ویاند جانه.

لړ شیشه یې هم راکړه، زما له پاره دا ځای په پینځه ستوریز هوټل کې په یوه لوکسه کوټه باندې بدل شوی و، اوږد وغځېدم. جېټ هم د پُولچک خوله په یوه زړه ټوټه باندې وپوښله څو ما څوک ونه ګوري او نور په خپله مخه لاړ، کله چې جیټ لاړ، څو دقیقې نه وې تېرې شوې چې ادریس راغی. دا هماغه کس و کوم چې لومړی ځل د شاه دو شمشېره پله ته راغلی و. د سپي له یوه بچي سره زما کوټې ته را د ننه شو، ویې ویل: نادري صیب اجازه ده؟! اجازه غوښتل خو د دوی له پاره هسې یو عادي کار و. ګني زما اجازې او یا نه اجازې ته یې ارزښت نه ورکاوه... ویې ویل: نستوه! ته ولې نه غواړې چې له لالي سره واوسې، ډېر ښه ځای یې درکړی دی. دومره غم څه کوې، ګرانه نادري راځه چې لږ مزې وکړو، وګوره.

د سپي بچی یې ټینګ ونیوه، یو سوک یې په سر وواهه، سپي اوږدې پنې وغځولې او په بشپړ ډول بې هوښه شو...

له یوې دمې وروسته یې وویل: نادري صیب! وګوره چې څنګه په هوښ راځي!؟

د سپي پر تناسلي آله یې لایټر ونیوه، سخت وکوړنجېده، په ناڅاپي توګه یې په ډېره غوسه راواخیست او د سپي په ټول بدن یې خولې ولګولې، وروسته یې خوله پرې پټه کړه او د پوزې په سوریو کې یې ژاوله ور سرېس کړه، ویې ویل: نادري صیب د مړي نڅا وګوره.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سپي ډېر عجيب حرکتونه ترسره کول، زما مسوليت خو دا و چې دا سپي له دې حالته وژغورم او ادريس ته ووايم: چې ګوره دا ظلم دی، ګناه لري، داسې مه کوه، خو له بده مرغه زه هم ورسره ملګری شوم او د ده له ظلم نه مې خوند اخيسته؛ پينځه دقيقې وروسته سپی مړ شو... ادريس وويل: والله چې ارام شوم، تريوې ورځې پورې به په خپل حال واوسم، اوس به لاړ شم او دا سپی به په يوه ګوښه کې ترخاورو لاندې کړم. زما له کوټې ځخه ووته، ځو شپې وروسته سپېره لاسونه بېرته راغی، ويې ويل: د سپي کار ختم شو، خبر مې کړ او بېرته ترې راغلم، ښه شو چې ستا ځای مې وليد، نور به حتمًا کله کله ستا ليدو ته راځم.

په همدې ډول ډېر کسان تلل او راتلل؛ له هغه پيسو چې کاکا مې را لېږلې وې لږ پاتې وې، د ځو ورځو په تېرېدو سره هغه پيسې هم خلاصې شوې او زه هم ورځ تربلې کمزوری کېدم؛ که به مې يوه ډوډۍ پيدا کوله شيشه نه وه او که به مې شيشه پيدا کوله ډوډۍ به مې نه شوی پيدا کولای.

ډېرې ورځې په همدې بدبختۍ کې تېرې شوې، يو ځل مې پام شو درې مياشتې تېرې شوې وې چې نه پل سوځته او نه هم خپل پلرني کورته تللی وم؛ له شپو نه يوه شپه وه چې د ځو کسانو غږ مې واورېده: نادري نادري! له کوټې ځخه راووتم، ګورم چې يو قوي او ښه هيکل لرونکی سړی له دوه نورو ځوانانو سره ولاړ دی، راته ويې ويل: نستوه جانه! زه د همدې ګل پلورنځيو ځوکيدار يم، اصلي د پنجشېر اوسېدونکی يم، زه غواړم له تاسره خبرې وکړم.

ورته ومې ويل: راځه دلته راښکته شه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کله چې رانښکته شو، زه یې چې له نیږدې ولیدم په ژړا شو، ویې ویل: زه دلته ستا د لیدو توان نه لرم. دا دوه ځوانان زما بچیان دي، دا دری میاشتې کېږي چې وایي نستوه نادري دلته دی، خو له بده مرغه زه سخت مصروف وم. ومې نه شوی کولای چې ژر ستا خواته راشم او ودې گورم، زما خو په وس نور څه نه دي پوره، خو دومره کولای شم، چې د خپل بچي په لاس هره ورځ دری وچې ډوډۍ درته راولېږم. خو ته هم هڅه وکړه چې خپل کورته لاړ شې، ترکومه وخته به دلته په داسې حال کې پروت وې...؟

ورته ومې ویل: کورته ځم؛ خو باور وکړئ چې تر کوره پورې د تگ پیسې نه لرم.

ویې ویل: ستونزه نه شته، زه سبا جامې درته راوړم او پیسې هم درکوم خو ته به وعده کوې چې خپل کورته مې ځم.

ومې ویل: سمه ده. سبا شاوخوا دری بجې یې یوه جوړه جامې له شپږ سوه افغانیو سره راته راوړل، ویې ویل: لومړی راځه چې د اندرابي کوڅې ته لاړ شوو. هلته به خپل ځان ووینځې چې له دې خیرو پاک شې.

ورته ومې ویل: زه په خپله ځم، ته مه راسره څه.

ویې ویل: «نه زه دې بیایم» ما هم ورسره ومنله.

حمام ته لاړو. جامې مې واغوستې او وروسته یې وویل: لاړ شه کورته، کوښښ وکړه چې په روغتون کې ځان بستر کړې.

ورته ومې ویل سمه ده. له هغه سره مې مخه ښه وکړه، له ښهر دروازې سره نږدې په برچي کې په یوه کاسټر کې کښېناستم او یوځل بیا د پولې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سوخته بېخ ته ښکته شوم، پینځه سوه پنځوس افغانۍ راسره وې، دلته مې یو ملګری ولیده، راته ویې ویل: ژوند څنګه کوې؟ منده نه شې کولی. د جیبونو په وهلو کې هم مهارت نه لرې، نور به نو څه وکړې؟ راځه یوه سرمایه درته جوړوم، د شیشې او هېروئینو د پېر او پلور کار پیل کړه، کله دې چې ښې ډېرې پیسې پیدا کړې بیا به زما حق راکړې.

ورته ومې ویل: سمه ده زه پینځه سوه افغانۍ لرم.

ویې ویل: «ډېر ښه، پینځه سوه نورې زه درکوم، دوه نیم ګرامه هېروئین او پینځه ګرام شیشه اخلو، هر ګرام یې په نیم ګرام کڅوړه کې ځای پرځای کوو، یانې له یوه ګرام څخه پینځه نیم ګرامه شیشه په پینځو کڅوړو کې جوړه وو، نن کولای شو په دې ډول دوه زره افغانۍ وګټوو، خو ته به بیا ماته خپلې پینځه سوه پیسې راکړې، یونیم زر ته واخله.»

ما ورسره ومنله، ده راته وویل: «نو څه چې د رحتمي خواته ورشوو.»

رحمتی یو عمده پلورونکی و، زما پیسې یې واخیستې او مواد یې راکړل؛ هماغه کار مو وکړ، د شپې تر تاریکۍ پورې زموږ پیسې دوه زره شوې وې، د شپې مې چې ملګری خواته راغی اووه سوه مې ورته ورکړې، ده راته وویل: ما ته یوازې خپلې پینځه سوه روپۍ راکړه، ما ورته وویل: نه، دوه سوه ګټه دې هم واخله، خو ده بیا هم ټینګار کاوه، چې نه زه ګټه نه اخلم، مګر ما ورته وویل: چې زه دا نه منم، دا ستا حق دی، بالاخره یې خپله دوه سوه ګټه هم واخیسته. زه بیا لاړم، په دیارلس سوه افغانیو مې دیارلس ګرامه شیشه واخیسته او په پلور مې یې پیل وکړ؛ یو سپین ږیری کاکا چې ما به تل په هزاره ګۍ لهجه کې ورته «ابغه کاکا» ویل، رانږدې شو ویې ویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نستوه جانه، دا پرچون پلورنه هېڅکله تاته مناسبه نه ده، ښه کار نه کوي. دا کار د پل سوځته د خلکو په نظر کې تا خوار او ذلیله کوي، ښه پوهېږې چې په پل سوځته کې څومره خلک له تا سره مینه لري، په دې کار سره ځان مه خرابوه.

په همدې جر او بحث کې وو، چې یو ځوان راغی سل افغانۍ یې راکړې، او ویې ویل: شیشه راکړه، سل افغانۍ مې ترې واخیستې شیشه مې ورکړه او وروسته مې وویل: ابغه (کاکا) زه له پل سوځته لاړم، ویې ویل: ورځه لاړشه خو دا کار نور مه کوه، دغه وخت راسره دولس ګرامه شیشه او سل افغانۍ وې، بیا د سینما پامیر پرلور په یوه موټر کښېناستم، د جوی شیر پله ته راغلم، وېره مې دا وه که چېرې ما څوکیدار ووینې، نو پروړاندې به یې ډېر کم راشم، بیا هم په زړه کې مې ویل چې خیر هېڅ خبره نه ده، که یې پوښتنه وکړه، ورته وایم چې زه لاړم، مګر کورنۍ مې په کور کې نور نه پرېښودم.

خپلې کوټې ته راغلم، دولس ګرامه شیشې داسې مغرور کړی وم، فکر مې کاوه چې د نړۍ سرمایه لرونکی سړی زه یم، څو دوده شیشه مې ووهله او ویده شوم؛ دوه شپې او ورځې ویده شوی وم، کله چې راویښ شوم ډېر خمار وم، د کمیس جېب ته مې لاس کړ، څو شیشه راوباسم، ګورم چې جېب مې په قیچي/پرې شوی دی او ټوله شیشه یې راځخه وړې ده، داسې بد تاثیر یې راباندې وکړ لکه څوک مې چې د زړه پرسر په خنجر ووهي ، د خمار له امله مې چیغه وکړه، ومې ژړل، له ځان سره مې وویل: زما خدایه! ولې ماته مرګ نه راکوې؟ ولې مې نه وژنې؟ په همدې چېغو کې وم چې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یو روړدی زما کوټې ته را داخل شو او ویې ویل: کومه خبره نه ده نادري صیب! زه لړ شیشه لرم جوړه یې وهوو.

ومې ویل: سمه ده وهو یې، کله مو چې شیشه ووهله ویې ویل: نادري صیب، یوه روسی برچه لرم تاته مې راوړې ده، دا واخله دواړه ځو هرځای چې روړدی ناست و مواد پلورونکي زه نیسم، ته چې یوازې له برچې سره ولاړ اوسې میتیازې یې ځي.

ومې ویل: سمه ده حرکت مو وکړ، د شاه دو شمشېره د لارې په اوږدو کې دوه روړدي ناست وو، هغه چې ورنږدې شو، ویې ویل: هرڅه چې لری را ویې باسئ، که نه شاه نستوه مو په برچه باندې ټوټه ټوټه کوي.

یو روړدی کس مسکی شو، ویې ویل: «شاه نستوه که پرته له برچې هم وغواړي زموږ سر ترې ځار.!»

له شرمه مې برچه له لاس څخه پرېوته، د روړدي برچه مې ورکړه، نور هېڅ ډول کار ښه نه راته ښکارېده، د کورونا قرنطینونه پیل شوي وو، وضعیت ډېر منجمد او خراب شوی و او زما وضعیت هم تردې اندازې خراب شوی و، چې نور سل فیصده له ژوند کولو څخه زړه توری وم، لوږې او خمار دومره ډنگر کړی وم چې یوه وراسته شوي اسلکېټ ته ورته وم، حیران پاتې وم چې څه وکړم؟! خمار مې له حده ډېر مخ په لوړه روان و، د فرخندې له منار سره د سپین ږیري «کاکا پیچکش» خواته ور روان شوم، ورورسېدم، له څنگ سره یې کښېناستم، په همدې وخت کې مې یو اشنا غږ تر غوږو شو، چیغې یې وهلې؛ نستوه! نستوه!.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له کاکا پېچکش سره تر یوه څادر لاندې ناست وم، سر مې پورته کړ، گورم چې خپل ماما مې و، «ماما ذاکر مې چې په کاناډا کې ژوند کوي.» اوس راغلی و کابل ته زه یې چې ولیدم، ویې ویل: نستوه! هغه مه کوه چې وتښتې، زه ستا ماما یم ذاکر!!! راځه له ماسره لاړ شه کورته.

په زړه کې مې وویل: غوره ده چې ماما ذاکر ته مې ځان تسلیم کړم، له ده سره یې زامن او زما بل ماما هم وو، دوی ټول په ما پسې راغلي وو... په بېړه یې یوه ټکسي ونیوله او زه یې د خپلې نیا کورته روان کړم؛ مخکې تردې چې کورته لاړ شوو، لومړی یې یوه حمام ته بوتلم او حمام مې وکړ؛ پاکې جامې یې راکړې، هغه مې واغوستې، د انې کورته مې راغلوو، غرمه وه، پلو یې پوخ کړی و، له څو میاشتو وروسته لومړی ځل و چې غوښه خورم، پلو مې چې وخوړه، یوې خونې ته یې بوتلم او ارام ویده شوم.

له خوب څخه چې پاڅېدم، ماما ذاکر مې څنگ ته راغی، راته ویې ویل: نستوه! زه له کاناډا څخه ستا په خاطر راغلی یم، څو وکولای شم چې له نشه یي توکو دې لاس په سر کړم، روغتون ته دې نه بیایم، په همدې کور کې دا مردار مواد پرېږده.

خواب مې ورکړ: سمه ده!

ویې ویل: ما یوه اندازه مواد درته راوړي دي، لږ لږ یې وهه او بالاخره یې پرېږده.

ورته ومې ویل: سمه ده حتمًا ذاکر ماما!!!

وروسته مې لږ شیشه وڅکوله او لږ یې رابیدار کړم؛ څو ورځې د ماما ذاکر سره پاتې شوم، ماما ذاکر ته مې وویل اجازه راکړه چې خپل کورته لاړ

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شم، څلور میاشتې کېږي چې نه یم تللی، ماما مې راسره ومنله ډېر ټینګار یې وکړ او قسم یې راکړ، چې بل ځای ته لاړ نه شم او سیخ خپل کورته لاړ شم، ما ورته وویل: په سترګو، حتمًا خپل کورته ځم، ان شاءالله بیا تاسو نه ناهیلي کوم، نور زه هم له دې بدبختیو په تنګ شوی یم، غواړم له سره ښه ژوند پیل کړم، دا خبرې مې ټولې ورته وکړه، بیا مې ماما له کوټې څخه بهر ته و ووت، بېرته راغی، راته ویې ویل: څو چې ته نه یې روغ شوی زه له هېواده بهر ته نه ځم، همدلته پاتې کېږم، که همداسې لاړ شم، بیا به ټول وخت ستا په اړه تشویشي وم، نه شم کولای ارام واوسم.

بالاخره یې یوه ورځ له ځان سره ونیولم او بیا یې خپل کورته بوتلم؛ د شپې مې د ماماګانو څو زامن هم موجود وو، ټول په یوه کوټه کې راغونډ وو، وروسته مې ماما ذاکر په خبرو پیل وکړ، نستوه جانه! پلار دې نږدې اویا کلن دی او له دې اویا کلن پلار پرته بله هېڅوک ستاسو په کور کې نه شته، الله دې پلار جان ته اوږد عمر ور په برخه کړه، خو که بیا هم مړ شي، ستاسو د کورنۍ سرپرستي به څوک کوي؟

فحشا ته به مخه وکړي...

کله یې چې دا خبره راته وکړه، پاڅېدم، ماما ذاکر مې ونښکنځه، ډېرې بدې خبرې مې ورته وکړې، له کور څخه یې ووتلم او بېرته د جوی شیر پله ته راغلم؛ څو ورځې نه وې تېرې شوې چې بل ماما مې «محمد هاشم» راغی، ما ته یې وویل: راځه چې ځو کورته، ورسره روان شوم، له پینځو میاشتو وروسته یې زه بیا خپل کورته بوتلم، راته ویې ویل: دوه دری شپې په کور کې تېرې کړه، بیا دې د تداوۍ په موخه روغتون ته بیا یم، خو ما یوه شپه په کور کې تېره کړه، وروسته مې خپلې مور ته بهانې جوړې کړې،

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دوکه مې ورکړه او بېرته پل سوخته ته په تېښته بريالى شوم، دلته مې يو څه وخت تېر کړ، بيا درېيم ځلي د جوى شير پله ته راغلم، هاشم ماما مې چې د هېواد په شمال کې يې دنده درلوده، په رخصتی راغلی و، اوس يې رخصتي پوره شوې وه، بدخشان ته تللی و، ذاکر ماما مې بېرته کاناډا ته لاړ، ځکه هغوی دې پايلې ته رسېدلي وو، چې نستوه نور نه جوړېږي، هغه مو نور له لاسه ورکړ.

دوه مياشتې تېرې شوې او ما دغه وخت د خپل ژوند سختې ورځې تېرولې، چې يوه ورځ مې «هاشم ماما» بيا پيدا شو، ويې ويل: نستوه راځه چې زموږ کورته لاړ شوو، مواد هم درته اخلم، له هغو هم کار واخله، خو يو څه خبرې به هم وکړو.

ورته ومې ويل: سمه ده، پيسې راکړه چې مواد واخلم.

پينځه سوه افغانۍ يې راکړې هغه مې واخيستې او تېښتې ته مې پر شتون ترجيح ورکړه... پينځه سوه افغانۍ د سترګو په رپ کې خلاصې شوې، يو سهار ويده وم، چې هاشم ماما د جوى شير پله ته زما خواته راغی او ويې ويل: «نستوه! زه د وروستي ځل او وروستۍ خبرې له پاره تاته راغلی يم، ماته ووايه چې په همدې ځای کې پاتې کېږې او که غواړې وژغورل شې؟»

ورته ومې ويل: ماته وخت راکړه چې فکر وکړم!

راته ويې ويل: سمه ده زه وخت درکوم، خپله پرېکړه دې وکړه.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورته ومې ویل: «غواړم چې مواد پرېږدم، خو! پیسې راکړه چې نن شپه ډېره شیشه اخلم او تر وروستۍ کچې یې څکوم او سبا «روغتون» ته درسره ځم.»

زر افغانۍ یې راکړې، په دې مې شیشه او د خوړو مواد واخیستل. هر روږدی به چې راتله، شیشه او د خوړن توکي به مې ورکول، سبا سهار نهه بجې هاشم ماما راغی، زه یې حمام ته بوتلم او له هغه ځای نه یې خپل کورته روان کړم، راته ویې ویل: «نن شپه زموږ په کور کې واوسه، سبا به ځو روغتون ته، بستر کوم دې.»

د هاشم ماما زوی «بهمن شهي» چې فولبرایټر و، ډېر با استعداده ځوان و، هغه هم همدا خبره وکړه، چې موږ باید فنېکس روغتون ته لاړ شوو، شپه تېره شوه، سهار زه، هاشم ماما او مشر زوی یې بهمن شهي د فنېکس په لور روان شوو، کله چې فنېکس ته د ننه شولو، له رواني اړخه ډېر ناآرامه وم، خو ټولنیزو کار کوونکو ته مې له ښکنځلو او بدو ویلو پرته په پرلپسې ډول ویل: بهمنه! تاسو ټول هڅه کوئ چې زه ارامه شم، زما موخه دا وه چې زه دوی ته وښیم، چې زه هم غواړم چې روغ شم او دلته په خپل زړه بستر شم، څو دوی ډاډمن شي او زما په نیت شک ونه کړي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د دغه کتاب دویمه نیمه برخه

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت هڅاند او اتل وزیر ډاکتر وحید مجروح ته د هغه خدمتونو او ملاتړ په پار چې روږدیتوب ته د بیا نه ګرځېدو په پار یې زما له پاره په دغه وزارت کې د کار زمینه برابره کړه، ډېره مننه کوم، ده دا کار ځکه وکړ څو خلک پوه شي، چې که روږدی روږد شي، نو کولای شي، خپل ځان او ټولنې ته ګټور واقع شي او خدمت وکړي.

خپل هڅاند او ځوان ملګري ته د لا بریا او پرمختګ هیله کوم.

په خورا درناوي نستوه نادري

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له دوزخ څخه راستنېدل

د ژمي هغه سړه شپه چې هېڅکله مې نه هېرېږي چې د (Finix) په B بلاک او نهمه شمېره کوټه کې مې د بې خوابۍ له لاسه چیغې وهلې، په نهمه شمېره کوټه کې اتیا تنه ناروغان موجود وو، ټول له یوه درده کړېدل. زما سترګې هم د ډېر درد او لوږې له امله پټې شوې وې، په یوه دوه پوړیزه کټ کې بې اختیاره ویده شوی وم، د لومړي پوړ ناروغ د ډېر درد له امله «زګېروي» کول، په همدې زګېرویو کې لټ په لټ اوښته، ما داسې احساس وکړ چې ډېره خطرناکه زلزه وه، په همدې خاطر په ژر له خپل ځای څخه پاڅېدم.

بریښنا ټوله قطع شوې وه، غوښتل مې لاړ شم تشناب ته، څو تنه نور هم راسره ملګري شول، له دهلېز څخه ووتلو، هوا ډېره سړه وه، واوره هم اورېده، په چاپېریال کې د بخاریو د دود څپه خوره وه، دا چې روغتون ته نږدې د کابل هوایي ډګر واقع و نو د طیارو شنه، سپین او سره څراغونه مې تر سترګو کېدل، په زړه کې مې وویل څومره خوشبخته خلک دي، دوی له اوږده سفر وروسته کابل ته را ګرځېدلي دي او ټول به ډک لاس خپلو کورونو ته ځي، خپلو کوچنیو لوڼو ته یې شاید ښکلې نانځکې او زامنو ته به یې ښایسته موټرک اخیستي وي...

د خپل څواک، توان او تور روزګار په فکر کې ډوب شوم، چې شپږ میاشتې پرته له کومې خبرې له کور څخه ایستل شوی وم، د خپلې مېرمنې او د هغې د مسکا په فکر کې شوم، احساس مې کاوه چې همدا اوس ما ګوري او سپارښتنې راته کوي، د ګارد غوسه ناک غږ زما فکر بدل

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کړ: «هغه ویل: اې، اې! مرګ غواړې که څنګه تر واوره لاندې ولاړ یې او سر دې اسمان ته شخ نیولی دی؟

الوتکې شمېرې که دې عقل له لاسه ورکړی دی؟

په همدې وخت کې مې هغه ملګري چې د پنجشیر واټ په نوم مې پېژنده راته وویل: نستوه! څه چې د ننه لاړ شوو، جامې دې لندې شوې دي.

غوښتل مې خبره یې ومنم او حرکت وکړم، خو د واورې اورېدو له امله مې سترګو لید له لاسه ورکړی و، د پنجشیر واټ لاس مې ونیوه، ځان بشپړ روند راته ښکاره شو، خپل ځان ته مې زړه بد شو، شاید باور ونه کړی شپږ میاشتې پرلپسې په هرو څلورویشتو ساعتونو کې ما یوازې یوه ډوډۍ خوړله، د ویټامین، پروټین او ... نه موجودیت له امله مې وجود ډېر کړېده او بدبخته سترګې مې له لیدو او کتو لوېدلې وې، په زړه کې مې وویل کومه خبره نه ده، کله چې له روغتون څخه ووتم، البته په خیال کې مې دا خبرې له ځان سره کولې! که چېرته زه د ګازرو څو ګیلاسه اوبه وڅښم او لږ مېوه وخورم، امکان لري سترګې مې ښې شي او د لیدو ځواک مې پیاوړی شي، په داسې حال کې چې په سترګو کې مې د ناهیلۍ اوښکو موجونه وهل، پنجشېر واټ له لاس نیولی وم، څو په اوږده دهلېز کې ما خپلې کوټې ته ورسوي.

نه پوهېږم تاسو څنګه؟ اما زه یو عمر کېږي چې دا تجربه لرم، دا ظلم مې په خپل حق کې ترسره کړی دی او له بې غږه ژړا سره عادت شوی یم، دغه کار دردونکی، غمجن او په ورته وخت کې سپک دی، غږ دې نه پورته

کېږي، خو د اوښکو ځپې دې له سترګې راروانې وي او بانه دې لندوي. کله چې کوټې ته د ننه شوم، یو څه ګرم شوم او د عطرو ښه بوی مې دماغ ته راورسېده، بالاخره په یوه کوټه کې اتیا کسان بستر وو، زه هم د خوب په تخت اوږد وغځېدم.

غوښتل مې ویده شم یا په بهتره توګه ووایم په جبر سره مې غوښتل ځان ویده کړم، په خیرنه او له سپږو ډکه بړستن کې به دې داسې احساس کاوه چې د زرګونو بدبختو، ستومانیو او روږدو کسانو د اوښکو بوی ته دې په خپل وجود کې ځای ورکړی دی، خپل ځان مې پکې پټ کړ، پر نمناکه بالښت مې سر کېښود، هغه نمناکه بالښت چې د زرګونه روږدو کسانو اوښکې په کې جزب شوې وې، داسې تصور به دې کاوه چې دا بالښت د روږدو کسانو په غمجن ارشیف بدل شوی دی، هغه روږدي چې زما په څېر د خپلو دردونو او کړاونو له امله بې غږه ژړېدلي و، د هغه کسانو د غم، ژړا او بل هر هغه څه کیسه چې دوی له لاسه ورکړي و، په همدې حال کې مې بیا پر خپلو نمناکه سترګو فشار راوړ څو خوب راشي، خو! داخل یوه وحشتناک او ډاروونکي ځیز د ویده کېدو اجازه نه راکوله: سپږې...

هغه سپږې چې حس دې کاوه د نشه یي موادو په مافیایي ډلې پورې تړلې او یا هغه سرتېري دي چې د روږدو زر بستریز روغتون د اداري فساد څخه یې پرده پورته کړې ده او د رږودو د ځورولو له پاره آن ترغاښو پورې مسلح شوې دي.

په جامو کې سپږو د روږدو له غمجن او دردونکي تاریخ څخه د ویلو له پاره خبرې درلودې، سپږې انسان په انسان ګرځېدلې او د ډېری روږدو بې وینې بدنونه یې وینې کړې و او د ډېری روږدو وینې یې په خپل بطن کې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

درلودې، د روږدو زر بستریز روغتون له مدیرانو سره یې کره ورته والی درلود، د روږدو له وینو به لویې شوې، ښې مړې، وینه څښونکې، ظالمې او له خدای څخه نه وېرېدونکې وې، بیا هم وایم چې سپړو د روغتون له مدیرانو سره بشپړ ورته والی درلود.

کله کله به مې فکر کاوه چې سپږې هم د نشه یي توکو د غوښتنې کمولو ملي پروګرام د خیانت کوونکو په څېر دي چې خپله یې، مېرمنې یې، لوڼې یې او زومان یې ټول د روغتون د کار کوونکو په څېر لوړ معاشونه اخلي/الري او د بېچاره روږدو کسانو په وینو باندې خپل ځان تغذیه کوي.

وروسته مې ځان په ناولې توټه کې پټ کړ او لږ ارام شوم، د ناروغانو وحشتناک زګېروي او چیغې مې اورېدلې چې ویل یې، اې خدایه پښې مې! اې خدایه ملا مې! اې خدای بدن مې!.

د همدې ډاروونکو ژړا وو او فریادونو په مینځ کې په ناڅاپي ډول ارامه خوب راباندې راغی، زه چې کله ماشوم وم، پلار مې په درېیم مکرویانو کې یوه کور په کرایه نیولی و، دا کور مې په خوب لیده، په خوب کې یو توپیر دا و چې زه ماشوم نه وم، اوس لوی شوی وم او له بده مرغه چې یو پلار وم، خپله نیایش لورکی مې په خوب لیده، چې ډېر دردوونکی، ځوروونکی او ناارامه کوونکی حالت وي، نیایش لور مې د هماغه اپارتمان له برنډې رانږدې شي او په لړزوونکي غږ راته وایي: «ته ښه پلار نه یې.»

دغه غږونه لکه د سینمایي فلش فاروړډونو په څېر په غوږونو ولګېدل، ته ښه پلار نه یې، نه یې، نه یې...همدې کلمو له خوب څخه راویښ کړم، له ما مخکې څو تنه نور هم ویښ شوي و د کوټې بخاری یې هم روښانه کړې

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وه، د بخارۍ د لرګیو د ډېر دود له امله د خوب دویم پوړ چپرکټونه هېڅ نه ښکارېدل، داسې فکر به دې کاوه چې تورو وریځو د غرونو پر څوکو د غم او درد ځپې په ځېر سیورۍ غوړولی و او شاید د هغه خطرناک اورښت په انتظار و چې دردمن سېلاب یې له ځان سره لېږدوه.

د چپر کټونو د دویم پوړ ناروغان چې سرونه یې ورباندې خرېیلي وو کرار کرار له خوب نه را پاڅېدل او وروسته یو په بل پسې په ډېر خپګان چمتو کېدل، څو زړه تنګې او دردوونکې ورځ پای ته ورسوي. غوښتل مې چې پاڅېږم خو د ورځې سختۍ او خپګانونه مې له وړاندې حس کول.

په زړه کې مې وویل: ګرانې نیایش لورې! پوهېږم چې ستا ماشومانه او معصومې پوښتنې څومره سخت ځوابونه لري، پوهېږم چې مور دې د دې پوښتنو پروړاندې کمه راځي، نه پوهېږم چې څه درته ووایم، ته شاید په دې پوهه نه شې چې روږدي کېدل یانې څه؟ شاید یو بد پلار... هو یو بد پلار، یانې یو روږدی پلار، یو بد پلار یانې یو روږدی چې هېڅ عاید نه لري، یو ناتوانه پلار، یو بد پلار یانې زه، یانې نستوه نادري چې خپل اووه کاله عمر یې کله تر پلونو لاندې او کله هم د روږدو د درملنې په روغتونونو کې تېر کړی دی، یو بد پلار یانې زه، هو یانې زه، یانې زه، یانې زه، دغه ډول مې خپلې بدبختۍ شمېرلې او سمدستي مې اوښکې راتللې، یو سپین ږیری کاکا چې زما ترڅنګ و، نا څاپي یې پوښتنه وکړه: اې هلکه، څه خبره ده؟ ولې ژاړې تېر له دې ژونده، دا ژوند همداسې دی، کله په خوشحالۍ او کله هم په غمجنو حالاتو کې تېرېږي، نو درانه او کلک خلک هغه دي چې په بدمرغۍ او غمجنو حالاتو کې ځان کنټرول کړي، مه ژاړه ټول خلک

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دې دلته ويني غم ځپلی او د غم ډک ژوند لري څه باید وکړو؟... پرته له صبر بله هېڅ لاره نه شته...

له خپل چپرکټ څخه د سپين ږيري کاکا څنګ ته نږدې شوم، خپل ځان مې کنټرول نه شوی کړای، ډېر مې وژړل تر دې اندازې چې اوښکو مې اوږې هم لندې کړې وې، چې وروسته مې د کاکا د تودو اوښکو څاڅکي په خپل سر باندې حس کړل، خپلې شاوخوا ته مې وکتل چې ډېر روږدي د خپلو چپرکټونو پر سر زما په څېر لپې لپې اوښکې تويوي، کاکا سوړ حوصېلی وايسته او ويې ويل: " اې زويه! اې زويه! دا هرڅه ټول زموږ له لاسه دي ځکه له داسې يوه تياره برخليک سره مخامخ يوو."

په همدې ژړوونکي حالت کې وم، چې په ناڅاپي توګه يوه غږ زموږ فضاء ماته کړه، چې ويل يې: په نهمه شمېره کوټه کې پاتې شه، ځکه چې د سهار چای څښلو وخت دی.

څو ناروغان لرې!؟

د کوټې له څنډې د مسؤل کس غږ راووته چې وايي: اتيا کسان!)

وروسته د برونزو کارتونه موږ ته راکړل شول چې د هماغه برونزي کارتونو له مخې موږ ته ډوډۍ راکول کېده، د ياد کارت په اخيستلو سره بايد د يوې ډېرې څواکمنې وزن لوبې له پاره چمتو کېدې شاوخوا دوه تر درې سوه تنه به د خوړنځي په مخکې درېدلو او وروسته به ټېل ما ټېل پيل شو، په شاوخوا نيم ساعت کې توانېدلی شوې چې خوړنځي ته ځان د ننه کړې، همدا چې خوړنځي ته د ننه کېدې سم لاسي به رضا کارانو درته سپين رنګې اوبه چې شايد هغوی شېدې نومولې له يوې دانې سرې ډوډۍ سره

یې درته راوړل، خوړنځي ته به چې د ننه شوې، له ګردجونو کړکیو به خوړنځي ته لمر لوېده، خوړنځی به د لمر په وړانګو سره روښانه کېده، په ټولو بدبخته روږدو به لمر راتله، د روږدو بې وېښتو سرونو به د لمر د وړانکو پروړاندې ځانګړې ځلا پیدا کوله.

هوا دومره سړه وه چې د دېو په څېر یې سینه د خوړنځي د کړکیو په ښیښو پورې نیښتې وه او په شدت یې هغه وخت سړې پوهېږي کله چې روږدی شي، بیا پوهېږې چې څومره دردوونکی، سوځوونکی او ورکوونکی حالت دی.

ژمی را روان و، په سړه هوا، سړو کتلو، سړو اړیکو، سړو انسانانو او د زرګونو تنو سړې تجمع سره د روږدو د درملنې زر بستریز روغتون کې ژوند دوام درلود، ټولو روږدو د بندیانو په څېر سړې ورځې سړې سړې شمېرلې، وخت دومره سخت تېرېده، احساس به دې کاوه چې ساعت هم یخ وهلی دی، داسې تصور به دې کاوه چې د ساعت ثانیه ګر سړې هوا له ګرځېدو درولی دی، کله چې له کوټې نه وتلم د زر بستریز روغتون ټوله محوطه ناوړه غبار پوښلې وه، ګرد د روږدو نفس داسې بندولو لکه د ډيزلي موټر دود چې سترګې سوځوي، لوړې انسان دومره کړوه لکه له حده پورته تګ، دا وخت به د طالبانو د تېرې دورې لوږه او سختی یاد ته درتللې.

نړدې غرمه وه او لوږه هم دومره زیاته وه چې حس به مو کاوه چې له پوښتیو ښکته د وجود د پورته کولو له پاره نور هېڅ شیمه او انرژی نه شته، یوه ملګري راته وویل: کله چې لوږه له حده ډېرېده نو د ناجو له ونې پاڼې وشکوه او ویې خوره، څو ورځې مې همدا کار وکړ، سمه ده چې تر یو حده

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په مې د مړښت احساس وکړ، خو د ناجو تریخ خوند د (Dry Jain) د شرابو یادونو ته بېولم، چې ډېر بد بویه، خوا بدوونکی او وحشتناک و.

له پينځلس ورځو وروسته به د روږدي بدن داسې پاک او وږی شو، چې د نهنگ په څېر به يې خوله خلاص کړه او په اشتها به راغی، روږدي د هغه بارداره مېرمنو په څېر وو چې کله به يې د زړه يخ والي په پار ځلوبی زړه ته کېدې، کله کلچې، کله غوړه ډوډۍ او کله هم قروت چې هېڅ شتون يې نه درلود او پيدا کول يې ناممکن وو.

په خوړنځي کې به يې ناروغانو ته درې وخته خواړه ورکول، لومړی برخه، دويمه برخه او درېيمه برخه، دردوونکې دا وه چې تاکل شوې وه چې د يوې ورځې په درېيمه برخه کې دې يوه ناروغ ته خواړه ورکړل شي، هره ورځ مو د ډوډۍ له پاره شېبې شمېرلې، وخت او د وخت له تېرېدو يې زړه را تور کړی و، سرې ورځې د سرو لښتو په څېر هره ورځ پر موږ تېرېدلې او موږ په يخه هوا کې د ژمي سړې ورځې د يوې پيالې گرم چايو او يوې کاسې گرمې ډوډۍ په انتظار تېرولې...

يوه ورځ د خوړنځي په درېيمه برخه کې زموږ د ډوډۍ نوبت و، دومره وږی شوی وم چې نور مې لوږه نه شواى زغملی، پر متيازو ناولې او له سپړو ډکې جامې چې شايد وړاندې له ما يې هم د زرگونو نورو روږدو درد او بدبختی تجربه کړې وې زما په تن وې، د متيازو بوی يې دومره تېز و فکر مې کاوه چې له ما نه مخکې څو تنه ستومانه، ډنگر بدنه او کم خونه روږدي د خپل روږديتوب پر وخت کې د ډېر خمار او درد له امله ميتازې په خپلو پرتېرونو کې کړې دي ورباندې وچې شوې دي او وروسته جامې له فرد فرد نه همداسې مسلسلې زما په برخه شوې دي، له تنې پورته ساحه چې د

روړدو د کانگو له امله داغ داغ شوې وه، خو لنډه دا چې ټولې مردارې وې. همدا جامې زما په تن وې، حس مې کاوه چې د اشغال دانۍ په یو سطل بدل شوی یم، داسې تصور مې کاوه چې کله په لاره ځم زما له څنگه تېرېدونکي کسان به حس کوي چې تشناب پاکوونکی موټر یې له څنگ تېرېږي، شرمېدلم، پرته له دې چې پوه شم ټول زما په څېر له همدې ډول جامو او خیرو سره مخ دي، شپېې مې شمېرلې او درې ډېر نږدې ملگري مې درلودل: اسد، فرید او مکرم.

د لوړې پر وخت اسد کیسه کوله، زه د پاکستانۍ کړايي غوره آشپز یم، وروسته مې لیدل، چې د پاکستانۍ کړايي د نوم له اخیستو سره د فرید او مکرم له «خولو» مردار لعابونه رابهر شول، فرید چیغې وهلې چې نور بس کړه... داسې کیسې مه کوه، ځکه چې موږ یې د اورېدو توان نه لرو.

وچه ډوډۍ ناوخته راورسېده او موږ د خوړنځي په درېیم نوبت کې و، کله چې د خوړنځي دویم نوبت پیل شو فکر مې کاوه چې زه به هغه ریکارډ لرونکی یم چې د لوږې له لاسه مرم او زما قبر به لومړنی قبر وي، په خپل چپرکټ باندې د بې ساه مړي په څېر پروت وم چې یوه هیله ښښونکي غږ په هوښ کړم: جعفر، جعفر کار کوونکیه، د نهمې شمېرې کوټې هلکان د خوړنځي له پاره چمتو کړه، چې نوبت یې رارسېدلی دی.

د خوړو په خاطر داسې حالت ته رسېدلي وو لکه مجنون د لیلا په غم کې، له دې خبرې سره داسې وغوړېدو لکه دې ورکې لیلا د پیدا کېدو زېرې چې راباندې شوی وي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بیا هم د تېر په څېر د برونزي کارتونو په شمېرلو دوه، څلور، شپږ، اته تر اتیاوو پورې حساب پیل شو او وروسته مو د وزن لوبې د اسونو په څېر خانونه خطا کول، خو توپیر دا و چې د اسونه او اس ځغلوونکي د لوبې په میدان کې غښتلي وي، مگر موږ سخت کمزوري او بې انرژۍ وو، تېل ما تېل او کش گیر به مو پیل کړ او همداسې په چیغو به خوړنځي ته داخلېدلو، وچه سره ډوډۍ، وچې وریجې او زموږ وچې گېډې... موږ درې ملگري به همېشه نږدې سره کښېناستلوو.

په ډوډۍ خوړلو مو پیل وکړ، په آخر کې مې یوه لمړۍ ډوډۍ په لاس کې راواخیسته، له همدې لمړۍ سره را روان شوم، کله چې له خوړنځي څخه رابهر کېدلم، همدا لمړۍ چې غوښتل مې خولې ته یې واچوم او ویې خورم، په ناڅاپي ډول د یوه خدمت گار لاس زما خولې ته راغی، راته ویې ویل: واچوه دا ډوډۍ همدلته، اجازه نه شته چې خواړه د باندې وباسی...

په داسې حال کې چې غوښتل مې خپله ژوول شوې مړۍ گېډې ته ښکته کړم، همدا وخت یې برید راباندې وکړ، په ناڅاپي ډول مې دوه کلک سوکان پر سر وواهه، له دې سره نورو رضا کارانو پرما حمله وکړه، څو ما وډبوي، د خلکو په گڼه گوڼه کې مې وکولای شول چې د دوی له منگولو څخه ځان وژغورم.

په زړه کې مې وویل: څه وحشي مجرم یم، چې د خوړنځي له مېز څخه د باندې د ډوډۍ خوړلو حق نه لرم، د ناروغانو په گڼه گوڼه کې له خوړنځي ښکته راغلم د روغتون یو کار کوونکی چې «عینکې» یې په سترگو وې، چیغه یې راباندې وکړه، هې ودرېږه! ته د هېرئینو نشې نه یې کمزوی کړی، چې څنگه رانږدې شو، پرمخ یې په څاپړه ووهلم، دا وخت مې د یوازېتوب

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

احساس وکړ، خو له نېکه مرغه څو کسانو سپین ږیرو غږ ورباندې وکړ، چې مه یې وهئ.

په لوړ غږ مې وویل: ایا د خپلې ډوډۍ خوړل هم جرم دی؟ غوښتل یې چې بله څاپړ مې هم ووهي، په همدې کې یو قوي لاس زما لاس ته راغی، زه یې اېخوا ته ټېله کړم او د هغه کس په سینه یې په ډېر فشار سره وار وکړ، له سترګو مې د اوښکو مرۍ څپې رارواني وې او زړه مې ډېر سخت ډک و، د بې قانونۍ په نړۍ کې چې یو څوک ستا دفاع وکړي او په یوه قوي لاس ظالم ته سزا ورکړي، دا بیا بېل خوند لري، د یوه روږدي له پاره به داسې صحنه ولې په زړه پورې او خوږه نه وي چې یو مغرور انسان مخابره په لاس کې پرتا باندې برید وکړي او یو څوک پیدا شي، داسې یې وځپي چې په خپل عمل باندې یې پښېمانه کړي؟... هغه قوي لاس چې زما لاس یې نیولی و، ومې لیده چې د یوه ښه هیکل لرونکي ځوان و، د دې ځوان پرتن د پولیسو جامې وې، تومانچه او مخابره یې ترڅنګ وو او په ټوله مانا نظامي و.

د آسمان خواته مې وکتل، په ډېر ژور فکر کې تللی وم، داسې غږ مې حس کړ چې وایي: نستوه! خدای دې څومره مهربانه دی، په زړه کې مې وویل: هو هغه خدای لکه څنګه یې چې ویلي دي چې «په لوږه کې ډوډۍ او په وېره کې یې خوندیتوب راکړی.»

ځوان پولیس په پرېکنده غږ سره برید کوونکي کس ته وویل: پوهېږې دا څوک دی؟ هغه خبریال دی چې یو عمر یې د حقایقو د بیانولو په پار مبارزه کړې ده، که ووایو چې نوموړی یو خبریال نه دی، بالاخره یو ناروغ خو دی، بیا ته څه حق لرې چې دوی ووهې؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

برید کوونکی کس په داسې حال کې چې نشه یې له سره الوتې وه. د هغې بزې په څېر چې له زمري څخه وېرېدلې وي په خپل ځای ولاړ و. د پولیسو افسر وویل: زه قوماندان ذبیح نومېږم، قوماندان واحد چې د زر بستر روغتون د پولیسو د سرتېرو مسئول و راته وویل: راځه له ماسره. ټولو روږدو زما خواته کتل چې څومره اغېزمن شخصیت شوی یم، په داسې حال کې چې لاس مې د هغه په لاس کې و راته ویې ویل: بیا هم روږدی شوی یې؟

زړه مې ډېر ډک او ستونی مې ونیول شو؛ له خپلو جامو نه شرمېدم، ځکه ککړې او بد بویه وې، نظامي ځای ته چې نږدې کېدم، همدلته مې د ده په سترګو کې لویه مهرباني ولیده او په حرکتونو کې یې ځواکمنه مېړانه لیدل کېده، له سرتېرو څخه یې یو تن مېوه راوړه او ویې ویل: زما په پیاله کې نستوه ته چای واچوئ، په ډېره مهربانۍ او زړه سواندۍ سره یې خپل مخ زما خواته راوګرځاوه او ویې ویل: تا په دې دېرش مېلیوني لوی هېواد کې ډېر خدمتونه کړي دي او د دې دېرش مېلیونه کسانو په مینځ کې داسې کسان شته چې له تاسره مینه لري، په دې شرط چې روغ شې او روغ پاتې شې، وروسته یې د اغوستلو له پاره یوه جوړه پاکې جامې او یو جوړ ښه بوټ راوړل، د پاکو جامو بوی مې چې په دماغ ولګېده په زړه کې مې وویل: اوس دې د زباله دانیو له «جامو» څخه نجات پیدا کړ.

جامې مې واغوستلې او وروسته یې بېرته خپلې کوټې ته راوستلم، له مننې پرته مې د هغه له پاره نور څه نه شوی کولای، له خپل خالق څخه ډېر شکر ګذار وم، چې هغه یې په دې ګډوډ حالت کې زما له پاره د ژغورنې د یوې پرښتې په څېر راوسته، د نجات هغه پرښته چې ځوانمردي یې په

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

عمل کې راته ثابته کړه، خپلې کوټې ته چې ورسېدم، دوه دانې منې مې له خپلو هماغه صمیمي ملګرو سره تقسیم کړې، ومو خوړې او په تولیزه توګه مو قوماندان ته د دعا لاسونه لپه کړل.

د روږدیتوب او درملنې په وخت کې دا لومړی کس و چې د بدبختیو او دردونو په اوج کې یې له ما څخه دفاع کوله او ماته یې د مېرانې ویاړ را وبانسه، په زړه کې مې وویل کومه ورځ چې له روغتون بهر شوم او روغ شوم بېرته راځم او د قوماندان لاسونه ښکلوم. دا د الله تعالی څومره لویه مهرباني ده چې په مرګوني او ساه اخیستونکي حالت کې یې زما د دفاع له پاره د نجات داسې پرښته رالېږي څو ما د هغو کسانو له منګولو وژغوري چې یوازې له ناروغانو سره ناوړه چلند او زور زیاتی کول یې زده دي.

شپه ډېره سړه وه او ساړه په یوه ډاروونکي څناور اوښتي و، داسې احساس به مو کاوه چې د برچې په څېر زموږ په بدن ننوځي، لوړه پخپل وروستي حد کې وه، سړې هوا هم زموږ بدن ډېر سوځوه او موږ ناروغه روږدو د سړې هوا او لوږې له امله ساه اخیستونکې او له زړه تنګون ډکې شپې په ډېر بد حالت کې تېرولې.

نسوارو د هغه درملو په څېر زموږ د زړه تنګون شپې له منځه وړلې او موږ یې له مرګ څخه ژغورلو، یا هم په ښکاره توګه که ووایم: نسوار هغه درمل و چې کولای یې شوای د هغه ستومانه او مات شویو روږدو له زړه تنګون او له تیارې څخه ډک ژوند څخه توره پرده پورته کړي او په یوه روښانه شمع یې بدل کړي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نسوارو ډېرې وخت د سیګرېټ تشه بنه ډکوله، یوه شپه مو نسوار خلاص وو، په ټوله کوټه کې مو وکتل، پیدا مو نه کړل، وروسته لومړی (B) بلاک ته ورسېدم، چې د چک چکو غږ مې ترغوږ شو، د ننه شولو ګورو چې یو لوړ شاوخوا اتلس کلن ځوان په میدان کې ناڅي او شاوخوا سل کسان ورته لاسونه پړه کوي، یوه کس د غوړیو په بوشکه باندې چې اوسمهال د اوبو له پاره ترې کار اخیستل کېږي دنبوره وهله او یوه بل کس هم پرمېز باندې تبله وهله او یوه بل ځوان په لوړ غږ سندره ویله:

اله بــــــچه جانم اله بچه

جانم فـــــدای بچه اله بچه

جانم اوبچه تمام جانم بچه

بچه جانم، جان بچه قربان

چـــــــشم های بچه

اله بچــــه جانم بچه ...)

او څو نور هلکان په ټول توان سره ګډېدل.

هغه ملګری چې له ما سره راغلی و، ورته ومې ویل: راځه یو څو شېبې همدلته پاتې شوو، هرڅه چې دي له غم څخه به مو لږ لرې کړي او لږ به خوشاله شوو.

غږونکو دومره بنه طبعي دنبوره غږوله تا به ویل چې څه تکړه او لوی لاس دنبوره غږونکی دی، چې په خپلو جادویي ګوتو دنبوره غږوي، تبله

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

غړوونکی په پوره مهارت سره تبله وهله، د هغه سور او لی يې په دومره ښه ډول برابرول لکه دې تبلې ښوونکی چې تېر شوی وي، د دنبورې غړوونکي مهارت هم د ستايلو و، هلکانو هم داسې نڅا کوله لکه ټول عمر يې چې د نڅا تمرين کړی وي، د سندرو او ټپو خوند بيا بېخي بېل و...

د کوټې په وروستۍ برخه کې يو ځوان ناست و، هلک به ورنږدې شو، هغه به د خپلو لاسونو په اشارې سره نوموړی وپوهوه او وروسته به هلک بېرته ميدان ته راغی، لاس او پښې به يې نځول او د استاد زرياب د رومان په ياد چې ويل يې: گلنار و آينه افتادم که اگر آينه ی بزرگی در مقابل بچه می گذاشتی تصويرش را در آينه از پا در می اورد.

هلک ډېره ښه پيته خوله او سپينه څېره درلوده، چې تراوسه پورې يې پرمخ د ږيرې او برېتو خطونه هم نه ښکارېدل، سرې شونډې، تورې سترگې او سرې وروځې يې درلودې، چې د هر ليدونکي پام يې ځان ته اړوه، په کوټه کې شاوخوا ناستو کسانو ته مې چې وکتل، هر يوه په هره سندره کې هلک هلک چيغې وهلې.

کله به چې هلک کوم يوه ته نږدې شو، په لوړ غږ سره به يې ويل: ننبه دې وويشته، اره دې کړه، اور دې واچاوه، پطرول دې کړل، درد او بلا دې په نويو راغلو ناروغانو او .....

په زړه کې مې ووېل: دغه ټولې چيغې، غړونه چې پورته کېږي شايد د همجنس بازی وي، سربېره پردې چې کانگريتې دېوالونه دي خو بيا هم په هوا کې غړونو انعکاس کاوه او له منځه تلل لکه چې وايي: مال دار بچه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مال بچه خیلی بی جنجال بچه گل دوز است وقالین باف صاحب کمال بچه مال داربچه صاحب کمال بچه و....)

ملگري ته مې وویل څه چې ځو دلته خو د نجلۍ هېڅ څرک هم نه شته او د نجلۍ له پاره کومه سندره هم نه ویل کېږي.

که څه هم د فنېکس ډاکترانو د بچه بازۍ له محفلونو څخه ډېره کرکه درلوده، خو روږدو هم په فنېکس کې له فرصت څخه ګټه پورته کوله او داسې کار به یې کاوه چې حد پرې تمام و، د ښه کېدو او رغېدو په حالت کې وم چې یوه ورځ د احمدزي په نوم یو هلک راته راغی او ویې ویل: زه غواړم چې تا د فنېکس په حمام کې د رضا کار په توګه ونیسم، ځو د روږدو نومونه د حمام په کتاب کې ورسوې.

په ډېره مینه مې دا کار ومانه او ورته ومې ویل چې ترسره کوم یې، څو ورځې مې دا کار ترسره کړ احمدزی رخصت شو او زه د احمدزي په ځای د حمام مسؤل شوم، فنېکس د یوه ستر ښار په څېر دوه لویې ځوکۍ درلودې چې د روږدو له پاره د خوړنځای او حمام ځوکۍ وې، که کوم وخت وغواړې چې دې موقف ته ورسېږې نو دا په دې مانا ده چې ته د زړګونو کسانو له منځه ډېر ځانګړی کس یې او ما کولای شول چې دې موقف ته ورسېږم.

د حمام مسولیت وروسته زما په وجود کې یو تحول رامنځته کړ، هره ورځ سهار باید حمام ته تللی وای او د حمام له رضاکارانو سره مې باید جلسه نیولې وای، د نوي پروګرام او برنامې طرحه به مې ورکوله، چې څه کارونه

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

باید ترسره کړو، څو زموږ خدمتونه ښه شي او د حمام د خدمتونو په برخه کې به هره ورځ له شلو، پنځوسو او تر سلو کسانو پورې زیاتېدل.

وروسته له دې چې زه د فنېکس د حمام مسؤل شوم، هره ورځ په اوسط ډول اووه سوه کسانو حمام کاوه، ورځې ډېرې ښې پرمخ تللې، کله به یې چې د راتوولونې په پروسه کې تازه روږدي راوړل، هغوی به یا د خولې له لارې او یا هم له کومې بلې لارې په ګټه اخیستنې له ځان سره د فنېکس سیستم ته نشه یي مواد د ننه کول، چې وروسته به زما د فعالیتونو په پایله کې نیول کېدل او رئیس ته به ورسپارل کېدل.

په ټول فنېکس کې آوازه خپره شوې وه چې نستوه پرته له دې چې مواد لېږې واچوي مواد نیسي او تسلیموي یې، چې دغه بهیر کرار کرار زه د روږدو، ډاکترانو او د روغتون د کارکوونکو په مینځ کې مطرح کړم، وروسته مخکې له دې چې نوي راوستل شوي کسان خپلو کوټو ته لاړ شي، زه به له دوی سره د لسو دقیقو له پاره کېښناستم او انګېزه ورکوونکې خبرې به مې ورته کولې، څو دوی مطمئن شي او له دې ناوړه ناروغۍ څخه ځانونه وژغوري.

زما دغه کار د فنېکس معالجوي مرستیال ښاغلي کوشان ته ډېر ارزښتناک تمامېده، زه د روغتون په لومړي پوړ کې کرار کرار د روغتون لوړ رتبه لرونکو ته مطرح او مشهور کېدم، زما څلوېښت ورځې تېرې شوې، یواځینی کس چې زما پوښتنې ته روغتون ته راتله او ماته یې انګېزه او روحیه راکوله هغه زما د هاشم ماما زوی بهمن و، کومه ورځ چې رخصتېدلم، بهمن راغی او ویې ویل: «که یوه هیله او غوښتنه درڅخه وکړو چې یوه بله پینځه څلوېښت ورځنی دوره هم دلته پاتې شې منې یې؟»

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورته ومې ویل: هو! په ډېره مینه، دویمه دوره هم پاتې شوم، بالاخره سل ورځې د پای ته رسېدو په حال کې وې چې یوه ورځ د روغتون ټول لوړ رتبه مسؤلین ډېر فعال شوي وو، دوی راته وویل: ښاغلی وزیر صیب راځي چې د یوه روغتون پرانیسته وکړي، ما خپل ځان د روغتون رئیس څنګ ته ورساوه او ورته ومې ویل: رئیس صب! په همدې ورځ روږدي هم رخصت کېږي، لکه چې د پرانیستې په ورځ وزیر صیب هم راځي، ایا اجازه راکوی چې د روږدو په استازولۍ یو څو خبرې وکړم؟.

سربېره پردې زړه نا زړه و چې د دریځ پر سر کومه غلطه خبره ونه کړم، بالاخره یې ومنله، د پرانیستې ورځ راورسېده او دې خبرو زما برخلیک بدل کړ، په داسې حال کې چې حتا نه پوهېدم د عامې روغتیا وزیر څوک دی، د روغتون رئیس زه له یوه ډېر درانه، خوږ ژبي او جرار کس سره معرفي کړم، ورته ویې ویل: (ښاغلی سعیدالدین جامي د عامې روغتیا وزارت د عامه اړیکو رئیس دی) هغه له ماسره ډېر ښه چلند وکړ وروسته له یوه ځوان سره چې رحیم الله سیغاني نومېده او د روغتیا وزیر په دفتر کې یې کار کاوه معرفي شوم، په پیل کې مې له هغه پوښتنه وکړه چې د روغتیا وزیر څوک دی؟ ایا د هغه کوم انځور درسره شته؟ هغه په خپل مبایل کې د ښاغلي ډاکتر «وحید مجروح» انځور راښکاره کړ، لومړی ځل و چې د هغه څېره مې ولیده.

ومې ویل: ډېر ځوان دی.

ویې ویل: هو هم ځوان دی او هم ځوانې طرحې لري.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ښاغلي سيغاني راته وويل: هڅه وکړه چې له خيره روغ پاتې شې، څو د عامې روغتيا وزير صيب ته ووايو چې له روغتون څخه وروسته په روغتيا وزارت کې د کار زمينه درته برابره کړي.

په همدې موضوع باندې مو بحث کاوه چې ښاغلی ډاکتر وحيد مجروح محفل ته راورسېده، د پروګرام وياند يو تن اجتماعي کار کوونکی و او ډېره سخته ورته تمامېده چې يو روږدي راشي او د دريځ پر سر ويندويي وکړي، هغه لومړی د روغتون رئيس ته بلنه ورکړه، رئيس خپلې خبرې وکړې او وروسته يې زه دريځ ته وروبللم، کله چې دريځ ته پورته شوم د مار په څېر يې څو څو ځلې راته وويل: لنډې خبرې وکړه، لنډې خبرې وکړه، بالاخره ما هم ډېره لنډه وينا وکړه او ډېر ژر له دريځ څخه ښکته شوم، ډېر يو عجيبه حس راته پيدا شو چې په همدې حالت کې د روغتون يوه ډاکتر غږ راته وکړ: نستوه! کله مې چې وکتل، وزير زه خپل حضور ته وغوښتم، ټولو روږدو او ډاکترانو راته کتل، وزير څو لنډې خبرې راته وکړې ويې ويل: اوس چې روغ شوی يې، ته کولای شې چې د وزارت د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې سفير واوسې، کورته لاړشه چې پلار دې درته انتظار دی.

په دغه وخت کې چې لا مې لاس د وزير په لاس کې و، سترګې مې له اوښکو ډکې شوې، غوښتل مې چې وژاړم... اووه کاله مې پرته له ستوغو او بدو خبرو نور هېڅ هم نه وو اورېدلي، خو نن ورځ د افغانستان يو له لوړ پوړو وزيرانو څخه ماته ارزښت راکول کېده، زما له پاره يوه ډېره لويه لاسته راوړنه بلل کېده، د وزير له خبرو وروسته خپلې کوټې ته لاړم، خپله بړستن مې پرسر راکش کړه او د خپل حالت په اړه مې فکر وکړ، محفل پای ته رسېدلی و او وزير صيب زما په اړه هم خبرې کړې وې.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له محفل وروسته د ټولو لیدلوری زما پروړاندې بدلون کړی و، چې اوس وزیر یوه روږدې ته چې تېراښستونکي هم له هغه سره سم چلند نه کوي دومره ارزښت ورکړ؟... د هغه په اړه یې په خپلو خبرو کې یادونه وکړه؟...
زه له هغه محفل وروسته هم څو ورځې په روغتون کې پاتې شوم. څو زما د رخصتېدو ورځ راورسېده، د پښه یي قوم ځوانانو زما په غاړه کې یو ګل واچاوه، دوه تنو ارواح پوهانو ښاغلي مسعود باوري او ښاغلي بګراموال هماغه ورځ له ماسره ګډ انځورونه واخیستل او له یو سل اووه لسو ورځو وروسته د ققنوس له دروازې څخه بهر شوم... له بهر کېدو سره سم ګورم چې له روغتون څخه د باندې هاشم ماما او انې مې راغلي وو. دا وخت مې د ماما خوشالي او د انې ځلېدونکې سترګې ولیدې، چې هېڅ وخت به مې د دوی خوشالي له یاده ونه وځي...

کله چې له دې دروازې څخه ووتلم، بیا مې شا ته هم ونه کتل. هرڅه بدل شوي و، هیله من وم او د ژوندي پاتې کېدو احساس مې درلود، که څه هم اووه کاله وخت مې په ډېرو ستونزو او کړاوونو کې تېر کړ، خو اوس مې پرېکړه کړې وه او د خپلو ماشومانو له پاره مې د پلارتوب او ژوند تصمیم نیولی و، ډېر وخت یې ونیوه څو خپل ځان ته قناعت ورکړم او د ټولو کړاوونو سره سره د خپلې ټولنې له پاره چې په ډېره ماتېدونکې حالت کې واقع ده ګټور واقع شم او لور مې هم پرما وویاړي.

زه یې خپل کورته راوستم، خور او مهربانه پلار مې چې زه یې ډېر منندوی او احسانمند یم زما د ماشومانو د درس ویلو له پاره یې په کارته چهار کې یو اپارتمان نیولی و، لومړی ځل و چې خپل نوي کورته راتلم، نیرو مشر زوی مې له اپارتمان څخه را ښکته شوی و او زما راتګ ته یې د انتظار

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شېبې شمېرلې، څکه مور یې ورته ویلي و: «پلار دې راځي روغ شوی دی». ډېر اوږد وخت او لیرېوالي هغه له ماشخه بیخي بې گانه کړی و، ډېره موده وشوه چې د خپلو ماشومانو مخونه مې نه و ښکل کړي او د هغوی له ښکلې مینې، عطرو او عاطفې چې د ژوند کولو له پاره یې هیله راکوله محروم وم.

لومړی هاشم ماما نیرو په خپل غېږ کې واخیسته ښکل یې کړ، چې وروسته یې زما خواته خپل ورک او ناروغ پلار ته په معصومه څېره راپام شو. کله مې چې ولیده خپل ځان ته کم راغلم او د وجدان له عذاب سره مخ وم زړه مې کېده چې وژاړم، ستونی مې ډک و، په غېږ کې مې واخیست. کلک کلک مې ښکل کړ او د بدن عطرناکه بوی مې یې حس کړ، لکه څرنگه چې د «کووېډ۱۹» ناروغ ډېر اکسیجن اخیستلو ته اړتیا لري، زما سره هم همداسې احساس مل و.

کله چې کورته د ننه شوم، مور مې، مېرمن مې او خور مې زما په لیدو سره ډېر احساساتي شوي وو، کورته بېرته زما راتگ پر خپلو ماشومانو باندې زما بغض له مینځه یووړ، هر یو مې په غېږ کې ونیوه او د یوازېتوب د ترخو ورځو په خاطر مو په گډه سره وژړل، زده کړو مې له ژوند نه کډه کړې وه او په کافي اندازه د مور د لاس له پخلي او د مېرمنې له مینه ناکې غېږې څخه لرې پاتې شوی وم.

د وخت او حالاتو غوښتنه وه چې هرڅه باید له سره پیل کړم، پوهېږم چې د هغه شېبو جبران چې نه وم اصلاً ممکن نه دی، خو هوډمن وم چې د کورنۍ د خوښۍ له پاره مې له ډېرې کوچنۍ هڅې هم دریغ ونه کړم، درد مې گاللی و، مات شوی وم، ډېر دردونه مې چوپه خوله تر پلونو لاندې، د روغتونونو د دوه نفره چپرکټونو پرسر تېر کړي وو، کله مې چې فکر کاوه او

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سترګې به مې پټې کړې نو په یاد به مې راغلل چې زر ځلې مړ شوی یم او بېرته خپل ژوند ته راګرځېدلی یم، خپل ځان او هغه شپبو ته چې ما بې ځایه تېرې کړې وې ډېر خوابدی کېدم.

ډېره سخته او د ننګ خبره ده چې یو څوک د شهرت له هغه اوج څخه دومره ژر پر ځمکه پرېوځي چې حتا شخصیت ته یې زیان ورسېږي، دا هر څوک نه شي زغملی، خو زه له هغو سختیو تېر شوی وم او پر ځان مې ویاړ کاوه، چې تر دې ځای پورې مې ځان را ورساوه او بالاخره مې لاس د ژوند روښانه ګهیځ ونیوه.

بهمن زما د ماما زوی دی، نوموړي له ماسره په ژوند کې ډېره مرسته او همکاري کړې ده، لومړی ماته یو ډېر ښه مبایل واخیست، څو وکولای شم ټولنیزو رسنیو ته سر ورښکاره کړم، له یوې مودې وروسته مې د عامې روغتیا وزیر ته یو پیغام (مېسج) ولېږه، فکر مې کاوه چې امکان لري ځواب را نه کړي خو بالاخره یې ځواب راکړ او څو ورځې وروسته یې کاري دفتر ته ورغلم، زما یې ډېر قدر او عزت وکړ.

ورته ومې ویل: له بې کارۍ څخه ډېر سخت ځورېږم، اووه کاله بې کارۍ زه ډېر مات کړی یم خو که کوم مصروفیت راته پیدا شي کولای شم بېرته متحرک شم، یواځینی څیز چې د روږدیتوب له پرېښودو وروسته د یوه روږدي له پاره با ارزښته دی هغه د یوې بوختیا او کار پیدا کول او له بې کارۍ څخه خلاصون دی.

ښاغلي وزیر صیب زه د عامې روغتیا وزارت د عامه اړیکو دفتر کې د کار کوونکي په توګه په دنده وګومارلم، وروسته له هغه مې خپل کار پیل کړ، ښاغلي سعیدالدین جامي زما رئیس او ښاغلي توحید شکوهمند په دفتر

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کې له ما څخه ډېر ښه هرکلی وکړ، ما هېڅکله هم ونه شوی کولا چې د روغتیا له وزیر ښاغلي «ډاکتر وحید مجروح» څخه د دې کار په پار مننه وکړم... ښه خبره داده چې دلته د نوموړي له ټولو مرستو مننه او قدرداني وکړم، ځکه د هغه نظر، ملاتړ او هڅونې زما ژوند بدل کړ او د دې سبب شو څو نوی ژوند پیل کړم...

همدا ژوند دی چې د سترګو په رپ کې له ستونزو او خوښیو سره تېرېږي، په هر حالت کې چې وو، موږ باید د مثبت او ښه ژوند په لټه کې واوسو، کلونه زحمت باسو څو یو شی له موږ څخه جوړ شي خو وروسته په یوه توطیه او یا کومه خبره باندې ټول په ایرو بدلوو، چې جبران یې شاید په ژوند کې ډېر سخت وي، ایا څوک به وروسته له اعتیاد - روږدیتوب څخه خپل کورته بېرته وګرځي که نه؟ دا ترډېره د انسان په چانس او استقامت پورې اړه لري، ما خپله ولیدل چې زموږ د سترګو پروړاندې ډېری خلک د روږدیتوب له ډېر ژور درد څخه د کثافاتو او تر پلونو لاندې مرداریو کې خپل ژوند له لاسه ورکړ... ستاسو درنو لوستونکو له پاره زما خبره او پیغام دادی چې د خپل ځان او کورنیو په وړاندې مو ډېر مسؤلیت منونکی چلند وکړئ، ځکه چې کوچنی تېروتنه تاسو د ژوند تیارو او بدبختیو ته بیایي او عادي ژوند ته د بېرته راګرځېدو له پاره بیا شاید ډېر کم چانس ولرئ، خپل راتلونکی جوړ کړئ او پرخپل ژوند باندې مسلط واوسئ، ستاسو قصدي بې پروایی او سرغړونې کولای شي چې هرڅه درڅخه واخلي او بالاخره د دنیا او اخرت له ذلت سره مخامخ شی.

پای

نستوه نادري

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نستوه د ملګرو له نظره

نستوه نادري

ډیر خلک له دې نوم سره د نورین ټلویزیون له لارې اشنا شوي دي. زه هم ورسره له همدې ادرسه اشنا شوی یم، زه یې د دې زمانې په مقطعي شخصیت نه تم کېږم، ځکه چې ټول ورسره اشنا یاست. زه چې له نستوه سره کومه عاطفي اړیکه لرم هغه له روږدي کېدو او رغېدو وروسته اړیکه ده. یو زوی نستوه، یو پلار نستوه او بالاخره یو قهرمان نستوه!

ممکن دلیل به یې دا وي چې زه هم د یوې لور او زوی پلار یم؛ همدا راز مېرمن لرم، په همدې خاطر پوهېږم چې یوه پلار او خاوند ته د راجع مسولیتونه څومره سنګین او درانه دي.

ما چې کله د نستوه نادري (پل سوخته آخر دنیا) کتاب په کومه شپه لوست، له پیله ورسره وم، د روږدي کېدو داستان یې دومره تریخ او له کړاوونو ډک و، چې له ده سره مې یوځای ژړل... پل سوخته ته نږدې په موټر کې د لوړې او بې وسی له لاسه د ترمو اوښکو تاو یې زما روح ته ټکان ورکړ، په روغتون کې مې یې تر خیرنې کمپلې لاندې سلګی اورېدلې، ما یې د نیایش، نیرو او ورینداري په حق کې د وجدان په پنجره کې د ملامتیاوو د منلو کریغې اورېدلې، د بیا رغېدو د فولادي ارادو، ماتو او بیا ارادو قوت مې یې حس کاوه... خلاصه هر درد یې دردولی یم او بالاخره د رغېدو بریا ته مې یې د خوشالی اوښکې توی کړې او د نستوه کلک هوډ ته له زړه سلامي شوی یم، افرین مې وربانديې وویل.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زه د نیایش، نیرو، وریندارۍ او کورنۍ لپاره بیا ژوند ته راستون شوی نستوه پېژنم، هو یو قهرمان او ګل نستوه نادري!

کتاب مې نیمه شپه خلاص کړ. د حیرانتیا، خفګان، خوښي... نه پوهېږم څه ډول احساس مې کاوه خو په پای کې یوه خبره روښانه شوه چې افرین نستوه! ارمان مې کاوه چې ای کاش همدا اوس دلته راسره وای چې ښه کلکه غېږه مې ورکړې وای، په اوږو مې ټپولای وای او ښه ډېر مې ورته ژړلي وای، ښه ډېر شاید د بریا لپاره یې او یا شاید د هغه وخت د جبران لپاره چې هېڅوک ورسره نه وو چې اوښکې یې ور پاکې کړې وای...

عمر ستانکزي، د نستوه صیب همکار او اوس د (پل سوخته آخری دنیا) ژباړن ته مې مېسج وکړ چې غواړم نستوه صیب له نږدې ووینم. ویل یې په دواړو سترګو سبا راشئ. سبا ورغلم، تلوسه مې وه چې ژر ورورسېږم، په غېږ کې یې ونیسم او ورته ووایم: {مننه نستوه صیب}، ډېره مننه! په زړه کې مې ورته د درناوي موجونه په څپو وو، ورورسېدم، خو له بده مرغه په لید یې بریالی نه شوم، ځکه نوموړی په شمشاد تلوېزیون کې مېلمه و، ځینې کتابونه مې له ځان سره وړي وو، ستانکزي صیب ته مې وروسپارل - سلام، مینه او درنښت مې ورته امانت پرېښودل.

بیا خبر شوم چې زموږ ځوان او تکړه ژباړن عمر ستانکزی یې کتاب ژباړي. خوښ وم بیا قسمت وګوره چې دلته د نستوه صیب لپاره د زړه د خبرو د لیکلو فرصت راته مساعد کړای شو. د نستوه نادری په اړه ډېر څه لیکل کېدای شي، واقعاً ناممکن یې ممکن کړي او شخصاً زه ورته ډېر احترام لرم، هیله ده ځوانان د نستوه صیب هوډ د خپل ژوند الګو وګرځوي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

او د ژوند سختیو ته زړه ونه غورځوي؛ سمه ده ژوند به سخت وي خو که د نستوه صیب غوندې هوډ ولرو بریا به زموږ وي.

په پای کې له محمد عمر ستانکزي مننه کوم چې یاد اثر یې په دومره کم وخت کې را پښتو کړ.

کور اباد!

مننې، مبارک او لا بریاوې

منتشر شاهي

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د ترلاسه کولو ادرسونه:

کابل

سروش کتابپلورنځی / ۰۷۸۵۲۰۰۲۱۲

اکسوس کتابپلورنځی /۰۷۹۸۹۸۹۶۹۶

علمي کتابپلورنځی /۰۷۷۴۰۰۰۵۸۴

بدلون کتابپلورنځی، احمدشاه بابا مېنه

۰۷۸۶۷۱۷۱۲۸/

جریر کتابپلورنځی، احمدشاه بابا مېنه /

۰۷۶۷۵۰۶۱۰۶

کندهار

مطالعه کتابپلورنځی /۰۷۰۰۸۹۹۶۹۰

کروړ کتابپلورنځی /۰۷۰۴۱۷۸۷۶۲

صداقت کتابپلورنځی /۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴

رشاد کتابپلورنځی / ۰۷۰۰۳۳۴۷۸۴

افغان کتابپلورنځی / ۰۷۰۰۳۶۹۹۰۰

جلال آباد

مومند کتابپلورنځی /۰۷۸۱۶۲۶۱۶۱

میهن کتابپلورنځی / ۰۷۸۰۹۲۰۵۷۴

ختیځ کتابپلورنځی /۰۷۸۷۴۱۲۰۵۰

یارکتابپلورنځی /۰۷۹۷۱۳۱۶۱۷

دوست کتابپلورنځی / ۰۷۸۰۵۱۱۱۱۶

سهار کتابپلورنځی/۰۷۶۷۰۴۸۹۰۸

خوست

ژوندون کتابپلورنځی / ۰۷۸۰۵۹۰۵۴۴

شیخ زاهد کتابپلورنځی / ۰۷۷۰۹۲۹۹۰۴

لېوال کتابپلورنځی / ۰۷۷۷۱۳۸۲۳۷

رڼا کتابپلورنځی / ۰۷۷۶۴۱۸۸۹۲

سباوون کتابپلورنځی /۰۷۳۱۵۵۱۹۲۸

قریشي کتابپلورنځی / ۰۷۷۱۹۵۰۳۰۱

رحیمي کتابپلورنځی / ۰۷۷۷۰۷۲۲۱۰

غازي کتابپلورنځی /۰۷۷۷۰۰۹۶۳۶

ولوله کتابپلورنځی

پکتیا

روحاني بابا کتابپلورنځی / ۰۷۹۲۰۴۸۰۳۲

ماشاالله کتابپلورنځی / ۰۷۸۹۶۳۱۴۲۴

علمي کتابپلورنځی / ۰۷۷۴۰۰۰۵۸۴

دوست کتابپلورنځی / ۰۷۸۰۵۱۱۱۱۶

لوګر

عتیق الله نیازي کتابپلورنځی / ۰۷۷۲۲۳۳۴۹۴

غزني

انصاري کتابپلورنځی / ۰۷۸۶۱۸۰۱۵۸

جدید کتابپلورنځی / ۰۷۸۸۱۰۱۰۷۱

امام غزالي کتابپلورنځی / ۰۷۷۱۴۵۳۸۶۱

زابل

حفیظي کتابپلورنځی / ۰۷۰۰۰۳۵۸۸۸

خیر خواه کتابپلورنځی

پکتیکا

مجاهد کتابپلورنځی / ۰۷۷۲۲۸۸۹۹۳

پکتیکا کتابپلورنځی / ۰۷۷۵۵۰۶۸۸۸

شال کتابپلورنځی / ۰۷۶۴۹۶۹۸۹۳

مزارشریف

ثقافت کتابپلورنځی / ۰۷۷۷۰۵۸۹۹۹

شمال کتابپلورنځی /۰۷۸۲۵۲۸۶۹۴

کندوز

مشال کتابپلورنځی /۰۷۸۰۴۸۰۴۸۴

هلمند

تاج منور کتابپلورنځی / ۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴

ګوهر کتابپلورنځی /۰۷۴۴۴۳۴۴۰۷

پېښور

کتاب کور / ۰۰۹۲۳۳۱۹۸۰۱۶۰۰

قلم کتابپلورنځی / ۰۰۹۲۳۱۶۵۰۵۰۵۷۸

کوټه

تکتو کتابپلورنځی/۰۰۹۲۳۱۵۸۸۵۹۰۸۵

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary